میاشتنی
# پښتون
جون ۲۰۰۶ء
چیف ایډیټر
رحمت شاه سائل
پېښور

## ازاد افغان پارلیمان د پاکستان دپاره یو سبق





په جرمنی کښې د پی ایس ډی پی له اړخه
د اسفندیارولی خان په ویاړ د جوړې شوې غونډې تصویرونه





بانی: باچاخان

میاشتنی

# پښتون

پېښور

چیف ایډیټر
رحمت شاه سائل

معاون: امجد شهزاد

فوټوګرافر: زاهد اعوان

کمپیوټر چارج: عبدالله

دریم دور - روسیے کـال شپږمه ګڼه جـــون ۲۰۰۶


| شمېره | لیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱- | اداریه | اداره | ۲ |
| ۲- | ازاد افغان پارلیمان.... | رحیم الله یوسفزئے/ روح الامین | ۴ |
| ۳- | د اسفندیار ولی خان دوره... | سیاسی رپورټر | ۷ |
| ۴- | د مسافر احساس (نظم) | افراسیاب خټک | ۹ |
| ۵- | عقیده مجاهده ده.... | ډی جی ټنډولکر/ محمود احمد | ۱۰ |
| ۶- | ایا پاکستان یو ناکامېدونکے... | لطیف اپریدے | ۱۵ |
| ۷- | د اجمل خټک شخصیت... | اسرار د طورو | ۲۲ |
| ۸- | د اجمل خټک وینا... | اداره | ۲۵ |
| ۹- | په ټکر جنګ دے | ډاکټر صابر | ۲۷ |
| ۱۰- | میثاق جمهوریت ماضی، حال... | فرهاد روشن | ۲۹ |
| ۱۱- | د پاکستان د منصوبه بندی... | جمال | ۳۳ |
| ۱۲- | د ډېورنډ په کرښه ازغن تار... | زرعلی خان موسی زئے | ۳۴ |
| ۱۳- | د بابا مشالونه | پروین ګل | ۳۹ |
| ۱۴- | د مشرف اخری ورځې | رحمان الله هومند | ۴۱ |
| ۱۵- | د قامونو په جوړښت کښې... | ډاکټر جبار خټک/ محب وزیر | ۴۳ |
| ۱۶- | سپېڅلی کردارونه | انور مانیروال | ۴۸ |
| ۱۷- | ستر لارښود عبدالولی خان | پروفیسر فرمان الدین بخشالی | ۵۱ |
| ۱۸- | د جنوبی سیمو دوره | میا افتخار حسین | ۵۵ |
| ۱۹- | د پښتنو اصل نسل... | سعدالله جان برق | ۵۹ |
| ۲۰- | د روایت محاذ | لیلا شبنم | ۶۲ |
| ۲۱- | د درد ګویانه ژبه | شیرین زاده خدوخېل | ۶۵ |
| ۲۲- | نظمونه | قمر راهی، ډ/همایون هما | ۶۹ |
| ۲۳- | غزلونه | اسرار د طورو، رحمت شاه سایل، پروفیسر صفدر، عثمان علی عثمان | ۷۰ |
| ۲۴- | تول جوک | غنی خټک، فرمان | ۷۱ |
| شاعری | | داود بخت مندوخېل، سمسور اتمانخېل | |


ګډون بیه:

پاکستان:

د یوې ګڼې بیه: ۳۰ روپۍ
د کال بیه: ۳۰۰ روپۍ

افغانستان:

د یوې ګڼې بیه: ۲۵ افغانۍ
د کال بیه: ۲۵۰ افغانۍ

یورپی هېوادونه:

د یوې ګڼې بیه: ۵ امریکایی ډالره
د کال بیه: ۱۰۰ امریکایی ډالر

خلیجی هېوادونه:

د یوې ګڼې بیه: ۸ یو اې ای درهم
د کال بیه: ۸۰ یو اې ای درهم

د خط او کتابت درک:
پی او بکس نمبر: ۳۰۲، پېښور
دفتر: باچاخان مرکز، پجګی روډ، پېښور
ټیلی فون: ۰۹۱-۲۲۵۲۴۰۴ - ۲۲۴۶۸۵۱-۳
فیکس: ۰۹۱-۲۲۵۲۴۰۲

چاپ خانے
مظهر پرنټنګ پرېس جنګی محله - پېښور

پبلیکشن سبل باچاخان ټرسټ

شروع کوم په نامه د خدائے چې ښه‌نونکے او مهربانه دے

ادارېه

# د جمهوریت میثاق

د مې د میاشتې په څوارلسمه نېټه په لندن کښې د پاکستان پیپلز پارټۍ او د مسلم لیګ(ن) رهبرانو بېنظیربهټو او نواز شریف په پاکستان کښې په اوږده موده کښې د جمهوری نظام جوړولو په هکله په یوه پروګرام دستخط وکړو چې خپله دوی ورته د جمهوریت د میثاق نوم ورکړے دے داخبره خوش ائنده ده چې د دوو غټو سیاسی پارټیو مشرتابه دا ضرورت محسوس کړو چې په ملک کښې د جمهوریت د بحالۍ او چلېدلو دپاره مفاهمت او تعاون په کار دے ځکه چې په ماضی کښې ددغې سیاسی مشرانو شخړو چې تقریباً ذاتی شکل یې غوره کړے ؤ. جمهوری عمل ته ډېر زیان رسولے ؤ په پورته ذکر کړے شوی میثاق کښې د ائین د بالادستۍ، سیاست نه د پوځ د وېشکلو، حقیقی او بلا تفریق احتساب، د بنیادی انسانی حقوقو تضمین او د اختیاراتو ښکته اولس ته د کوزولو غونډې روغې او سمې خبرې شاملې دی چې ورسره هېڅوک اختلاف نه شی کولے او خصوصاً هغه خلک چا چې ټول عمر د پوځی او سول امرانو خلاف او جمهوری نظام د بحالۍ دپاره په مبارزه کښې تېر کړے دے. په هېڅ وجه ددغو مقاصدو سره د اختلاف کولو تصور هم نه شی کولے نو ځکه ویلے شو چې که په دغه میثاق کښې د اوږدې مودې د جمهوری مقاصدو برخه د ټولو جمهوری قوتونو د نظر د اتفاق برخه ده خو ددې سره باید زیاته کړو چې میثاق جمهوریت ددې نه علاوه ځینې نور اړخونه هم لری

اوله خبره داده چې یوه دغه شان اهم دستاویز باندې دستخط نه وړاندې باید دا مسوده ټولو جمهوری سیاسی ګوندونو ته ورکړے شوې وے او د اولنی بحث دپاره په مېډیا کښې خوره کړے شوې وے ددغه شان بحث او مباحثې نه وروستو به دغه پروګرام یو قومی شکل غوره کړے وے او هر چا به ددې حمایت او تائید کولے دویمه خبره داده چې د صوبو د واک او اختیار په هکله په میثاق جمهوریت کښې راغلی دی چې صوبو ته جامع خودمختاری ورکول په کار دی خو جامع خودمختاری څه ته وایی؟ ایا پښتونخوا به د خپلې بجلۍ په امدن اختیار ولری کنه؟ د پښتونخوا د تماکو

پښکښ په صوبې ته راشي او کنه؟ بلوچستان به په خپلو تېلو او ګېس اختيار ولري او کنه؟ پښتنانه قبايل به د خپلو ښېښې کانو امدنې ترلاسه کړے شي او کنه؟ په ميثاق کښې د دغو ټولو سوالونو ځواب نشته او چې د ماضي تجربې په بنياد کښې ونيسو نو قدرتي خبره داده چې په پټو سترګو د هېچا سره مزل کولو ته تيار نه يو ددې نه هم زياته خبره داده چې د جمهوريت ميثاق نه د قومي حقونو څخه د محرومۍ په وجه په بلوچستان کښې د روان وسله وال جنګ ذکر کوي او نه هم په وزيرستان کښې د دهشت ګردو پرېښودلو او بې ګناه پښتنو قبايلو د وژلو د مخنيوي لوظ کوي دلچسپه داده چې ميثاق په درېم خل د چا په وزيراعظم کېدو باندې د بنديز د ختمولو غوښتنه کوي خو دغه دستاويز په ملک کښې دننه د پوځ لخوا د ملک په وګړو د هوا نه بمبارۍ او يا د توپو او ټينکونو په استعمالېدو خاموشه دی تاريخ ګواه دے چې په ملک کښې هر جمهوري تحريک د مظلومو اولسونو او قومونو د حقوقو د مطالبې نه شروع شوے دے او اصلي قربانۍ هم د وړو صوبو خلکو ورکړې دي خو چې کله رژيم بدل شوے دے نو هغوی بېرته هغه ځائے ته پېل وهل شوي دي د کوم ځائے نه چې هغوی مزل شروع کړے ؤ. ددې مطلب هر ګز دا نه دے چې پښتانه قوم پرستان به په جمهوري جدوجهد کښې خپل کردار نه ادا کوي بلکې چې هر کله يو ريښتينے جمهوري محاذ جوړېږي نو دوی به پکښې د ټولو نه مخکښې روان وي خو د جمهوريت دپاره د پروګرام جوړونکو نه به دا مطالبه ضرور کوي چې هغوی دې د هر چا دپاره د جمهوري حقونو ضمانت ورکړي خصوصاً د هغه خلکو دپاره چې پوځي د امريتونو د اولس دښمنه پاليسيو دلاسه زپل شوي او ژوبل شوي دي. مثلاً که د سول حکومتونو د ړنګېدو تحقيقات کيږي نو دا کار دې ولې تش د ۱۹۹۴ نه شروع شي ولې د ۱۹۴۷ کښې د ډاکټر خان صاحب حکومت يا ۱۹۷۳ کښې د عطاءالله مينګل د حکومت د ړنګېدلو تحقيقات وشي؟

زمونږ په خيال کښې په تېره څه موده کښې د ملک او سيمې په سياست کښې يوه نوې صف بندي روانه شوې ده، ددې خبرې مطلب دادے چې د شلمې پېړۍ په اويايمو او اتيايمو کلونو کښې چې د ښۍ طرف او کيڼ طرف سياسي قوتونو په مينځ کښې کومه محاذارايي جاري وه، هغه د ساړه جنګ د ختمېدو نه وروستو ختمه شوې ده اوس په نوې سياسي صف بندۍ کښې دوه سياسي کېمپونه راڅرګند شوي دي. اول کېمپ کښې هغه سياسي قوتونه دي چې امن، جمهوريت، انساني حقوق، د دنيا سره ګډه اقتصادي ترقي او سيمه ايز او بين الاقوامي تعاون غواړي او بل سياسي کېمپ د هغو خلکو دے چې په يو يا بل نوم جنګ غواړي، جمهوريت تش په خوله يا دوی او په عمل کښې د امريت سره مرسته کوي، د انساني حقونو مخالف دي، د جهان نه بېل پاتې کېدل بلکې د جهان سره تصادم کول غواړي، د جمهوريت ميثاق کښې د اوږدې مودې دپاره ښه افاقي تصورات شته خو د ملک او سيمې په روان سياست کښې دپورته ذکر کړے شوي نوي صورت حال په هکله هېڅ راه نمايي نشته، بيا چې کوم انتها خوښونکي عناصر پردي جنګونه زمونږ کور ته راوړل غواړي، د هغې د مخنيوي خبره هم پکښې نشته. دغه مسئلې د سرې د اور په شان زمونږ په سيمه کښې په خورېدو دي او د دوی نه سترګې پټونکے پروګرام به زمونږ پرهر له څنګه مرهم کيږي. د اردو ژبې بلوچ شاعر مرحوم عطا شاد خبره ده چې

موم کے مکانوں میں دھوپ کی تمازت ہے
وہ بھی لے کے ائیں ہیں سائبان شیشے کا



رحیم الله یوسفزی / روح الامین

# ازاد افغان پارلیمان د پاکستان دپاره یو سبق

**د افغانستان د پارلیمان غړی د خپلو نسلي، لساني او نورو کروپ بندو نه بالاتر د ملک مفاد په نظر کښې ساتي او فیصلې کوي**

په پاکستان او افغانستان کښې د اوسنو دوو واقعاتو نه د دواړو هیوادونو د تقابلي مطالعې تحریک ملاویږي. دا دواړه واقعې تقریباً په یو وخت پېښې شوې دي او د دواړو واقعو تعلق ددې هیوادونو د مرکزي کابینو سره دے. د افغانستان نوازئیده جمهوریت چې په کومه توګه دا لانجه هواره کړې ده، په دې کښې د پاکستان دپاره یو سبق دے حالانکه پاکستان پخپله په اقتدار باندې د پرله پسې پوځي قبضو باوجود د عامو انتخاباتو د کولو او د جمهوري حکومتونو د جوړولو زیاته تجربه لري

د افغانستان صدر حامد کرزی د خپلې نوې کابینې دپاره د پنځه ویشتو غړو نومونه د منظورۍ دپاره پارلیمان ته وړاندې کړل. او د پارلیمان ۲۴۹ غړو په یوه پټه رایې شمارۍ کښې د پنځه وزیرانو نومونه په هغې کښې مسترد کړل. دا ټوله کاروایي نېغ په نېغه په ټیلي ویژن نشر کیدله. د پارلیمان هر یو غړي هر نامزد وزیر ته یو یو ووټ یعنې ټول پنځه ویشت ووټونه اچول ؤ. ددې ووټونو د نتیجې اعلان هم بیا د ټیلي ویژن په نېغ په نېغه خپرونو کښې وشو. په کابینه کښې نامزد بعضې زړو او باقي نوو وزیرانو د خپلو تېرې شوو کامیابو او د مستقبل د منصوبه بندو په لړ کښې تقریرونه کړي وو. د ووټونو د اغاز نه وړاندې د پارلیمان غړو د هغوی نه پوښتنې اوکړې. او هر ناکلي شوی وزیر سره اولسي جرګې یعنې قومي اسمبلي حساب کتاب هم کړے ؤ، او بیا دا ټول هر څه د ټیلي ویژن د سکرین په ذریعه په ټول ملک کښې وکتے شو

پاکستان د افغانستان په مقابل کښې زیات زوړ جمهوري ملک دے. خو دلته په کابینه کښې بدلون پټ وساتلے شو. په کابینه کښې د بدلون په لړ کښې د

پارليمان سره نه خو مشوره وشوه، او نه ددې بدلون د منظورۍ يا د نامنظورۍ اختيار پارليمان ته حاصل دے. د دوو وزيرو تنزل وشو، او نه اخراج. مطلب دا چې د وزير اعظم جناب شوکت عزيز له اړخه د خپلو وزيرانو د کارکردګۍ د نګرانۍ په لړ کښې د ټولو شوو وعدو باوجود هيڅ قسمه احتساب ونه شو. په کار خو دا وه، چې نا اهله وزيران اخوا کړے شوي وے. او د ښه کارکردګۍ والا وزيرانو حوصله افزايي شوې وے. خو دوی يو خوا دا وکړل. چې په زړه کابينه کښې شامل ټول غړي يې برقرار وساتل. او بل خوا د زياتې نمائندګۍ د حصول خواهشمندو ډلو د خوشحالولو لپاره يې د هغوی نور غړي په کابينه کښې شامل کړل. چې دې سره کابينه کښې د ټولو غړو شمير ۷۹ ته اورسيدو. کوم چې يو ريکارډ دے

په کابينه کښې د نوو وزيرانو د ځائے کولو لپاره نوې او واړه واړه وزارتونه جوړ کړے شو. که چرې دا کابينه د منظورۍ لپاره قومي اسمبلۍ يا د مناسب اختيارات لرلو والا سېنټ ته وړاندې شوې وه، نو کېدے شو چې بعضې نا اهله او خودبينه وزيران د احتساب سره مخ شوي وے

په دې کښې هيڅ شک نشته چې په پاکستان او افغانستان کښې دوه مختلف قسمه دستورونه نافذ دي. په جنورۍ کال ۲۰۰۴ کښې د لوئې جرګې له اړخه منظور شوے د افغانستان د نوي دستور مطابق د کابينو د غړو منظورۍ د پارليمان نه اخستل لازمي دي. د يو وزير د رد کېدو په صورت کښې صدر له بل څوک نامزد کول وي. د صدر کرزي په ټاکلې شوو وزيرانو کښې هم پنځه مسترد کړے شو. چې په دې کښې يوا ځينې زنانه وزيره ثريا رحيم صبح رنګ هم شامله

**پاکستان د افغانستان په مقابل کښې زيات زوړ جمهوري ملک دے، خو دلته په کابينه کښې بدلون پټ وساتلے شو، په کابينه کښې د بدلون په لړ کښې د پارليمان سره نه خو مشوره وشوه، او نه ددې بدلون د منظورۍ يا د نامنظورۍ اختيار پارليمان ته حاصل دے**

وه. اوس ګرزے صاحب ته ددې مسترد شوو وزيرانو د متبادل په لټون کښې دے. او نوي نامزد شوي وزيران به هم پارليمان ته د منظورۍ لپاره وړاندې کولے شي

په تېره کابينه کښې دري ښځې وزيرانې شاملې وې. خو دا ځل صرف يوه وزيره ښځه نامزد کړے شوې وه. چې هغې ته به د ښځو د امورو وزارت سپارلے کېده. خو پارليمان هغه هم مسترد کړه. پس دا ونيلے کېدے شي چې دې سره د ښځو مرام ته نقصان رسېدلے دے. بيا هم صدر کرزي سره به بله موقع هم شته چې هغه به بله زنانه کانديده وټاکي. او ورسره د پارليمان ته به اسانه منظورولو لپاره د پارليمان د غړو سره مشوره هم اوکړي. ځکه چې هغه ته د پارليمان له اړخه دا ښکاره اشاره ميلاو شوې ده. ګو چې هغه د منتخب پارليمان نه په زياته يا اختياره د صدارت په عهده ناست


ښاغلی سيد مخدوم رهين

دے، خو بيا هم ده ته به د خپلې کابينې په خوښولو کښې د پارليمان د غړو په اعتماد کښې اخستلو ضرورت پېښيږي. په مسترد شوو نورو وزيرانو کښې د ثقافت د وزير سيد مخدوم رهين نوم هم دے. چا چې په پاکستان دا تنقيد کړے ؤ، چې پاکستان په خپلو ميزايلونو د افغان اتلانو او باچاهانو نومونه لکه شهاب الدين غوري، محمود غزنوي. احمدشاه ابدالي اېښي دي له دې نه علاوه په مسترد شوي وزيرانو کښې د ټرانسپورټ وزير ګل حسين احمدي. د تجارت وزير محمد حيدر رضا او د اقتصاد د امورو وزير محمد امين فرهنګ شامل دي. باقي پاتې شوو وزيرانو په پارليمان کښې اکثريت ترلاسه کړے دے. او د پارليمان غړو پرې د اعتماد اظهار اوکړو

نوے وزیر خارجه رنگین داد فر سپنتا هم په دې منظور شوو وزیرانو کښې دے. حالانکه د هغه په باره کښې د خلکو خیال دا ؤ. چې په پارلیمان کښې د پخواني وزیر خارجه ډاکټر عبدالله عبدالله مرستیال به دده په لاره کښې د خنډ جوړېدو کوشش کوي. خو له دې وېرو باوجود هغه ډېر په اسانه له دې مرحلې نه تېر شو

دې نه دا ښکاره شوه. چې . د افغانستان پارلیمان په اولسي جرگه، قومي اسمبلي، او د مشرانو جرگه، سېنټ باندې مشتمل دے. په افغانستان کښې ۳۰ کاله پس په غیر جماعتي بنیاد ازاد انتخابات وشول. او موجوده پارلیمان منتخب کړے شو چونکې دا انتخابات په غېر جماعتي بنیاد شوي وو .نو ځکه داسې کسان پکښې مخې ته راغلل. چې هغوی د چا په وړاندې جواب ده نه وو د مضبوطو سیاسي جماعتونو په نه موجودگۍ کښې حالات گډوډ کېدے شو. خو د افغانستان د پارلیمان غړو ډېره ذمه داري ښکاره کړه، او د مېرټ په بنیاد باندې یې وزیران رد یا منظور کړل

دا رښتیا دي. چې د افغانستان په انتخاباتو کښې ډېرې خامۍ او نقصونه وو. او په کامیابو کاندیدانو (Candidate) باندې دا الزام لگېدلے ؤ، چې دوی مخالفینو نه د ماتې ورکولو لپاره د خپل پوځی قوت، د حکومت سره د رابطو او د دولت د استعمال نه کار اخستے ؤ. دا هم وئیلے شوي وو. چې تر څو پورې په افغانستان کښې د امریکې پوځ موجود وي. نو په افغانستان کښې به ازاد او منصفانه انتخابات چرې هم ونه شي. دا ټولې خبرې په خپل ځائے ټیک دي، خو بیا هم مونږ له ددې خبرې ستاینه په کار ده، چې د افغانستان د موجوده نظام سره تړلي خلک دا کوشش کوي، چې د ملک ائین او پارلیمان دې د خلکو د ضرورتونو په هکله حساب ورکوونکي. د کابینې د پارلیمان وړاندې جوابده کېدل، هم ددې عمل یوه برخه ده

ددې په مقابل که مونږ وگورو په پاکستان کښې د فیصله سازۍ په عمل کښې پارلیمان نظر انداز کیږي، ناقدین او پارلیمنټ کښې د حزب اختلاف غړی دي نو د "ربړ سټېمپ(Rubber Stamp)" وایي پارلیمان ته هیڅ څه اختیار نشته چې د کابینې لپاره نامزد غړی رد یا منظور کړي په ایوان کښې د وزیرانو نه پوښتنې کېدے شي خو د هغوی د پوښتنو په جواب کښې دوی اکثر حکومتي نقطه نظر وړاندې کوي

کابینه کښې ددې وزیرانو موجودگي د غېر پارلیماني قوتونو بلکې که په ښکاره ټکو کښې ووئیلے شي. نو د پوځ د خوښې او یا ناخوښې سره تړلې ده. دې وزیرانو ته چونکه دا علم وي، چې دوی د کابینې نه ویستلو والا او یا په کابینه کښې ساتلو والا څوک نور دي. نو ځکه دوی هم پارلیمان ته څه اهمیت نه ورکوي

که چرې کابینه د پارلیمان په وړاندې د احتساب قابل د گرځولو په طریقو غور وکړے شي. نو دا به د ډېرې فایدې خبره وي، یو حده پورې کابینه د پارلیمان په وړاندې جوابده هم ده. خو بیا هم داسې ترمیمونه ضروري دي، چې د هغې په ذریعه پارلیمان ته د وزیرانو د منظورۍ یا نامنظورۍ اختیار حاصل وي، زمونږ د پارلیمان غړي یا د اختیار واکمنان شاید چې د افغانستان په مثال د عمل کولو زړه نه کوي، ځکه چې دوی ته په دې کښې شرم ښکاري، چې دوی د جمهوریت د ابتدایي مرحلو نه تیرېدونکي ملک نه زده کړه وکړي، خو زمونږ تجویز خو دادے چې په دې ډېر زیات ځله ترمیم شوي ائین کښې یو څو نور ترمیمونه وشي، او د پوره وفاقي کابینې د منظورولو اختیار دې پارلیمان ته ورکړے شي، او هم داسې صوبایي اسمبلو ته د خپلې صوبایي کابینو د منظورۍ اختیار ورکړے کېدے شي، د ۱۹۷۳ په ائین کښې تر اوسه پورې چې کوم ترمیمونه شوي دي. هغه د ذاتي مفاداتو په رڼا کښې شوي دي، خو اوس وخت راغلے دے، چې د عامو خلکو د مفاداتو په رڼا کښې په دې کښې ترمیم وشي. او منتخب عوامي نمائندگان دې با اختیار کړے شي.

> **په پاکستان کښې د فیصله سازۍ په عمل کښې پارلیمان نظر انداز کیږي، ناقدین او پارلیمنټ کښې د حزب اختلاف غړی دې ته د "ربړ سټېمپ(Rubber Stamp)" وایي**

# د محترم اسفندیار ولی خان د امریکې، برطانیې او جرمنی دوره

ځکه چې هر چاته معلومه ده عوامي نېشنل پارټۍ ته د باچاخان او د خدايي خدمتګارانو د امن، ازادۍ، انساني حقوقو او قومي مبارزې ستر میراث ورپه برخه دے په داسې وخت کښې چې زمونږ د سیمې خلک د جنون، تشدد، تعصب او دشمنۍ د اور خلاف هلې ځلې کوي د باچاخان د سیاسي ورثې اهمیت لاسیوا شوے دے او د نړۍ خلک باچاخان او خدايي خدمتګارۍ د نوي سر نه پېژني، په دوي نوي کتابونه لیکل کیږي، او دستاویزي فلمونه برې جوړېږي، د ګاندي جي لمسی راج موهن ګاندي چې په امریکه کښې پروفیسر دے، د خپل نوي کتاب ،،غفار خان د پښتنو غیر متشدد بادشاه،، په سریزه کښې لیکي، چې هر کله چې ما په ستمبر ۲۰۰۱ کښې په ټېلي ویژن د ورلډ ټریډ سنټر عمارت په غورزېدو ولیدو، نو ما فیصله وکړه، چې په باچاخان کتاب لیکم، ځکه چې دنیا ته ددې ضرورت دے، بله خبره داده چې ددوه قطبي دنیا د ختمېدو سره مغربي نړۍ د پښتنو د قامي تحریک خلاف هغه تشویش ختم شو، کوم چې د پخواني سوویت یونین یا شوروي اتحاد په موجودګۍ کښې ؤ

د دنیا مختلفې حلقې په دې خبره پوهه شوې، چې دا یو داسې قامي تحریک دے، چې بنیاد یې په نسلي تعصب نه، بلکې په امن، جمهوریت، انصاف او انساني حقوقو باندې مبني دے. او په جنوبي او جنوب غربي ایشیا کښې دامن، او سیمه ایز تعاون رښتینے طرفداره دے، ددې سره سره د یوولسم ستمبر نه وروستو چې د عوامي نېشنل پارټۍ رهبر تحریک خدائے بخښلے خان عبدالولي خان په افغانستان کښې د دهشت ګردۍ د اډو خلاف د بین الاقوامي کاروايي حمایت وکړو، نو په سیاسي توګه کم نظر لرونکو د هغوی د موقف مخالفت وکړو، خو د وخت تجربې دا خبره ثابته کړه، چې د هغه موقف د افغانستان، ټولو پښتنو، پاکستان او د ټولې سیمې د خلکو په ګټه ؤ، په دې اړه هم کښې د نړۍ والو دلچسپي زیاته شوه، او په تېر دوه کالو کښې د دې اړه پې قاید اسفندیار ولي خان، ملایشیا، خلیجي ملکونو، هندوستان او افغانستان ته سفرونه وکړل، او ورو ورو زمونږ پارټۍ د ملکي سیاست نه علاوه په سیمه ایز او بین الاقوامي سیاست کښې هم د یوه اهم لوبغاړي په توګه راڅرګنده شوله

عوامي نېشنل پارټۍ په دې عقیده ده چې سیاست خصوصاً بین الاقوامي سیاست د قبایلي دشمنۍ یا تربګنۍ لوبه نه ده، بلکې د خپل اولس او د خپلې خاورې ګټې تر لاسه کولو دپاره د حالاتو سره سمون پیدا کول ډېر اهمیت لري، او قومي سیاسي قیادت باید د تاریخ په هر دور کښې د زړه ور ګامونو اخستلو همت او بصیرت ولري

د نړۍ دژوندي قومونو مثالونه وګورئ، چینیانو یو وخت کښې د معیشت په قومي ملکیت جوړولو کښې مثال نه لرلو او بیا یې په بدل شوي حالاتو کښې د ټولې دنیا غټې غټې کارپوریشنونه خپل ملک ته راوبلل او په ډېر لږ وخت کښې یې زورزوره اقتصادي ترقي وکړه، ویټ نام د یوه اوږده او خونړي جنګ په ذریعه وړومبے د فرانس او بیا د امریکې نه ازادي اخستې ده، خو نن په خپله سیمه کښې هغه د امریکې تر ټولو غټ تجارتي

پارټنر دے. لرې به نه ځو د خان سره نژدې هندوستان به وګورو چې د ساړه جنګ په زمانه کښې د پخوانی شوروی اتحاد نژدې دوست ؤ. د ساړه جنګ نه وروستو یې امریکې سره د دوستۍ رشتې جوړې کړې دي. په دغې بدلونونو کښې بنیادی خبره دا ده چې په سیاست کښې بوے سمون د یو فرد او یا یو څو افرادو د ګټو دپاره نه بلکې د نوی معروضی حالاتو په رڼا کښې د خپلو اولسونو او وطنونو د مفاد د ساتلو دپاره راوستل شوے دے

په امریکه کښې د عوامی نېشنل پارټۍ وفد یوه میاشت تېره کړه او د امریکې حکومت مختلفو ادارو او د کانګرس ممبرانو سره د ملاقاتو نه علاوه د تهنک ټینکونو غړو او د یونیورسټیو استاذانو سره هم خبرې اترې وکړې. په دغو ملاقاتونو کښې هغوی په تفصیل سره د خپل قام مقدمه یې د هر چا په وړاندې کېښوده. د امن. جمهوریت او اقتصادی ترقۍ په مسئلو یې رڼا واچوله. او دا خبره یې په دلایلو سره ثابته کړه چې د جنوب مغربی ایشیا امن د پښتون د کور د امن سره تړلې خبره ده. اسفندیار ولی خان د پښتنو د ملی وحدت د مسئلې وضاحت وکړو او پاکستان کښې یې د اولسونو د خپلو جایزو حقونو څخه محرومی د عدم استحکام جرړه وبلله

دوی په فاټا کښې د اوسنی جنګ اصلی سبب ددغې سیمې سماجی ځانته والے (isolation) او اقتصادی وروستو پاتې والی نه علاوه د افغانستان په باره کښې د پاکستان د حکومت ناسمه پالیسی او عمل وګڼلو. دوی د فاټا او د پښتونخوا د اقتصادی ترقۍ دپاره لیکلی مواد وړاندې کولو نه علاوه په دې موضوع تفصیلی وضاحتونه وکړل. دوی په کوټلی ډول ووې، چې دا مسئله په اوږدې مودې کښې د سیاسی اصلاحاتو او ترقیاتی عمل نه بغیر نه شی حل کېدے

اسفندیار ولی خان جوته کړه. چې پاکستان کښې د جمهوری او انتهاپسندۍ مخالفو سیاسی پارټیو په یوه واضحه سیاسی پروګرام باندې اتحاد جوړول د وخت اهم ضرورت دے. هغوی په ډاګه کړه چې د ۲۰۰۷ انتخابات به د پاکستان د مستقبل فیصله وکړی. هم دغه رنګه دوی د سیمې د ملکونو ترمینځه د تعلقاتو د ودې ورکولو په ضرورت ټینګار وکړو.

د امریکې حکومت نمایندګانو او د کانګرس غړو په دغو خیالاتو کښې ژوره دلچسپي څرګنده کړه. او وعده یې وکړه. چې په دغه سیمه کښې د اقتصادی پرمختګ دپاره دوباره اباد کارۍ او د مواقعو د سیمې (ROZ) په نوم یوه منصوبه روانه ده. چې امریکا به پکښې هر قسمه لاس امداد وکړي. هغوی ووې چې مونږ به د افغانستان خلکو ته د شاګرزولو پخوانۍ غلطۍ بیا هېڅ کله ونه کړو. او ددغې سیمې د امن او ثبات دپاره به د دنیا او سیمې د نورو لوبغاړو سره یو ځائے کار وکړو دوی په پاکستان کښې په دوه زره اووم ۲۰۰۷ کال کښې د ازادو انتخاباتو حمایت وکړو. چې پاکستان د واقعي جمهوریت جوړولو په لور ګام پورته کړي د مې د میاشتې په دویمه نېټه اسفندیار ولی خان د نیویارک څخه لندن ته ورسیدو. د لندن دهیترو په هوایي اډه په برطانیه کې د عوامي نېشنل پارټۍ غړو هغوی ته تود هرکلي ووې د اې این پی صدر څو ورځې په برمنګم کښې تیرې کړې هلته یې په برمنګم کې د مېشتو پښتنو په دعوتونو کښې ګډون وکړو او د خلکو سوالونو ته یې ځوابونه وویل د مې د میاشتې په اوومه نېټه په برمنګم کښې د عوامی نیشنل پارټۍ لخوا یوه ستره جلسه وشوه چې په کښې د برطانیې د مختلفو سیمونه راغلی دا اې این پی غړو او طرفدارانو ګډون کړے ؤ. په جلسې کښې اسفندیار ولی خان، افراسیاب خټک او مقامي مشرانو تقریرونه وکړل او ځوانانو پکښې ډېر په شوق قومي نظمونه هم وویل د مې په اتمه نېټه د عوامي نېشنل پارټۍ وفد د بی بی سی ریډیو د مرکز بش هاوس دوره وکړه او په ریډیو یې انټرویو ګاني ورکړې د مې په نهم تاریخ اسفندیار ولی خان جرمنی ته ورسیدو او شپږ ورځې یې په جرمنی کښې میشته پښتنو سره لیدنې کتنې وکړې د پښتون سوشل ډیموکراتیک پارټۍ د اسفندیار ولی خان په ویاړ په کولون ښار کښې یوه عامه جلسه جوړه کړه چې پکښې اسفندیار ولی خان نه علاوه ددغې پارټۍ مشرانو هم تقریرونه وکړل اسفندیار ولی خان د مې په اوولسمه نېټه د خپل اوږد بیروني سفر نه وطن ته راستون شو.

# د مسافر احساس

افراسیاب خټک

زما وطنه روح او تنه درته څه ووایم
چې څومره زه د ستا لیدلو ته لېواله یمه
ستا د زړې زړې احساس کښې ځان شریک ګڼمه
څه که وختونو پنا کړې یم یو خواله یمه
د ستا په نوم باندې ژوندے یم ګڼې نشته یمه
که زه نیمګړې رڼا یم خو بله تاله یمه
د تا نه چارچاپېر چې ظلم سرې لمبې وینمه
والله که زه خو په جنت کښې هم خوشحاله یمه

د ستا په خاوره چې څه کیږی ما نه پټ خو نه دی
هر یو تبرے چې په تا کیږی زه یې ښه وینمه
هر یو ګوزار چې په تا کیږی زما زړه پرېکوی
که په خوله چپ یم نو دانه چې ګنې نه وینمه
د پښتونخوا ښائیسته جنت کښې د ستم تیاره ده
په دې تیاره کښې په ډغرو پښتانه وینمه
که په دنیا کښې استعمار مړدے مړ شوے به وی
خو په قبضه کښې یې اوس هم د ایشیا زړه وینمه

د پسرلی خوږې وږمې د زما بدی نه شی
ما په چمن کښې د سروګلو نظارې خوښې دی
د سبایی په هواګانو کښې سرود اورمه
ګورم صحرا کښې د شیندی ګلو جنډې ښخې دی
د مالاکنډ د ورشوګانو زېړګلونه وینم
منم چې غرونو د چینو اوبه خوږې یخې دی
خو زما سترګې ړندې نه دی هغه دا هم وینی
زما وطنه ستا سینه کښې د سنګین نخښې دی

زه د تاریخ یو داسې دور کښې زېږولے یم تا
چې ستا وګړی خپل وطن کښې بې وطنه ګرځی
چرته چې سر ښکته کولو ته به یې مرګ وئیلو
هلته کښې سر اوچتول مرګ ته بلنه ګرځی

چې د چا متهو زور بې عزتو ته عزت ګڼلے
نو نن هغه پاره ګریوان څیرې لمنه ګرځی
د چا د سیوری نه مو قبر هم چې لرې غوښتو
نو نن هغه مغل زمونږ کوڅو دننه ګرځی

د ګوتم بودهـ د مینې غږ دې په فضا کښې ګرځی
خو د درو نه دې د توپ سپېره اهنګ راخیژی
د روښانیانو رڼاګانې تتې ښکاری
د فکر سترګو نه دې اوس د تیارو رنګ راخیژی
د استبداد دغه درنه شپه که اوږده شی داسې
نو ستا د حسن او رومان سپوږمۍ به څنګ راخیژی
چې خوشال خان ؤ چا زپلے د هغوی دلاسه
نن د وطن هرې کوڅې د زنځیر شرنګ راخیژی

خو ستا وګړو خو ظالم تیرلاره پرېښې نه ده
ځکه ګڼلے یې وطن د ننګیال نوم تا له ده
هر سکندر ټولې دنیا باندې هوار راغلے
خو تنبېدلے دے راغلے کله ستا خواله ده
د ستا اولس د هر ظالم مخ ګرځولے دے او
نښته یې کړې ده چې شل ده او که سل کاله ده
هر یو اورنګ او هر فرنګ دا حقیقت منلے
چې دا د خراړو وطن نه دے د زمرو ځاله ده

ځکه وطنه نن زما قلم نوحه نه لیکی
د ستا پر ننګ باندې مئینو ته اواز ورکوی
د محکومۍ خوشې صحرا نه الوتو دپاره
ترلی باز ته وزر پرانیزی پرواز ورکوی
په اورېدلو چې یې مړه وجود کښې ساه پیدا کړی
د ستا بچیو ته د نوی ژوندون راز ورکوی
د ازادۍ د انقلاب مستې سندرې لره

ډي جي ټنډولکر / محمود احمد

دریم ټوک

# عبدالغفار خان
# عقیده مجاهده ده



## پېژندګلو (دویمه برخه)

پښتانه د روایتي ګډا، موسیقۍ او شعر و شاعرۍ ډېر شوق لري، دوی د ډاګې مېدانونو په لوبو لکه منډه وهل، په سپو ښکار کولو او نخښه ویشتو ډېر مئین دي، تر دې چې یو ماشوم هم غواړي چې ټوپک ورسره وي. ګرځېدل د قبایلو دپاره یو کمزورے لفظ دے، دوی په دومره طاقت او زور د غرونو لاندې سمې علاقې ته راکوزېږي، چې سړے وایې چې کمرې رانړېږي. دوی په دې کښې منډه نه وهي خو بیا هم ډېر ګړندي وي. په سختو غرونو کښې دوی د یو پاټکي نه بل پاټکي ته ټوپونه وهي، دوی ډېر زیات سخت جان او کلک وي.

په ډېر لږ څیز ګزاره کوي، بس یو ټوپک یو څو کارتوس، یو چاقو او لږ شان خوراک د دوی دپاره بس دے.

هر یو سړے سپاهي دے، په کال ۱۹۳۷ء کښې د قبایلي اولس سره څه دوه نیم لکه د نوی دور قیمتي وسلې وې، تېر دور کښې که چا حکمران دا دعوه کړېده، چې ګنې دهٔ د پښتنو په علاقه حکومت کړېدے، نو د هغه دا دعوهٔ صرف د مېداني علاقو یا یو څو درو پورې محدوده ده، تر دې چې غریزه علاقه کښې لوئے سړکونه او لارې هم د

قبایلو د حملو نه بچ نه وې. او ددې حفاظت هم په ډېره
ګرانه کېدو. په دې حقیقت د ځان پوهولو نه داخبره
ناببری، چې د قبایلی علاقو دا پښتانه چرې هم د چا
محکوم نه دی پاتې او هم دغه وجه ده، چې د تاریخ د
لویو لویو فاتحینو .سکندر اعظم.چنګېز خان او ګوډ
تیمور په کښې شامل دی، د حملو باوجود هم دا معاشره
قبایلی ده.

د انګریزانو سرحدی پالیسی دا وه چې دګاونډی هېوادونو
سره به په پر امنه توګه اوسی، ده به وئیل چې د غېر
مفتوحه سرحدی علاقو خلکو ته زمانه یره نه ده په کار،
دوی له په ما اعتبار کول په کار دی. اوزما نه دې دوی
خوشحالی ترلاسه کوی نه چې غمونه.

د صوبه سرحد ډېر لوئې شمېر ابادی د پښتنو ده، اباسین
د پښتنو د هېواد او باقی پاتې براعظمګی ترمېنځه
نسلی او جغرافیایی پوله ده. قبایلی سیمو کښې څلور
مشهورې قبیلې اپریدی، مهمند، وزیر او سعود اوسی،
نورې قبلې چې اورکزی، یوسفزی، محمدزی، بېټنی،
شینواری او نورې ګڼ شمېر قبیلې په کښې شاملې دی،
هم په دې سیمه ابادې دی. یوسفزی په بنېر او پېښور
وادی نه په وراخوا علاقو کښې اباد دی، د پېښور نه
قطب قبلې طرفته د کابل سیند او سوات سیند ترمینځه
په علاقه مهمند پراته دی، په خېبر او سوېل اړخ ته
اپریدی اباد دی، د تېراه سوېلی کلو کښې د مختلفو
قبیلو خلک اوسی، دوی ته اورکزی یعنې بې درکه شوې
قبیلی وئیلے شی، دکرمې او ګومل ترمینځه په سختو
غرونو او وادو کښې وزیر اباد دی، ددې نه سوېل اړخ ته
پاونده پراته دی، چې ټول عمر د یو ځائے نه بل ځائے ته
کډه وړی، هر کال د دوو لکو نه زیات غلزیان د
افغانستان د غریزو علاقو نه د هندوستان مېدانی
علاقوته راځی، بیټنی د وزیرستان نمر ختیزې پولې سره
سره د ګومل نه تر مروتو پورې په علاقه اباد دی،په بنو
کښې بنوڅی او مروت اوسی د بنو نه تر کوهاټ پورې په
دې علاقه خټک اباد دی، د ډېره اسماعیل خان په لویو
او اوچو ډاګو ابادو خلکو کښې زیات شمېر د جاټو
دے، دغلته د پښتنو تناسب د ټولې ابادی درېمه برخه
ده. دا شان هزاره کښې زیاته ابادی د غېر پښتون ده، چې
مسلمانان پنجابیان ګوکهر او نور خلک په کښې شامل
دی، د لړو خلکو نه علاوه دا ټول قبایل سوچه سنی
مسلمانان دی، د څلورو واړو خلفاء راشدینو منونکی
دی. نه یواځې په قران مجید یې پوخ ایمان دے.بلکې
په حدیثو اود رسول پاک صلی الله علیه وسلم په سنتو
هم پوخ یقین لری.

په هره نکته نظر چې نسلی، جغرافیایی.لسانی، روایتی
او تاریخی پس منظر په کښې شامل دے. پښتانه د
پنجابیانو نه بېل دی. پښتانه په قبیلو کښې تقسیم دی.
ددې ذیلی قبیلو شمېر د زرګونو نه تر لکونو پورې
جوړېږی، دا ذیلی قبیلې بیا په خېلونو او بیا په کورنو
کښې تقسیم دی، چې دا کورنۍ د افرادو مختلف شمېر
او جوړښت لری، دا ټول بیا خپلو کښې تړلی وی، ځکه
چې ټول د یو نیکه اولاد ګڼلے کیږی، ځنې ازاد قبایل چې
یوسفزی او مهمند په کښې شامل دی، په قبایلی او
رعیت خلکو دواړو کښې اوسی، ازاد قبایلی اولس خپل
پښتون ثقافت په اصلی شکل کښې په ځائے ساتلے دے،
دوی ځانته اپریدی، وزیر ،مسعود وغېره وایی او د دوی
ړومبنۍ وفاداری د خپلې قبیلې سره وی، دوی د خپل
قانون کوم ته چې ))پښتونولی ((وئیلے شی، لاندې ژوند
تېروی.

د پښتنو د معاشرې اساس ازاد او ساده جمهوری ذهن
دے، چې په کښې د ځنو کورنو څه لږ شان زیات احترام
کیږی، دغو کښې ملکان، خانان او نور مشران شامل
دی، خو د دوی دا احترام په ذاتی بهادری، پوهې او
مضبوطیا اړه لری، د رعیت علاقو خلک خپله ژبه او
کلتور په ځائے ساتی او د خپل ګاونډ قبایلی علاقو سره
د شناخت او تړون احساس لری.

تر دې چې په رعیت علاقو کښې هم خلک د خپل رسم او
رواج لاندې ژوند تېروی، او دلته هم د قانون دومره پرواه
نه کیږی، رسمونه د سماجی زنځیر کړی دی، چې د زړې
زمانې سرے پرې معاشره مربوطه او کوټلے ساتلے شی،
قبایلی سیمو کښې څه څلور میلیونه خلک اوسی،
دغلته د قانون عدالتونه ججان،وکیلان او تر دې چې

پولیس هم نیشته، خو بیا هم ډېر کم داسې اورېدے شي، چې چا څوک قتل کړیدے، او یا چا زنا کړې ده.
منیزه ګول په کښې ډېر کم دي، ځکه چې په دې کښې خطره ډېره زیاته ده، او ډېر لوے قیمت یې ادا کول وي، که څوک جینۍ وتښتوي او واده ورسره وکړي، نو بیا د هغه لښون نه شي کولے. د هلک کورنۍ به د جینۍ کورنۍ ته دناوان په شکل کښې دوه یا درې جینکۍ ورکوي. خوکه دغه هلک بیا د تښتولې شوې جینۍ سره

شروع شوې وې، د زیاتو دشمنو بنیاد زر،زن،زمین یعنې دمال جائیداد،زمکو اوزنانوو په سر وي.
دا دشمني هله ختمې شي، چې یو فریق په کښې ختم شي، کله کله داسې هم اوشي، چې کمزورے فریق خپل خان د دشمن رحم او کرم ته اوسپاري، دې کار ته ننواتې وايي، دا د توهین انتها ګڼلے شي. په دې کښې معافي غوښتونکے سره د خپلو زنانوو قران په سر سره دځو ګډانو د دشمن کورته د معافۍ دپاره لاړ شي.



پښتانه د روایتي ګډا، موسیقۍ او شعر و شاعرۍ ډېر شوق لري

دهوکه وکړه، نو د جینۍ ټوله کورنۍ به دے نه پرېږدي، او خپل به ورته هم پناه نه ورکوي، روایات ددې خبرې اجازت نه ورکوي، چې څوک دې لوظنامه ماته کړي، دے یواځې پاتې شي او اورومرو ورته ددې قیمت ورکول وي، تر دې چې په جنازه کښې یې خپل دوستان هم ګډون نه کوي. په ظاهر کښې خو دا ډېر زیاتے او ظلم ښکاري خو دا ډېر ښه اثرناکه قانون دے.
پښتونولي د پښتنو د ټولو نه اعلی قانون دے، ددې ړومبنے توکے بدل دے. بدل اخستل صرف د هغه سړي فرض نه وي، د چا سره چې زیاتے شوے وي، دا د هغه د ټولې کورنۍ او د قبیلې ذمه واري ده، چې دا بدل واخلي. بدل د پرېښودو نه وي، او پرېښودل یې بې عزتي ګڼلے شي. په دې کښې ټول خېل او قبیله شامله وي، نو داشان دشمني د ختمېدو نه وي، او دغه شان جاري وي، ځنې دشمنۍ چې اوس هم جاري دي دا څو پېړۍ وړاندې

د ډاکټر پنل څوک چې لوئے عیسایي مبلغ ؤ، او د پښتنو په معاشره کښې یې شپاړس کاله تېر کړي وو، او پښتانه یې ډېر خوښ وو، وینا ده چې بدل د پښتنو په خټه کښې اغږلے شوېدے، دے وايي چې داقام تر هغه وخته ترقي نه شي کولے، تر څو چې د بدل په هکله د دوی نظریه بدله شوې نه وي.
د پښتون معاشرې دویم اهم توکے «مېلمستیا» ده او په دې د ړومبني توکي یعنې بدل په شان ښه په سختۍ سره عمل کولے شي، کوربه که هر څومره مالدار او با اثره ملک ولې نه وي، دے به دخپل نادارہ مېلمه سره په یو دسترخوان کښېني او په ده به ډوډۍ خوروي. د مېلمستیا ورکولو دپاره تر ټولو اهم ځائے حجره وي، دا یوه شریکه مهمانخانه وي، چې په کښې یوه یا دوه کوټې وي، دغلته مېلمه دېره کولے او دده د چائے ډوډۍ خیال ساتلے شي، په هر کلي کښې یوه یا دوه حجرې وي، د زیات شمېر خانانو او ملکانو بېلې حجرې وي. حجره

کښې د مېلمنو د خدمت سره سره نور اجتماعي کارونه هم کولے شي. دا د دغه کلي د خلکو دپاره د ګپ شپ مرکز وي، دغلته نارینه د ورځې، مصروفیاتو نه پس کښېني په خپلو معاملو صلاح مشوره کوي، چائے او چلم په کښې څکي. د کلي نا واده زلمي حجره کښې د شپې څملي ځکه چې د پښتنو دا دستور نه دے. چې یو هلک بالغ شي او بیا په کور کښې څملي مېلمستیا کښې دا خبره شامله ده چې څوک پناه غواړي هغه ته به پناه ورکولے شي، په دې کښې پناه ورکول د بدل نه هم زیات اولیت لري، او تر دې چې که د چا دشمن هم پناه اوغوښته نو هغه ته به د نورو دشمنانو نه پناه ورکولے شي.

ملا د پښتون په معاشره کښې اهم کردار دے، د نورو مسلمانانو په شان پښتنو کښې هم ملایي د یو خاص ذات پورې نه ده تړلې شوې، څوک چې د خدائے پاک دین زده کړي او خدمت یې کوي. هغه ملا شي، خو اکثر د کلي د ملایانو د کورنو غړي په روایتي توګه دا منصب ترلاسه کوي.



د قبایلي علاقو دا پښتانه چرې هم د چا محکوم نه دي پاتې

جرګه د پښتنو په معاشره کښې شاید د ټولو نه اهمه اداره ده، دا د مشرانو غونډه وي، چې یوه قبیله څومره جمهوري وي، جرګه به یې دغه هومره لویه وي. جرګه کښې ووټ نه شي ورکولے کېدے، او ټولې فیصلې د رایې په اتفاق کولے شي. جرګې په عمومي توګه د ګناهګار په ګوته کولو یا چا ته د سزا ورکولو په غرض نه شي کولے، ددې مقصد د پښتنو د روایاتو مطابق د شخړو فیصله کول وي.

اولنے انګرېز ماونټ سټوارټ ایلفین سټون چې پېښور ته راغلے دے، د پښتنو د خصوصیاتو لنډیز دا شان وړاندې کوي «دوی کښې بد کارونه لکه بدل، کینه، حسد، بغض او د مال جمع کولو حرص شته دے، خو بل طرفته دوی په ازادۍ مئین، د خپل لاس د لاندې خلکو سره مهربان، مېلمه دوست د دوستانو سره وفادار، سخت محنتیان، سخت جان او هوښیار دي، او دوی د دغه علاقې د نورو خلکو په شان دروغجن، سازشیان او دهوکه باز نه دي، زما خیال دے چې د ایشیا د ټولو قامونو په نسبت پښتنو کښې بدخصلتونه ډېر کم دي، دوی مقابلتاً کم عیاش او د جنسیاتو کم شوقیان دي.

په ۱۸۵۷ء کښې چې کله په هندوستان کښې د بغاوت لمبې پورته شوې، صوبه سرحد ته ددې کم اثرات اورسېدل، پښتنو د بغاوت په دې موقعه د انګرېزانو د مجبورۍ نه څه فایده پورته نه کړے شوه، خو بیا یې سمدستي د ازادۍ خپله مبارزه پیل کړه، د کال ۱۸۵۸ء نه تر کال

د پښتنو د معاشرې اساس ازاد او ساده جمهوري ذهن دے

۱۹۰۲، پوري د انګريزانو او پښتنو ترمينځه د ځلوېښتو نه زياتي معرکي شويدي. په کال ۱۸۹۷، کښي د اپريدو او اورکزو خلاف انګريزانو ځلوېښت زره فوځيان اچولي وو. انګريزانو ته تل د افغانستان او روس د طرفه د حملي خطره وه.

په سيمن کمېشن کښي په دي خبره زور ورکړے شوے ؤ. چي صوبه سرحد نه يواځي د هندوستان سرحد دے، ولي دا په فوځي نکته نظر تر ټولو اهم بين الاقوامي سرحد دے، او دا د هندوستان دروازه ده.

انګريزانو د خپل اقتدار په موده کښي په دي علاقه د خپلي قبضي مظبوطولو سخت کوششونه کول. اول اول هغوی پېښور او پېښور ته تلونکی اهم سړکونه ونيول. اهمه خيبر دره اوس هم دغه غرونو کښي د اوسېدونکو قبايلو په قبضه کښي وه، چي ځني په کښي د افغانستان نه لويه اهمه خبره وه. د دي مقصد دپاره افغانستان د دوو لويو سلطنتونو ترمينځه يو بفر رياست ومنلے شي، د اباسين سره سره رعيت ضلعي د هندوستان برخه وګرځولے شوه، د غرونو قبايلي سيمي د فوځي پېشقدمي علاقي وګرځولے شوي. او انګريز په دي خپل تسلط قايم کړو. دغه سيمو کښي دري ونيولے شوي، دغلته قلعه ګاني جوړي کړے شوي، او ورکښي فوځ ډېره کړے شو. دا د (فارورډ) يعني وړاندي پاليسي برخه وه، د کولن ډيوس د وينا مطابق دا د سرحد د پښتنو دپاره د نولسمي صدی اخری لسيزه کښي يو داسي لوئے سوک ښکارېدو. چي ګوتي يي د هغه د مري نه تاؤ شوي وي، دغلته جوړ کړے شوي قلاګاني چي د انګريز فوځيان په کښي پراته وو. په رواياتی تجارتي لارو قابض وو، د پښتنو په دي خاوره يي خپل نظرونه

جرګه د پښتنو په معاشره کښي شايد د ټولو نه اهمه اداره ده، دا د مشرانو غونډه وی، چي يوه قبيله څومره جمهوری وی، جرګه به يي دغه هومره لويه وی، جرګه کښي ووټ نه شي ورکولے کېدے، او ټولي فيصلي د رايي په اتفاق کولے شي.

د امير وفادار وو. روستو انګريزانو ټوله ضلعه کښي د اباسين نه واخله تر غرونو د لمنو پوري د محصولاتو او عدالتونو نظام جوړ کړو، نو خپل اثر و رسوخ يي دغه درو ته پراخ کول شروع کړو، پښتنو ددي خلاف جنګونه وکړل، محصولات راغونډونکی يي وژل او وخت په وخت يي په انګريز فوځ حملي کولي، انګرېزان د صوبي ښارونو او ښاريو کښي پاتي شو، او ډېر کم به يي غريزو علاقو ته د تللو خطره په سر اخسته.

د نولسمي صدی ختمېدو پوري حالت بدل شو، زار روس خپلي ښيي د وسطی ايشيا بخارا، سمرقند او خيوې پوري اوږدي کړي او انګريزانو سره د روس د طرفه د حملي خطره زياته شوه، او د دواړو توسيع پسنده سلطنتونو يعني انګريز او روس تر مينځه د کپلنګ د وينا مطابق «لويه لوبه» ښه په زور او شور سره شروع شوه، دوی دپاره سرحد «پښتونخوا» کښي امن و امان د فکر مندی خبره نه وه، د دوی په وړاندي سلامتيا د ټولو راښکته کړی وو، د پښتنو په خاوره يي پرقيدونکی سړکونه جوړ کړی وو، او سرحدی کمېشن په پولا سرحدی ستني اودرولي وي، او د پښتنو د خپلواکي افتخار ته خطره پېښه وه.

نوربيا

«داود بخت مندوخېل» پوب

بيامي پر زړګی باندي خبري نوي نوي دي
تاله مي راوړي، ملغلري نوي نوي دي
نوئ دروېزه، نوئ مغل، نوي چالونه دي
يښې پښتنو ته يي شکري نوي نوي دي
اوښکي به مي ورکي شی له ستر ګو که جلا شولي
دا خو ناولده، مسافري نوي نوي دي
ته له ما جلا شوي، بي وفا شوي، زه دي هېر کړمه
بيا مي تلوسي د زړه ملګري نوي نوي دي
مور له ښايستو سره يوه، بله ګوای نه سو
مور ساده مين يو، ستمګري نوي نوي دي
ستا له اند پښتنو سره ناوسه، ناولده يم
زړه ته مي راغلي، زوره وري نوي نوي دي
بخته! زړه هغه، ليلی هغه او زه هغه يمه
بيا مي هم پرخوله باندي سندري نوي نوي دي

لطيف اپريدے






# ايا پاکستان يو ناکامېدونکے رياست دے؟

تېرو ورځو کښې په امريکی رساله فارن پالیسی (Foreign Policy) کښې د فنډفارپيس (Fund for Peace) نومی تهینک ټینک (Think Tank) يو تحقيقاتی رپورټ چاپ شو، چې سرخط يې د ناکامو رياستونو فهرست ؤ

په دغه فهرست (The index of failing states) کښې پاکستان په نهم نمبر، افغانستان په لسم او هندوستان په دريم نوييم نمبر ښودلی شوی دی. په دغه رپورټ د پاکستان سرکار ډېر بد رد ووئيل او په پرېس او ميډيا کښې پرې ډېر بحث مباحثه کيږی لګيا ده، دغه رپورټ دولس عوامل، نخښې يا علامات په ګوته کړيدی، چې د هغو په رڼا کښې يې ناکامېدونکو (Failing) رياستونو ته په فهرست کښې نمبر و رکړے دے. راځئ چې دغه دولس عوامل يا نخښې يوه په يوه وګورو او د پاکستان په حالاتو ورسره ورسره نظر واچوو، او بيا فيصله وکړو، چې دا رپورټ رښتيا دے که نا او ايا پاکستان رښتيا د ناکامی په لور روان رياست دے؟

په دې رپورټ کښې رومبے يا اول علامت د زياتېدونکې ابادی دباؤ (Mounting demographic pressure) دے. د پاکستان ابادی نن شپاړس کروړه او شل لکه ښودلې شوې ده، چې د کال ۱۹۹۸ء د مردم شماری مطابق دغه ابادی ديارلس کروړه درويشت لکه او دوه پنځوس زره (۱۳۲۳۵۲۰۰۰) وه، يعنې د ابادی دوه نيم فيصده د کال په سر زياته شوې ده، ابادی په نن دنيا کښې خصوصاً د وسايلو د تقسيم يا وېش په بنياد وی، دغسې په ننني نړی کښې اقتصادی خوشحالی د هر حکومت او هر بنيادم مقصد او مرام ګرځېدلے دے، اقتصادی يا معاشی خوشحالی د ژوند د بنيادی ضرورتونو لکه ډوډی، جامې، کور، تعليم او صحت د پوره کېدو سره په يو ښه معيار ژوند تېرېدلو ته وايی، په دغه معيار د ژوند تېرول هله کېدے شی، چې سړے داسې کار روزګار يا کاروبار ولری، چې د هغې نه دومره پېسه يا ګټه يا امدن راځی، چې د سړی پرې په دغه معيار ژوند تېر شی.

دغسې حکومتونه په خپل خپل ملک کښې ټول خدمات او شيان (Services and goods) شمېری او د کال په حساب يې قيمت راوباسی چې ورته جمله قومی امدن وايی. چې دا امدن په ټوله ابادی تقسيم کړے شی. نو ترې د سړی د سر امدن راوځی، نو که يو ملک ترقی کوی

امدن او ګټه يې زياته شي، خو ورسره يې ابادي هم دومره زياته شي، چې هغه زياته ګټه يا امدن دغه زياته ابادي وخوري، نو په حقيقت کښې ترقي صفر شي. د پاکستان ابادي شپاړس کروړه شل لکه ده او دوه نيم فيصده د کال زياتيږي. دغسې په کال کښې څلوېښت لکه ماشومان پيدا کيږي. نو که پاکستان څه ګټي هم او امدن يې زيات هم شي. نو دا څلوېښت لکه ماشومان هم د کال څه خوري څښي او دارو درمل او نور ضرورتونه لري، چې دغه زياتي امدن په دوي خرڅ شي، او دغسې بچت ډېر کم يا بيخي هيڅ پاتې شي.

پاکستان کښې صرف دېرش فيصده خلک خوشحاله ژوند تېروي. باقي دېرش فيصده خلک پخپل کوره پوره دي. يعنې تش د ژوند ضرورتونه يې پوره کيږي، او دا باقي څلوېښت فيصده خلک د غريبۍ د کرښې نه لاندې ژوند تېروي. يعنې د ژوند د کم ناکم ضرورتونه يې هم په معياري ډول نه پوره کيږي، ددې سره تړلې مسئله د کار روزګار ده. په پاکستان کښې د څلورو کروړو نه زيات د کار قابل ځوانان. جونه او نور بنيادم بېروزګاره دي، دوی ته هيڅ رڼا نه ښکاري، چې دوی به په راتلونکي وخت کښې په روزګار شي که نا، دا بېروزګاره خلک مجبور شي. چې رنګ رنګ جرمونه وکړي، نشې تماشې کوي. چې د محروم ژوند نه تېښته وکړي، مونږ وينو چې ذهني او نفسياتي بيمارۍ ورځ په ورځ زياتيږي، په دې کښې د غريبۍ او بېروزګارۍ غټ لاس دے، دا مونږ ځکه وايو چې د پاکستان حکمران/حاکمان ددغه مسئلو هيڅ ډول حل نه لري

د ناکامۍ په لور دويمه نخښه په ملک کښې د خارجي مهاجرو لوئے شمېر او د ملک دننه د بې شماره خلکو بې کوره کېدل دي. (Massive movement of refugees and internally displaced people) خان عبدالولي خان مرحوم به پاکستان ته مهاجرستان هم ونيلو. ځکه چې د هندوستان نه تراوسه مهاجر راروان دي. او ددغه د کروړ نه بره مهاجرو نمائنده مهاجر قومي موومنټ(MQM) هر څوک ښه پېژني، د افغانستان د راغلو مهاجرو شمېره هم ډېره لويه ده. چې د طالبانو د حکومت د غورځېدلو نه پس افغانان په کافي شمېر بېرته خپل کلي وطن ته لاړل، خو بيا هم دېرش لکه افغانان په پاکستان کښې شته. کراچۍ ته نن هم د بنګله دېش، هندوستان، ويت نام تهايي لينډ او ځينې نورو ملکونو نه لړ لړ مهاجر راروان دي.

چې وزيرستان او بلوچستان ته وګورو. هلته جنګ لګيا دے، د جنوبي او شمالي وزيرستان دواړو نه نيمه ابادي په هجرت نور پاکستان ته لاړه او د ټانک او بنو نه تر پېښوره او کراچۍ د دوی کډې ورسېدې، په راتلونکي وخت کښې د پښتونخوا د نورو سيمو نه هم د هجرت امکان ډېر دے.

مهاجر تش په ماحول اثر نه اچوي. ورسره ورسره د مقامي خلکو دپاره د روزګار موقعې هم کمې شي. کله يو ځائے بل ځائے کډه کول هم لوئے عذاب وي، چې ترې ډېر معاشي او سماجي مسئلې راولاړيږي. مونږ په پاکستان کښې يوه بله لويه مسئله هم لرو، هغه دا چې د کليو نه ښاريو ته د خلکو يو سېلاب راروان دے. په کلو کښې د نوي ځوانانو دپاره هيڅ کار نشته، هسې هم د کرکروندې نه نوي ځوانان لرې تښتي، نو ښاريو ته خلک راروان دي، چې هلته د ژوند سهولتونه ورځ په ورځ ګرانيږي، لکه ټرانسپورټ، د استوګنې کورونه، ټريفک، روزګار امن امان او په نوې يا جديد طريقه د ودانۍ کولو مسئلې په ګوته کېدے شي.

درېم علامت د ناکامېدونکې رياست اجتماعي خفګان او د هغې په نتيجه کښې د اجتماعي انتقام ميراث دے، (legacy of group grievance that seeks vengeance) دا نښې په پاکستان کښې ډېرې ښکاره دي، لکه د صوبايي خودمختارۍ مسئله چې د پاکستان هومره زړه ده، دا په پاکستان کښې د ابادو قومونو د سياسي، کلتوري او اقتصادي حقوقو مسئله ده، د پښتونخوا د نوم، ژبې، کلتور، اوبو. بجلۍ او په ترقۍ او اقتدار کښې د برخې مسئلې. دا شپېته کاله حل نه شوې، بلوچستان هم ددغه مسئلو په سبب نن په جنګ کښې بوخت دے، او د اسلام اباد او پنجاب نادان حاکمان دې ته تش د درې سردارانو مسئله وايي، په سنديانو مهاجر مسلط کړے شول، بهټو پانسي کړے

...ښي بې دوزل شو، او لور بې نن هم وطن ته نشي
...بو پنجاب دے چې د ټولو په مرې ناست دے
...بلي علاقې د پاکستان تر ټولو وروستو پاتې
...اړه ده، هلته مذهبي جګړې رامخ ته کړے شوې دي.
...او جنوبي وزيرستان د طالبانو په کنټرول کښې
...، هلته قومي مشران وژل کيږي، په باړه خيبر
...کښې د پير او مفتي جګړه کښې د پېښور او
...ورته په لمن کښې په درځنونو خلک مري، خو جابر
...پولټيکل نظام او ظالم ايف سي ار د انګريز د ۱۹۰۱،
...انون دلته بې وسه دے، په نتيجه کښې مرګونه، بې
...اعتبارى، مذهبي او فرقه پرستانه جګړې ورځ په ورځ
زياتيږي، او په باجوړ کښې هم شروع وشوه، د ټولو
خلکو دا يقين دے، چې د حکومت ايجنسيانې په دې
کښې ککړې دي، خلک نه پوهيږي چې حکومت دا سې
ولې کوي، ايا قبايلي علاقې ختموي، يا په پښتونخوا
کښې مذهبي جنونيت خوروي، چې د امريکا او هند يا
افغانستان په ضد احساسات او جذبات پيدا کړي، چې
پښتونستان جوړ نه شي، او پاکستان وران شي، ډېره د
سوچ خبره ده، چې ملکونه په ترقي، خوشحالي،
ورورولي، او بشري حقونو په احترام ستايل شي، که په
فساد او مذهبي جګړو چې حکومت يې پخپله پيدا
کوي، ايا پاکستان ناکامي ته روان دے، که نا، فيصله
په تاسو شوه

د ناکام رياست څلورمه نخښه د ملک نه مسلسل د خلکو
بهر ته تګ دے، (Chronic and sustained
human flight) مونږ چې په پاکستان نظر واچوو، نو
په پاکستان کښې هر تعليم يافته او هنر مند کس دا غټ
خواهش او ارمان لري، چې هغه امريکې يا يورپ ته لاړ
شي، لويو خلکو لکه جرنيلانو، سيکرټريانو، وزيرانو،
جاګيردارو او سرمايه دارو خپل ځان او خپل اولاد ته د
ګرين کارډ (Green Card) د پخوانه غم کړے دے، د
ملک لوړے تعليم يافته خلک چې څوک د ايم ايس سي،
پي ايچ ډي، ايم بي بي ايس او کمپيوټر سائنس ډګريانې
لري، د يورپ او امريکې د تګ د پاره شپه ورځ لاس
پښې وهي، د خور مور کالي او د پلار پټے خرڅوي خو د
ملک نه بهر يورپ امريکې ته ځان رسوي، د هغې زمونږ
د ملک نه مسلسل ښه دماغ په سيند لاهو شي، او د هغه
Brain Drain يوه دوامي او مسلسله مسئله ده، دا خو
شکر دے، چې د يورپ او امريکې ويزې ګرانې دي، يا
پيخي نشته، ګنې که امريکې او يورپ دروازې پرانستي
او هر څوک هلته تلے شي، نيا به وګورو چې څومره تعليم
يافته، هنر مند او خانداني خلک به پاکستان کښې پاتې
کيږي

د ناکامۍ پينځم علامت به يو رياست کښې دا دے، چې
هلته د ګروپ يا طبقې په بنياد اقتصادي ترقي ناهواره
وي (Un-even economic development
along group lines) مونږ چې پاکستان ته وګورو نو
دلته د ګروپونو، طبقو، علاقو او قومونو ترمينځه ترقي
پيخي يو شان نه ده، په ډېر فرق ده، هواره نه ده، برابره نه
ده، د لانديني ناهواره ډول ترقي ته وګورئ

۱) د کلو او ښاريو ترمينځه د ترقۍ فرق، کلي وروستو
پاتې او ښاريې څه نه څه سهولتونه لري، خو بيا هم د
کلي او ښار ترمينځه تر سلو کالو فاصله ده

۲) د مالدار او غريب ترمينځه فاصله او فرق هم ډېر دے،
خانان، سرمايه داران، سرداران، شمګران او غټ افسران
ډېر خوشحاله عمر تيروي، او ټول وسايل د دوی په قبضه
کښې وي، خو مزدور، دهقان، عام کلي وال، د لږې
زمکې خاوند، وړوکے دوکاندار، ريړې والا، واړه
سرکاري نوکران او وړه درميانه طبقه ډېر په سخته او
ګرانه ژوند تيروي

۳) ځنې علاقې لکه پنجاب او کراچي ډېر ترقي يافته
دي، پښتونخوا، سنده او بلوچستان او جنوبي پنجاب
ډېر پسمانده دي، په پښتونخوا کښې د پېښور او
کوټې سره نزدې علاقې ښې او لرې علاقې وروستو
پاتې دي

۴) د قوم يا ګروپ په حساب مهاجر او پنجابيان ډېر
خوشحاله، ترقي يافته او د اقتدار مالکان دي،
بلوچ، سنديان او پښتانه محکوم او وروستو پاتې دي،
او په تيره تيره بلوڅو سره ډېره بې انصافي ده، ځکه چې

د بلوچستان خاوره د پاکستان د رقبې ۴۳٪ ده، او ابادي يې څلورنيم فيصده ده، چې په کښې جنوبي پښتونخوا هم شامله ده، په قومي لحاظ د پښتنون، بلوخ او سندیانو حقوق د اسلامي ورورولۍ په نامه غصب شوي دي. پنجابي د حاكم په حيث د مهاجر سره اتحاد کړے دے. او نن د دواړو شريک حکومت دے. د اردو ژبې په نوم د ورو قومونو ژبې محکومې او شانه دي، د اسلام په نوم دا واړه قومونه د پنجابي او مهاجر منډۍ دي، چې د دوی د کارخانو جوړ مالونه او څيزونه پکښې خرخيږي. د صوبايي خودمختارۍ مسئله دا شپېته کاله څکه نه حل کيږي، چې بيا به ترقي اختياران او برخه وړو قومونو ته هم په لاس راشي. پنجابے ويريږي چې هسې نه د بنګاليانو غوندې دا نور قومونه هم خپله ازادي وغواړي. که د قبايلي منطقې د بنيادي حقونو او ترقۍ نه محرومې دي، هغه هم څکه ده چې پښتانه وروستو اوساتي، او د پنجاب او اسلام اباد مفاد پوره شي، په داسې حالاتو کښې د پاکستان په راتلونکي وخت سوچ اوکړی، چې کاميابي که ناکامي به وي.

د ناکامۍ په لور روان رياست شپږم علامت تېز يا سنګين اقتصادي زوال (Sharp and/or severe economic decline) دے، د پاکستان حکمرانان خو هره ورځ غټې غټې دعوې کوي، چې پاکستان په معاشي لحاظ سره مضبوط دے، او په خپل تاريخ کښې د خارجي سکې جمعواري د ټولو نه زياته ده، چې هغه د اربه ډالرو نه هم بره ده، خو اقتصادي ماهرين وايي، چې ۱۱/۹ نه پس چې امريکې او يورپ پاکستان ته کومې قرضې معاف کړې. قسطونه يې ورته اسان او لرې لرې کړل. پاکستان څکه اقتصادي لحاظ سره ډاډه شو، خو په پاکستان نن هم څلور ديرش اربه ډالره قرضې دي، پاکستان کښې پټرول، ګيس، بجلي، او چيني ډېر ګران دي. بيروزګاري دومره زياته ده، چې قريباً پنځه کروړه د کار قابل خلک بيروزګاره دي. د خوارۍ کښو، دهقانانو او وړو طبقو خلکو ژوند بې کچه ګران او د تکليف نه ډک دے. تعليم يافته خلکو ته هم کار روزګار نشته، ددې هر څه د پاسه د پاکستان فوځي بجټ ډېر زيات او مخ په زياتېدو دے، چې ډاکټر فرخ سليم کال مخکښې ۴۲۷ اربه روپۍ ښودلے ؤ. يو کم شپېته کاله پس هم په پاکستان کښې او سط شرح د تعليم ۴۵ فيصده ده، په فاټا کې ۱۷ فيصده او په زنانه کښې تعليم ۳ فيصده دے. چې په پاکستان کښې د زنانه شرح تعليم ۳۲ فيصد دے. پاکستان مسلسل په تجارت کښې په خساره کښې روان دے. که چرته په پاکستان کوم ناڅاپي افت راغلو. نو بيا به يې پته ولږي، کومه زلزله چې تېر اکتوبر ۲۰۰۵ کښې راغلې وه، نو پاکستان د لوئے فوځ ډېرې غټې بهورو کريسی او د اسلام اباد حکمرانانو په اسلام اباد کښې د مارګله تاور خنې مری قدرې هم نشول راوبستلے، په بالاکوټ او مظفراباد چې څه تېر شو. هغه د هغه خلکو نه تپوس وکړئ. نو د پاکستان اقتصادي مضبوطيا به درمعلومه شي

د رياست د ناکامۍ اړخ ته د تګ اووم علامت د رياست په جرمونو کښې شريکېدل او د هغه ناجايز ګرځېدل دي، (Criminalization and deligionization of state) ددې مطلب دادے چې د رياست ادارې، د سرکار خلک، امن و امان ساتونکي او د مجرم او مجرمانو د مخنيوی ذمه وار خلک په جرمونو کولو کښې پخپله شريک دي، دا دولتي ادارې او سرکاري خلک د قانون په ضد کارونه کوي، قانون ماتوي، او د مجرمانو سره امداد او مرسته کوي، او د هغې ګټه د مجرمانو سره په شريکه خوري.

نن چې مونږ پاکستان ته وګورو نو هېڅ يوه اداره د جرمونو نه پاکه نه ده، عدليه په رشوت او بې انصافۍ بدنامه ده، انتظاميه خو په بډو رشوت او غلاګانو ډېره د پخوانه بدنامه ده، مقننه يا د اسمبلو غړی د خپل پرمټ او ګټې نه علاوه نور کار نه لري، لږه موده مخکښې چې د سېنټ دپاره په انتخاب کښې تر ملايانو پورې ممبران څرنګ خرڅ شول، داسې ټپېر مولۍ هم نه خرڅيږي، پوليس چې د رياست ټوله زياته مخامخ اداره ده، او دا قانوني او ائيني فريضه لري، چې امن و امان وساتي، د

خلکو د مال او سر حفاظت وکړي، دومره بدنامه او بې اعتباره دي، چې خلک په ډاګه وايي، چې اتيا فيصده جرمونه د پوليس په صلاح مشوره او مرسته کيږي، که دا مبالغه او غلطه وي، خو د پنځوس فيصد نه زيات خو ضرور د پوليس په ملاتړ کيږي، د فوځ اداره سامان او مال اخستونکے ډائريکټريټ پسې خو په اخباراتو کښې هم راغلي چې دوی څنګه بډې رشوت اخلي. ائي اېس ائي چې څه کوي، ټول خلک ترې خبر دي، نن جج، جرنېل، ملا، ډاکټر، وکيل، انجينر، افسر، سياستدان ټول د اولس په نظر کښې غله او مجرمان دي، چې خلک په يوه اداره هم اعتبار نه لري. نو دا ځکه چې ددغو ادارو خلک چې حکومت رياست ترې جوړيږي يا جوړ دے، په جرمونو کښې شريک دي.

د ناکامۍ اتمه نخښه د اولسي خدمتونو د ادارو په تېزۍ، مسلسل خرابېدل او ګډوډېدل دي، (Progressive deterioration of Public services) پبلک سروس هغه نوکرۍ يا سرکاري خدماتو ته وايي چې څوک چې د سرکار د خزانې نه تنخوا اخلي، دغسې ټول سول سروس، پوليس او نورې ټولې ادارې چې د خلکو د مسئلو دپاره جوړې دي، په دغه قسمه خدماتو کښې راځي، راځئ چې لږ په شاه وګورو، چې کله پاکستان جوړ شو نو د انګرېز نه يوه چابکه او مستعده نوکرشاهي پاتې شوه، پوليس که هر څو لږ وو، خو چست او عموماً ايمانداره وو، افسرانو غلا غلطي نه کوله، په ټوله صوبه کښې يو جج باندې د رشوت اخستو ګمان نه ؤ، خو نن وګورئ افسران په سلو کښې ۹۸ فيصده د کار غله او رشوت خواره دي، پوليس د مجرمانو سره په اکثره جرمونو کښې شريک او په ججانو د رشوت او نا انصافۍ الزام دے، ځنې پوهان او ماهرين وايي، چې په پاکستان کښې د اصلاح هر کوشش د منفي نتيجو سره مخامخ شوے دے، او ځکه اصلاح دلته ممکنه نه ده. د هر څه دپاره قانون شته، خو عمل پرې نشته، بلکې هر قانون د عمل کولو دپاره نه بلکې د خلاف ورزۍ او ماتېدو دپاره جوړيږي، د قانون حکمراني نشته، انصاف په پېسو خرڅيږي، خبره د کمزوري او زورور ده، په پېسه هر کار چې قانون يې اجازت نه ورکوي، کيږي، دغه واړه د اولسي خدماتو ادارې دي، چرته چې په رشوت هر کار کيږي، پېسه د هرې بېمارۍ علاج دے، د غريب او کمزوري بس يو خدائے شته، قانون کښې دده حق ګټل دومره ګران کار دے، چې د نه منلو دے، ځکه خو دا خبره ډېره مشهوره ده، چې «يه اس کا پاکستان هے جو صدرِ پاکستان هے».

د يو رياست د ناکامۍ نهمه نخښه د انساني حقوقو په لويه پيمانه خلاف ورزي ده، (Widespread violation of human rights) په پاکستان د خپل عمر د نيمې نه زيات وخت فوځي حکمرانانو باچايي کړېده، او نن هم يو فوځي جرنېل حکمران دے، جنرل ايوب خان، يحيی خان او ضياءالحق خو مارشل لاء لګولې وه، او د ائين قانون او بشري حقوقو خبرې چا نشوې کولے، پروېز مشرف هم يو عبوري ائيني حکم جاري کړو.

نن په بلوچستان کښې جنګ دے، او هلته د يوې اندازې مطابق څلور زره کسان چې په شک بنديان دي، په وزيرستان کښې په سلګونو خلک مړه شول، مشران قتل شول، په هره تانه کښې هره ورځ او هره شپه د انساني حقونو څه ناڅه خلاف ورزي کيږي، د افغان مهاجرو سره خو بې سرېتوبه سلوک کيږي، داسې لکه چې هغه خو بيخي انسانان نه وي.

د ښځو په هکله خو په کليوالو او قبايلي علاقو کښې د انساني حقوقو هيڅ تصور هم نشته، د ښځې رضا مرضي په يوه خبره کښې هم څه معنی نه لري، حتی چې کله کله خو ښځه د څاروی په شان خرڅه شي، په پاکستان کښې د ښځو تعليم شپېته کاله پس هم ۳۳ فيصده دے، په قبايلو کښې ۳ فيصده دے، په کليوالو علاقو کښې دلس فيصد نه زيات نه دے، ۳۳ فيصد خو د کراچۍ، لاهور، پېښور او نورو ښارونو په اوسط ښودلے شوے دے.

اوس لږ د غېر مسلم اقليتونو حال واورئ، په دې کښې د سندهـ لس دولس لکه هندوان د پښتونخوا سکهان، هندوان، قاديانان، عيسايان او نور شامل دي، په قومي اسمبلۍ کښې چې کوم منتخب نمائندګان ددغه اقليتي

خلکو دی. هغوی څه نشی وئیلے. نو نور به څه وکړی. یا به څه ووایی. کوم حقوق چې د پاکستان په ائین کښې او د ملګرو ملتونو په اعلان نامه کښې ورکړے شوی دی. د هغې خلاف ورزی هره ورځ هر چرته کیږی

د ناکام ریاست لسم علامت دا دے چې حفاظتی قوتونه یعنې فوځ او نورې متعلقه ایجنسیانې په ریاست کښې د ننه د بل ریاست حیثیت لری
(That security apparatus functions as a state within the state)

د پاکستان په تاریخ نظر واچوئ. جنرل ایوب خان د جناح صیب د مرګ نه پس په حکومت نظر لرلو او په هره مسئله کښې دده مداخلت او مشوره هر چاته معلومه وه. تر هغه چې اخر یې په اکتوبر ۱۹۵۸ کښې نېغ په نېغه اقتدار لاس ته کړو. او د پاکستان پوره لس کاله حکمران ؤ. ورپسې یحیی خان بیا ضیاءالحق او په اکتوبر ۱۹۹۹ کښې جنرل پرویز مشرف حکومت د فوځ په زور ونیو. خفیه ایجنسیانو خصوصاً (ISI) ائی ایس ائی خو د حکومت نه هم زیاته زوره وره ده، ائی ایس ائی په ټولو سیاسی ډلو کښې تخریب او مداخلت کړے دے. او دا ډلې یې تقسیم در تقسیم کړې دی.

نن جنرل مشرف د طالبانو ملایانو او القاعده په ضد یو څه وایی. او ائی ایس ائی په میدان بیخی بل څه کوی، ځنې خلک وایی چې فوځونه د ملکونو د دفاع دپاره جوړیږی، خو پاکستان د فوځ دپاره جوړ شوے دے، حقیقت دادے چې سول سوسائټی ډېره کمزوری ده، سیاسی ګوندونه د ائی ایس ائی د لاسه ازادانه عمل نشی کولے. په دفاعی بجټ پارلیمنټ بحث نشی کولے، حکومتونه ورانول د دوی دپاره حلوا خوړل دی، د بېنظیر بهټو او نواز شریف حال وګورئ. دوه دوه ځله د ملک وزیراعظمان پاتې دی، خو خپل وطن ته نشی راتلے، که اسمبلی وی. او که هر څو وزیر اعظم وی، خو اصل طاقت او اختیار د فوځ سره وی. هغه فیصله کوی، چې چا ته به څومره اختیار ورکوی. او څوک به د چا سره جنګوی. نواز شریف او بېنظیر بهټو به چې د یو بل خلاف «بېنظیر هټاؤ»«نواز شریف هټاؤ» مطالبې کولې، یقیناً دا مطالبې د فوځ نه وې. او دغسې د جمهوریت قافله به د فوځ دلاسه وشوکېده. او بیا به هم کیږی

د ناکامی په طرف د تللو یوولسمه نخښه داده چې د خواصو یو مخصوص ټولګے راوچت شی. او اقتدار ته ورسی.(Rise of factionalized elites) مونږ چې پاکستان ته ګورو. نو د جرنېلانو سره سره جاګیردار او مالدار خلک سره په حکومت کښې را غونډ شی او دغسې دوی د پاکستان په حکومت کښې هر وخت په اقتدار کښې وی. کله تور او کله سپین نوم خان ته کېږدی. خو اختیار همېشه د نوکر شاهی. جاګیردار او په تېره تېره د سرمایه دارو په لاس کښې پاتې شوے دے. په هر دور کښې مخصوص خلک په اقتدار کښې وی. پرمتونه. پلاټونه او نورې ګټې هم ددغه خلکو وی. او هم دوی د پاکستان «اصلی وفادار» دی. نن سبا ملایانو ته هم حکومت په لاس ورغلے دے، او دوی هم په تېزۍ مالداره کیږی لګیا دی، د اهم کیواهم سره ترلی خلک هم لګیا دی. په ډله ایزه توګه مالداره کیږی، په بلوچستان کښې چې څوک د عطاءالله مېنګل، نواب اکبر بګټی،نواب خیر بخش مری او بلوچستان لبریشن بد وایی او د جرنیل او حکومت مرسته او خوشامنده کوی، هغوی هر رنګه فایدې اخلی، او ګټې کوی.

په فاټا یا قبایلی علاقو کښې مخصوص مشران، ملکان چې د پولټیکل ایجنټ او ګورنر صفتونه کوی، خوشامندې کوی، هم هغو ټولې ګټې خوری.

لنډه دا چې په یو غېر جمهوری ټولنه او ریاست کښې د خوشامدګرو او مفاد پرستو مخصوص ټولګے په اقتدار کښې شریک شی، د هغوی په وینا هر څه کیږی، او هم دوی دګټو وټو خاوندان شی، دغسې د مخصوصو مفاداتو ملګری سره شریک شی، نور خلک او وطن نه وینی، نه یې منی، بس خپلې ګټې ورته ښکاری، اخر ملک ډوب کړی، ریاست او حکومت ناکام کړی.

د ناکام ریاست دولسم علامت دا دے، چې په دغه ملک کښې خارجی ملکونه یا بېرونی لوبغاړی لیډران مداخلت کوی، (intervention of other states or external actors) هسې خو په وړوملکونو کښې غټ

ملکونه او د دوی لیډران تل مداخلت کوی، هلته
حکومتونه بدلوی، او د خپلې خوښې کسان په تخت یا
کرسۍ کښېنوی، تر څو چې د پاکستان تعلق دې په دې
هکله به د هر پاکستانی سمدستی او فوری ځواب دا وی
چې په پاکستان کښې د امریکې دومره او داسې حکم
چلیږی، چې شاید په امریکا کښې به هم داسې نه
چلیږی، په کال ۱۹۵۵ کښې چې پاکستان په سیټو او
سېنټو کښې شامل شو، د هغه وخت نه تر ننه پورې د
امریکې او مغرب سره پوخ نکاح تړلے شوے دے، که چا
لږه نافرمانی وکړه، نو د ذوالفقار علی بهټو غوندې
سرے په دار شو، او ضیاءالحق ته چې نور ضرورت پاتې
نشو، نه هډوکی یې هم معلوم نشو، د ۹/۱۱ نه پس
امریکې مونږ نه پوښتنه وکړه، چې چا سره ودرېږئ،
«زمونږ سره یا زمونږ په ضد» نو مونږ د پنځوسو کالو
خپله پالیسی (د اسلام په هکله) بدله کړه، او امنا
صدقنا مو ووئیل او تر ننه زنده باد وایو، ځکه چې څه
وزیرستان او څه بلوچستان؛ کیږی به هغه چې امریکایان
وایی، او د دوی خوښه وی.

په کار دی، چې زمونږ په پالیسو کې اعتدال او توازن
وی، که امریکه یا غرب مونږ ته دا تعلیم، ترقی،
سائنس، ټیکالوجی او اقتصادی میدان کښې امداد
راکوی، نو هر کلے ورته وئیل په کار دی، ځکه چې بل
څوک مونږ د دغه پسماندګۍ نه وباسی، خو خپلواکی
زمونږ بیخی خرڅول د وطن په ګټه نه ده، دغسې د جهاد
یا اسلام په نوم د امریکې په ضد چغې هم بې ځایه دی.

د ناکامی دا اوولس نخښې، علامات یا وجوهات په
پاکستان کښې څومره شته، یا نشته په دې هکله په روان
بحث کښې اختلاف دے، خو بیا هم چې څنې خبرې
یو تریخ حقیقت وی، منل په کار وی، مونږ په دې
خوشحالیږو چې پاکستان ناکام یا وران شی، ځکه چې د
ازادی په جنګ کښې د موجوده پاکستان د هر چا نه
زیاته قربانی پښتنو ورکړې ده، او سل کاله یې د انګریز
سره په توره او ټوپک جنګ کړے دے، لکونه پښتانه
جیلونو ته تلی دی، او په سلګونو کسان په دغه
جدوجهد کښې شهیدان شوی دی، خو په پاکستان نن هم
هغه خلک حکمرانان دی، خوشحال دی او د سرو سپینو
مالکان دی چا چې د انګریز خدمت او ملګرتیا کړې وه.
د باچاخان ملګری غداران او د انګریز ملګری وفاداران
شول، نن هم په پاکستان کښې د فوځ حکومت دے او په
فوځ په کال کښې تقریباً پنځه سوه اربه روپی لګی چې
زمونږ د نیمې نه زیات خلک بې تعلیمه دی او د غریب
سړی ته دارو درمل نشته، هم دغه فوځ او فوځی
حکومت ؤ چې پاکستان وران شو او د مشرقی پاکستان
نه بنګله دیش جوړ شو خو چا نه تپوس او نه شو چې
پاکستان چا وران کړو حالانکه ملکونه او ریاستونه په
ډېر زور قربانی او تکلیف جوړیږی.

پاکستان کښې مسلسل غلاګانې، بدې رشوت، بې
ایمانی، منافقت، ناراستی، کمیشن، ملاوټ او خرابی او
جرمونه په زیاتیدو دی، دلچسپه خبره داده چې
جماعتونه او مونږ ګوزاره خلک هم د خدائے په فضل هم
دغسې زیات شول، خو ښه خلک کم شول، او نتیجه داده
چې که په پاکستان کښې د اصلاح او خرابی ختمېدو
دپاره هر څومره کوششونه اوشو، ګامونه پورته کړے
شول او قانون او قاعدې جوړې شوې، خو د څه اصلاح نه
کیږی او خبره جوړیږی نه، بلکې نوې نوې خرابی او
جرمونه رامخ ته کیږی، د صحت او تعلیم نظام ورځ په
ورځ مخ په زوال دے، د خلکو په هیڅ اداره اعتبار
نشته، افسران، وزیران، جرنیلان او اخر ملایان شپه
تېروی او حجره ورانوی، اخر دا ملک به څوک ساتی چې
د هر چا دغه حال دے، ایا د پاکستان اصلاح کېدے شی
او که نا نو مونږ چرته لاړ شو، د ځان څه غم وکړو، خانه
جنګی خو نه ده را روانه، چا ته څه رښا ښکاری او که نه
ښکاری نو څه په کوو، څه کول په کار دی؟

• • •



# د اجمل خټک شخصیت

**دا مقاله په ۱۹ اپرېل ۲۰۰۶. د افغانستان د لوړو زدکړو د مرکزي وزارت له خوا د لوئے شاعر او ادیب پیاوړی ادیب د اتیایمې کلیزې په درناوی کښې په دوه ورځنی علمی ادبی سمینار کښې واورولے شوه.**

ښاغلے اجمل خټک د یو-انقلابی شاعر او د یو نظریاتی با اصوله مترقی قومی ګوند د مخلص او کوټلی دانشور لارښود په حیثیت ټوله پښتونخوا کښې. د وطن په هره سیمه کښې پېژندے شی، د پاکستان نه بهر په ګاونډی ملکونو کښې هم د شعر او ادب لوستونکی د اجمل خټک د فن نه خبر دی. افغانستان خو زمونږ دویم کور دے. دد پخاوري وسېدونکو سره زمونږ د مینې او وینې تړون دے. د اجمل خټک د فن او شخصیت پلوشې خو د ایشیا، افریقې او د یورپ عالمی ادب پوهانو ته رسېدلې دی

شخصیت د مادی وجود او معنوی ښکلا د اشتراک نه عبارت وی. ښه او رغونه کمال او جمال لری، خو کله چې دې جمال او کمال سره د کردار ښکلا او د جذبو ځلا یو ځائے شی، نو یو مثالی شخصیت ترې جوړ شی، دا جوخته د ګل او د خوشبو د لیت او د رڼا او د روح او قالب معامله ده. چې د یو پیکر ځانګړے شان په نخښه کړی، د نړی په تاریخ کښې د نبیانو او د روحانی هستو نه پرته د تاج او تخت د خاوندانو او د عسکری قهرمانانو شخصیتونو د بنیادمو د توجه مرکز وی. بیا د مفکرینو مدبرینو عالمانو ادیبانو شاعرانو معمارانو او مصورانو د شخصیتونو، فکرونو او کارونو تذکرې وی. د ښاغلی اجمل خټک د شخصیت بېلابېل اړخونه دی، ګل د ریدی ګل دے، چې یو ترې سوکوم د لاندې بل دے.

سـتا د ښایـست ګلونـه ډېـر دی
جـولۍ مـې تنګـه زه بـه کـوم کـوم ټولومـه

کله چې مونږ د دوی د نوم نسب علمی ادبی معاشرتی سیای دینی او اخلاقی صفتونه را یو ځائے کړو، او بیا ترېنه ژوندے انسان جوړ کړو، نو دا به د هغوی د شخصیت یو تصویر وګڼلے شی.
د اکوړی خانان د دوست محمد خان کامل مومند په حواله ترې خټک دی، اکوړ خان دا اکوړې کلے اباد کړے ؤ، ددې مشر خان د هغه د ځوئے یحیی خان او بیا د

شهباز خان په قبیله کښې او د مغلو په حکومت کښې یو اعتبار ؤ، خوشحال خان خټک خو یو جامع الصفات انسان ؤ، چې تاریخ ورته د توري او د قلم خاوند وایی. او عالمان او مفکران یې نابغه شخصیت مني، د اجمل خټک په کوچنوالی کښې په هند او د پښتنو په ځنې سیمو د پیرنګیانو حکومت ؤ، محترم اجمل خان خټک د خپل کتاب «قیصې زما د ادبی ژوند» کښې په " مخ ۱۸ او ۱۹" مونږ ته خبر راکوی، چې د اکوړی خان اعلی محمد زمان خان خټک ؤ، دا عالم فاضل روایتی پښتون د خپلې قبیلې او علاقې مشر ؤ، ادیب او شاعر ؤ، د پیرنګیانو په حکومت کښې باعتبار ؤ، د خان بهادر خطاب یې ورکړے ؤ، کله چې د مسلم لیګ په تحریک دوی دا خطاب پرېښود، نو قوم ورته د "خان اعلی" خطاب ورکړو، اجمل خټک په دغه کتاب کښې په مخ ۲۲ لیکی:

"چې زه د اووه خوئښندو نه پس د پلار ځوئے پیدا شوم، نو خان بابا ډېر خوشحاله شو، په دې خوشحالۍ کښې راغے، او په خپل لاس یې د غرابین ډزې وکړې، او په ما یې اجمل خان نوم کېښود، بیا چې زه ځومره ځومره لوئېدم، نو پلار به د ځان سره خان بابا ته بوتلم د خان بابا دومره رعب ؤ، چې خپل زامن ورته را مخامخ کېدے نه شول، ولې زه به د پلار سره د هغه مجلس کښې نېغ ناست وم، دغه شان زما دغه د قبیلوی، سیاست علم ادب او حکمت مجلس نصیب شو".

د قام قبیلې دې مشر خان محمد زمان خان سره د اجمل خټک د ناستې پاستې دا تعلق مسلسل ؤو د خان اعلی حجره عوامی وه، هر څوک به راتلل او تېنګار به کېدو، دلته به د نایابه کتابونو په تکل کښې عالمان هم راتلل، مولانا محمد امین خوږیانے د تاریخ مرصع د مطالعې د پاره د کابل نه د خان حجرې ته راغلے ؤ، نو د اجمل خټک په قول:

"خان بابا ورته زه هم حجرې ته رابللے وم" (قیصه زما د ادبی ژوند)

د خټک صاحب د شخصیت په رغونه کښې ددې قسم لویو عالمانو او محقیقینو سره تعلق لوئے کار کړے دے،

**رښتیا څه وی؟**

رښتیا صرف دا دی چې هغه په عمل کښې د «ښه» پیدا کولو سبب شی یو خیال تر هغې ښه دے چې کله د هغې څه عملی قدر قیمت وی او ... خو پام لرېِ فکر نور په کار دے تاسو ددې سړی دغه نظر یا نظریه د دوکاندارانو د نظریو سره مه ګډه وډه کوئ کله چې دا سړے وایی چې رښتیا یا ښه هغه دی چې د کوم څیز عملی قدر و قیمت وی او فایده وی نو هغه د مالی معاملاتو په باره کښې د ګټې تاوان خبره نه کوی، بلکې د اخلاقیاتو خبره کوی دا سړے د دولت جمع کوونکو خلکو ته ډېر په بد نظر ګوری او په دغسې خلکو لعنت ملامت وایی ددې سړی نتیجه پسندی د یو جمهوری تولنې د ازادو خلکو ترمنځه د اشتراک عمل په باره کښې اخلاقی او د یو لحاظ نه عملی ترغیب ورکول دی. ددې سړی خیال خو دا دے چې د ژوند معنی او مطلب د انسان او انسان ترمینځه د جداجدا جدوجهد په وجه ممکنه نه دہ، بلکې د ژوند معنی په شریکه د بدی د قوتونو خلاف د انسانیت شریک جدوجهد پوره کولے شی.

مولانا محمد امین خوږیانی اجمل خټک د کابل د پښتو ټولنې سره ملګرے کړو، بیا یې حبیبی صاحب سره هم رابطه وشوه، مشاعرو له تلل، د مکتب معلمی، د راډیو وظیفه او بیا د قېدو بند تجربې، اذیتونه او کابل ته په درناوی تلل او د علم او ادب او سیاست غړو سره ملاقاتونه، د باچاخان او ولی خان سره د مینې او عقیدت مراسم او سیاسی همکاری او د ستر اجمل خټک افغانستان او بهرنی دنیا سره تعلق دا شخصیت نور هم لوړ کړے دے، د ګران ادیب شاعر او محقق همېش خلیل صاحب په کتاب "د قلم خاوندان" کښې په مخ ۱۴۰ د اجمل خټک د زېږېدو کال ۱۹۲۲ء لیکلے دے، او د محترم پلار نوم یې حکمت خان درج دے، د خټک صاحب د خپلې وینا مطابق محترم حکمت خان نالوستے ؤ، هغه وایی چې خپلو زمکو ته یې هم توجه نه وه، په هند کښې به یې د شېدو محمد علی خان تیکدار سره خدمت کولو، او چې کمزورے شو، کلی ته راغے نو بیا یې پردی دهقانی کوله. دغه زمانه کښې په پښتنو کښې تعلیم یافته خلک ډېر کم وو، خو هر کله چې د حکمت خان ناسته پاسته خان اعلی سره وه، نو د علم په حکمت پوهه ؤ، ځکه یې غوښتل چې اجمل خټک دې ډېر سبق ووایی.

اجمل خټک د مکتب د عمر نه وړاندې عبدالقیوم امام استاذ سره ناظره قران. خلاصه. منیه. د فارسی کتابونه کریما. ګلستان او بوستان وونیل. او ترور بی بی سره یې د پښتو کتابونه نورنامه جنګنامه. رشیدالبیان ولوستل. په حجره کښې به یې خدائی خدمتګاران لیدل. پښتون رساله به یې لوسته. په ۱۹۳۵ء کښې د مسجد نه سرکاری مدرسې ته لاړ په دویم صنف کښې داخل شو. خط یې لیکلے شو. د پښتو ډرامه د "وینو جام" یې هم په خپله ولوسته هم یې ټول کور او حجرې ته واوروله. له دې زیرک وړوکی پېژندلې وه. چې دا ډرامه د پښتنو د خرابو عادتونو او غلطو رسمونو د اصلاح دپاره ده.

د اجمل خټک محترم پلار په ۱۹۳۲ء کښې وفات شو. اجمل خان په څلورم صنف کښې اول پاس شو. په سرکاری سکول کښې داخل شو. په اتم صنف کښې په ګرده صوبه کښې اول راغے. څلور روپۍ وظیفه یې وشوه. نو د پېښور په هائی سکول کښې داخل شو. په ۱۹۴۲ء کښې د ازادئ تحریک په زور کښې شو. هلکانو به جلوسونه ایستل. اجمل خټک هلکانو ته نظمونه واورول د پولیس په نظر کښې راغے سبق پاتې شو.

اجمل خټک د علم شوق په هر حال کښې ژوندے ساتلے ؤ. د هر چانه یې زده کړه کوله. او معلم شو. دکتاب او د شعر مشغله یې جاری وه. په حجره کښې یې بزم ادب جوړ کړے ؤ. مشاعرو له به تلو. ان چې د پښتو انرز ادیب فاضل او منشی فاضل امتحانونه یې پاس کړل. بي اې یې هم وکړه. خو پیرنګی د هغه شعر او فکر نه خوښوؤ. نو په خپله وایی "زه یې تنګولم او بدلولم".

خو د خپل شعر او فکر په ترنګ کښې دا د شاګردانو او ملګرو استاذانو خوښ معلم د هر کلی د سکول په خدمت خوشحاله ؤ. مطالعه او عوامو سره د فکر او عمل د اشتراک تجربه یې کېده.

د خټک صاحب تنظیمی صلاحیتونه هم په لړزان وو. بزم ادب او ادبی ټولنې به یې په کلوی کښې جوړولې. کومې علمی ادبی او اولسی جرګې چې اګاهو جوړې وې. هغوی سره مرسته او په دې طریقه د علم و ادب په حواله د فکری او عملی بدلون لیارې جوړول یې د هځو هدف ؤ.

لویو لویو ادیبانو شاعرانو او عالمانو سره د مینې تعلق او د کشرانو ډاډګیرنه او د قام د وچتولو تدبیر د اجمل خټک د شخصیت یو رنګ دے

په کلی کښې د پیر مهربان علی شاه په عرس کښې د پښتو ژبې ګل رنګه او اتش بار مشاعرې. د دارالعلوم حقانیې د اجرا دپاره د خپلو ملګرو په مرسته خپل په خپل په جمات او کوڅه په کوڅه ګرځېدل. په خلکو د دینی مدرسې دپاره چندې کېښودل او مولانا عبدالحق صاحب د دارالعلوم قیام او خدمت ته اماده کول. د اجمل خټک غوندې جمال افروز فکر د سنګین غوندې کانیز عزم او د کسکر غوندې سوی لوی ځوانان غوښتل. دا لېونی د خدائے ملنګان دی په کانو به یې نه ولو او که شېطان هو ارو مرو ګوزار ته لاسو نه تخنوی نو اجمل خټک په خپل نوی چاپ شوی کتاب کښې اعلان کړے دے.

**چې په کتو لوټو غنو مې څوک ولی**
**زه مسکے شمه دعا ورته کومه**

(د ژوند چغه- رباعیات- مخ ۲۳)

دا دینی خدمت او دا نبوی اخلاق د هر مدعی په نصیب کښې نه وی. دا خو د طایف د فقیر انداز دے. چې د زړه پرهرونه یې دګلونو مسکا او د مینې خوشبویی ویشی د نظم سرې سروټکې لعلونه وی. که دنثر خورې ورې پرقېدونکې ځلېدونکې ملغلرې وی. اجمل خټک د خپل زورلی زپلی قوم د نیم ګړی نیمه خوا ارمانونه نه دا هر څه ځارول غواړی. دې لافانی ذات ته د خپل ګل ورین قلم په ژبه دعا کوی.

لویه خدایه ! لویه خدایه
دا تیرې په مونږ رڼا کړې
ستا له مینې مو اګاه کړې
زورولی راکښې پیدا کړې
په سینو کښې چې مو زهر
د کینو د تربګنو دی
په ذهنونو کښې مو جالې
د وهمونو د تیرو دی



# د افغانستان اسلامي جمهوريت د لوړو زده کړو د وزارت لخوا د اجمل خټک د اتيايمې کليزې د نمانځنې په سمينار کښې د اجمل خټک شرکت او وينا

**د دواړو ملکونو پښتانه چې هم په تاريخي لحاظ هم په مېداني(معروضي) لحاظ هم په ثقافتي لحاظ او هم د ژوند د ژواک په بنياد ځان د يو بل نه جدا نه ګڼي.**

زه چې ددې سيمينار نه خبر کړے شوم، او زړه له مې راغلل چې دې غونډې ته به ورځم او هلته به ماته څه وئيل هم وي، نو ددې سره راته د افغانستان نننۍ وضع او د مستقبل دپاره مسئلې،هيلې او ارمانونه او د سيمې او نړۍ د راتلونکي وخت دپاره سوچونه مې زړه او ذهن ته راغلل نو ورسره د علامه اقبال دا اشعار راياد شول چې:

اسيا يک پيکر اب و ګل است
ملت افغان دران پيکر دل است
از کـــــشاد او کـــــشاد اســـــيا
از فـــــساد او فـــــساد اســـــيا

معنی دا چې که ايشيا د خټو لوټو يو بت دے، نو افغان ملت پکښې د زړه حيثيت لري، يعنې ددې ملت سوکالۍ او خوشحالۍ د ايشيا سوکالي او خوشحالي ده، او په فساد کښې يې فساد دے او ما چې ددې اشعارو د معنی په رڼا کښې ددې هېواد او سيمې په تاريخ نظر واچولو نو دا اشعار راته سل په سل درست ثابت شول.

نن چې ګورم چې افغانستان د دېرشو کالو د شر فساد نه راوتونکے ښکاري د نوی جوړښت په لور روان ليدے شي، او په دې ټګ کښې د ټول ملک او ملت د ژوند ژواک په هـره سـطحه، هـره زاويـه او هـر اړخ د تعمير ،ترقۍ، ثبات او استحکام قدمونه پورته کيږي، نو ورسره ورسره د ملت د مشرانو او روشنفکرانو ددې ملک او ملت د ټولو قومونو قبيلو او خلکو د ژبو ادب او کلتور(فرهنګ) پالنې او روزنې ته پوره پوره پام دے، چې د ملي وحدت بنيادونه او د ګاونډي(همسايه) ملکونو او اولسونو سره د وروروليۍ د تعلق موثر عوامل هم دي.

د افغانستان د خلکو دغه ژبې او ثقافت(فرهنګ) که يو خوا ته د ګاونډي ملکونو سره د خوږې وروروليۍ جوړېدو ذريعه کېدے شي، نو بل خوا د سيمې د خلکو زړونه هم په يوه لړۍ کښې پېري، لکه د مثال په توګه پښتو ژبه چې دلته (بره هېواد) کښې تاسو يئ، نوهم دغه پښتو پاکستان کښې د پنځه دېرشو مليونو وروڼو خويندو مورنۍ ژبه هم ده.

زه دې سمينار ته او دلته چې کومې هڅې او تکلونه کيږي، هغې ته په دغه بنيادونو ګورم، ځکه راغلے يم، دعا کوم، اميد لرم، چې دا او داسې غونډې به ددې لارې رڼا شي.

دا خدمت ما ته د ډېرې خوشحالۍ وړ ښکاري او هر هغه چا ته به د خوشحالۍ خبره وي چې:

۱. د افغانستان نن او سبا روښانه او مستحکم لیدل غواړي.
۲. دا هم غواړي چې ددې ملک د قدرتي وسایلو پټو خزانو دا ډکه خاوره د اولس مضبوطې متې همت او مړانه په خپله خوښه او رضا په نوي نړۍ کښې موثر رول ولري.
۳. ددې ملک جغرافیایي محل وقوع ته د ټولې نړۍ سترګې دي او ددې ټاټوبي ځلېدونکې نمر ددې ملک د ښکلا، صحت او سوکالۍ نور دے. په دې لحاظ افغانستان د نړۍ د سیلانیانو جنت او دنیا کښې یو اهم ملک دے.
خوشبختانه د افغانستان ژبې د ګاونډي (همسایه) قومونو سره د تفاهم، تکلم او روابطو د ښه والي موثرې ذریعې جوړېدے شي.
ددې صلاحیتونو او قدرو منزلت سره په نوې دنیا کښې به خدمت کولے شي.
ددې حقیقت نه هم انکار نه شي کېدے، چې پښتو ژبه د افغانستان او پاکستان تر مینځه د خوږې ورورولۍ، یلکې خپلولۍ خبره ده. یقین مې دے، چې ددې دواړو ملکونو ذمه واران، روښنفکران او اولس به دا خپلولي اولینه فریضه وګڼي. او باید چې د دنیا او ددې سیمې قوتونه کوم چې دې دواړو ملکونو ته څه اسره او ضرورت لري. هغوي ته به هم لازمه وي، چې ددې ژبې نه د چارسو پل جوړولو کوشش وکړي، چې ددې ټولې سیمې د امن سوکالۍ او ښو تعلقاتو دپاره وي. ددې سره سره دا هم حقیقت دے. چې د دواړو ملکونو پښتانه چې هم په تاریخي لحاظ هم په میداني (معروضي) لحاظ هم په ثقافتي لحاظ او هم دژوند د ژواک په بنیاد خان د یو بل نه جدا نه ګڼي.
زه مناسب ګڼم چې زه ددې وینا په ثبوت کښې یو تاریخي حقیقت دریاد کړم. او هغه دا چې کله اورنګ باچا خپل راجپوت لښکر د کابل ژغلو دپاره ولیږلو نو زمونږ نیکه خوشحال بابا هلته د اباسین د غاړې نه چغه کړه چې:

د کابل منې خوراک دے د طوطیانو
نن له هنده پرې خواره شول تور زاغان

نن هم هغه اولسونه دومره بې ننګه نه دي، چې ستاسو په سر و مال وربېدونکو بمونو د تباهۍ نه به بې غمه پاتې شي. او هم دغسې دلته به د دې بر هېواد ورونه د هغه څه نه بې پرواه کښېني چې هلته کومه غمیزه مونږ ته پېښه شي. یعنې دواړه خواوې د یو بل نه بې تعلقه پاتې کېدے نشي. نو لازمه ده چې دې ته پوره توجه وشي. او دې دواړو ملکونو او علاقایي او عالمي طاقتونو ته هم دامن د فضا او اعتماد خواږه تعلقات په کار دي. او د پښتو ژبې د ادب او ثقافت نه د امن دوستۍ پل جوړول ډېر لازمي دي. د جنګ میدان هېڅ کله نا......!!!
دغه حیثیت او اهمیت ددې وطن د نورو ژبو هم د نورو ګاونډي ملکونو په حوالو سره کېدے شي.
په اخر کښې زه د افغانستان مشر (رئیس جمهور)، خپل ورور محترم حامد کرزي شکریه ادا کوم او د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت د سرپرست وزیر پوهان امیرشاه حسن یار به منته وکړم چې دا سمینار یې جوړ کړو او د هغه ادیبانو شاعرانو او لیکوالو ته به تشکر ووایم، چې دلته یې مقالې ولوستې یا اشعار واورول او تاسو ټولو حاضرینو ته به کوروداني ووایم، چې زما د ډاډګیرنې دپاره مو تشریف راوړے دے، او په ډېره مینه مو شرکت کړے دے. په خپل یو شعر به داوینا ختم کړم، چې زه یې نن سبا څکه اوروم چې ماته نننی وخت کښې زمونږ د ملي مستقبل اواز ښکاري.

"نن چې ګورم چې افغانستان د دېرشو کالو د شر فساد نه راوتونکے ښکاري د نوي جوړښت په لور روان لیدے شي، او په دې تک کښې د ټول ملک او ملت د ژوند ژواک په هره سطحه، هره زاویه او هر اړخ د تعمیر، ترقي، ثبات او استحکام قدمونه پورته کېږي"

زما د نیکه کور او ورور به خدائے کا یو صلا شي
د وینو په دې ډنډ کښې به یو نوے ګل پیدا شي

ډاکټر صابر

# په ټکر جنګ دے

د قامونو او اولسونو ویښ، بېدار، هوښیار، زړور او سترګه ور مشران خپل نوی نسلونه د خپل قامی تاریخ د مهمو واقعاتو نه خبروی. ددغه خبرونې دپاره خپل انتظامات لری. دغه انتظامات د خلکو او خاورې ترمینځ مینه ناک تړون جوړوی.

بیا که دغه واقعات د کوم قام یا اولس د ازادۍ د مبارزې سره تعلق لری نو لا ډېر مهم وی. د ازادۍ په مبارزه کښې د پښتنو دومره ډېرې قربانۍ او بیخی مهم واقعات د معلومو او نامعلومو مصلحتونو له کبله خپلو پردو داسې یو خواته کړی دی چې نهٔ په حساب کښې شته او نه په نصاب کښې موندے شی. په دغسې واقعاتو کښې یوه د ټکر خونړۍ پېښه ده.

زه او زما همزولی ډېر واړه وو چې د خپل کلی په کوڅو کښې به مو کله کله اورېده

(په ټکر جنګ دے، مشین چلیږی، ونې پانې رژوینه)

ددغه سندرې خوند او تاثیر دومره زیات ؤ چې نه یې یادول ګران ؤ او نه یې هضمول. خو د نورو ډېرو خلکو غوندې مونږ ته هم پته نه لګېده چې دغه جنګ د چا چا ترمینځه ؤ او په څه خبره ؤ.

دغه څوک او دغه څه ما ترهغې ونه پېژندل چې ترڅو زما لوسته د خپل نصاب د کتابونو پورې محدوده وه. بیا رو رو چرته د یو ځائے بل ځائے نه خبر شو چې د ټکر جنګ د پرنګی خلاف د ازادۍ د جنګ مهمه واقعه ده. د ټکر په مېدان دغه جنګ د ازادۍ غوښتونکو پښتنو او پرنګی استعمار د پوځونو ترمینځ شوے دے. دغه هېبتناک مشینونه پرنګیانو چلولی دی او ددغه مشینونو د خولو وتې ګولۍ د پښتنو په سینو کښې سړې شوی دی.

د کانګرس پارټۍ د مکملې ازادۍ اعلان او دغه اعلان سره د نورو پارټیو مرستې په ټول هند کښې سیاسی هلې ځلې تندې کړې وې. په مختلفو ښارونو کښې په جلسو او جلوسونو ډزې شوې وې.

خو! د پښتونخوا حالاتو هغه وخت اور واخست چې کله باچاخان او د هغه ملګری ونیوے شو او په ۲۳ اپرېل قیصه خوانۍ کښې پوځ د خلګو په پرامنه جلوس ګولۍ اورولې. ددغه واقعې ترمخې په ټوله پښتونخوا کښې ناقلاری خوره وه.

په قبایلی علاقو کښې خلک د پرنګی حکومت خلاف راپورته شو. په سمو کښې خلکو غونډې بنډې او جلسې جلوسونه جوړ کړل.

پرنګی سرکار غوښتل چې د زور دلارې دغه ناقلاری ختمه کړی. د خپلې پالیسۍ ترمخه یې د هېڅ زور، هېڅ زیاتی او هېڅ ناروا نه مخ نه اړوو.

باچاخان د وینا ترمخه چې دغه وخت هغه او د هغه بندیوان ملګری په ګجرات جېل کښې وو نو د هغوی د تحریک دوه مهم ملګری په پټه پټه دهغوی ملاقات له

راغلل او هغوی يې په ملک کښې د پرنګی د زور او ظلم نه خبر کړل د هغه په وينا «همارے ان ملاقاتيوں نے بتايا که تحريک کو چھوڑے. انګريز تو پټھانوں کے بچے بچے کو کچل دينا چاهتے هيں اور ان کے وجود کو مٹا دينے پر ادهار کھانے بيٹھے هيں».

د خلکو وهل ټکول، بې عزتی کول، کورونه او مالونه لوټل خو بيخی عامې خبرې وې.

ولې پښتانه په دغه زور زياتی قلارېدونکی نه وو پرنګی خپله کوله او پښتنو خپله. وايی چې په ۲۲ مې ۱۹۳۰ د مردان ايس پی مسټر مرفی د پوليسو سره د ملک ماسم خان، ملک عبدالحميد، ملک خان باچا او پيرشهزاده ګرفتارولو له ټکر ته راغلو. خلکو ضد کوو چې مونږ دوی دغسې ګرفتاری له نه ورکوو. دغو مشرانو هم په سرکاری لاری کښې د تلو نه انکار وکړو او وې ويل چې دوی به مونږ سبا پخپله درورسوو. په ۲۷ مې ملک ماسم خان، سالار شمروز خان، ملک عبدالحميد، ملک خان باچا او پير شهزاده د ډېرو خلکو په جلوس کښې ګرفتارۍ پېش کولو له مردان ته روان شو. د ټکر او مردان ترمنځه تقريباً د خواوشا شلو ميلو فاصله موجوده ده. دغه خلک چې ګوجرو ګړی ته رسېدل نو شمېر يې زرګونو ته رسېدلے ؤ. هم دلته پوليس افسر مرفی د پوليس او پوځ سره راورسېدو او د جلوس مخې ته يې د خنډ اچولو بندوبست شروع کړو او حکم يې وکړو چې ګرفتاری پېش کولو والا دې هم دلته ګرفتاری ورکړی.

په دې موقع د مردان اسسټنټ کمشنر مسټر کلی هم موجود ؤ. هغه جلوس ته د منتشر کېدو حکم ورکړو. مرفی په اس سور شو او د خلکو وهل يې شروع کړل. هم دغلته پهلوان نومی خدايی خدمتګار تماچه راويسته او په مرفی يې ډز وکړو. هغه زخمی شو او د اس نه لاندې راپرېوتو. چونکې غرمه هم وه او ګرمی هم. په دې وجه د ګوجرو ګړی زنانوو د ازادۍ جنګيالو له اوبه راچلولې په دې زنانوو کښې يوه زنانه چې په سواتی ابۍ مشهوره وه هغې چې مرفی د اس نه غوزرېدلے وليدو نو راغله او سرته يې ورته منګے راواچوو او مړ يې کړو. ددې نه پس به خدائے خبر انګريزانو د انتقام اخستو دپاره څه څه کول چې ناڅاپه سيلۍ او طوفان راغے، تکه توره تياره شوه او چې رڼا کېده نو هېڅوک په مېدان کښې نه وو پاتې.

په ۲۸ مې په ټکر کښې جلسه وه او هم په دغه ورځ پوځ د ټکر کلے محاصره کړو. مشين ګنونه يې نه يوازې لګولی وو بلکې چلول يې هم يو قيامت ؤ چې جوړ ؤ. په دې محاصره او ډزو کښې تقريباً او يا ۷۰ کسان مړه او يو سل پنځوس ۱۵۰ تنه ژوبل شوی وو، کورونه سوزولے شوی وو، حجرې چې پکښې د ماسم خان حجره هم شامله وه سوزولے شوې وه. په دې حجره کښې د خدائی خدمتګارو دفتر هم ؤ.

ددې واقعې او جلسې جوړولو په وخت د ټکر خلکو ماشومان او زنانه خواوشا کلو ته لېږلی وو. ولې ښاروی موجود وو په ډزو کښې چې ښاروی کری کور شو نو وايی چې يو غوايے په يو انګرېز افسر ورغے هغه يې زخمی کړو. هغه حکم وکړو چې ښاروے وولئ نو په هغه هم ډزې وشوې مړ شو او د ازادۍ په دغه جنګ کښې د ټکر د کلی او د فضل شاه د کور يو غوايے هم په دې ګناه مړ شو چې هغه يو سرکاری افسر وهلے ؤ. دغسې پښتنو د خپلې ازادۍ په مبارزه کښې د پرنګی زور ظلم ته سرټيټ نه کړو.

ځوانان خو ځوانان وو، پېغلو به هم په هسکه غړی ويل چې:

**راشه ائين رانجه دې واخله**

**ما د ټکر د وينو سرۀ ايښی خالونه**




نن سبا په میثاق جمهوریت بحث شروع دے، ځکه چې په تېرو ورځو کښې په لندن کښې د بېنظیر بهټو او میا نواز شریف ترمنځه دغه معاهده لاس لیک شوه، دغه معاهده او د هغې مشقونه که هر څو د ستائنې وړ هم وي، او دغه ددغو دواړو سر مشرانو د تېرو خپلو جمهوری دورونو د غېر جمهوری رویو او غلطیو د اعتراف نامې حیثیت هم لري، ولې تر هغې دغه معاهده د ببماریو د شمېرې نه اخوا هېڅ حیثیت نه لري، تر څو چې دغه معاهده عملی کړے شوې نه ده، ددې ملک عام خلک چې مخلص ، سپېڅلی او جمهوریت نواز خلک دي، هم ددغو ناکام شوو سیاستدانانو دلاسه نن د زرګونو بلاګانو ترمنځه د یوې داسې بې یقینۍ ښکار ولاړ دي، چې اعتبار ورکول به یوه قرباني غواړي او د قربانۍ توان شاید چې په دغو لیډرانو کښې ډېر کمزورے دے.

څومره څومره چې د الېکشن وخت را نزدې کېږي، ددغو سیاستدانانو او صدر جنرل پروېز مشرف ترمنځه یو نفسیاتی جنګ تیرېږي، دغه معاهده هم ددغې نفسیاتي جنګ یوه برخه ده، ددې په مقابله کښې اګر چې د الېکشن دپاره نه یوازې د صدر جنرل پروېز مشرف ائیني پوزیشن ډېر کمزورے دے، او د الېکشن دپاره پرې د نورو قوتونو یا جمهوری دنیا دباؤ هم ډېر دے، ولې ددې باوجود هم د میثاق جمهوریت د معاهدې لاس لیک کولو نه پس هم میا نواز شریف او بېنظیربهټو اخبار والاوو ته ووې چې لا پاکستان ته زمونږ د تلو وخت نه دے، یو طرفته دا حقیقت د نمر په شان څرګند دے، چې هر څو که د صدر جنرل پروېز مشرف د راتلونکی اقتدار یا صدارات دپاره ائینی پیچیدګۍ موجودې دي، ولې د هغه اراده شاید معلومه ده او هغه دا ده چې نه هغه وردی لرې کوي او نه اقتدار پرېښودو ته تیار دے او د هغه سره د ملګری ق لیګ او د نورو اتحادیانو د یساست او اقتدار امید او بقا هم د صدر په وردۍ او صدارت پورې تړلې ده، ځکه چې دغه سرکاری سیاستدانان تول په حقیقت کښې په صابون ولاړ پاتې شوی دي خو ددې باوجود هم بېنظیربهټو او میا نواز شریف وایی چې پاکستان ته زمونږ د تلو دا وخت نه دے.

د فکر خبره داده چې یو طرفته ددغو لیډرانو دعوه داده چې عوام زمونږ سره دي، د الېکشن د ګټې یقین هم لري خو پاکستان ته نه شی راتلے یا نه راځی دا ولې؟ دا ځکه چې د عوامو د نمائندګۍ دعویدار ددغه پارټۍ سر مشران پوهېږي چې د هغوی دپارټیو قوت که هر څو د

عوامو ته د ے. ولې ددغو پارټیو قیادتونه د عوامو په لاس کښې نه دی. یعنې که هغوی ګرفتار شی نو پاتې قوت به د عوامو جذبې په کار رانه ولی او په ګلونو کلونو به دوی په جېل دننه پاتې شی. دغه تجربه ذوالفقارعلی بهټو نه دغو لیډرانو ته پاتې ده چې هغه پانسی ته ورسېدو په پیپلزپارټی کښې د جیالو هېڅ کمے نه ؤ. خو د پیپلز پارټی پاتې قیادت دغه هر څه د مصلحت تحت قبلول او خپل د پارټی عوامو ته د صبر او خېر به شی تلقین کوو او دغه تجربه د نواز شریف دپاره هم د کار تجربه ده ځکه چې هغه هم د یو دغسې صدر او جرنېل د اقتدار خواهش سره مخ دے.



دویمه وېره چې د میثاق جمهوریت د دستخطونو باوجود ددغو لیډرانو په زړونو کښې ده هغه هم هغه شک او وېره ده چې ایا عوام به په دوی او د دوی په دغسې جمهوری معاهده اعتبار ولری او کنه ځکه چې دغو لیډرانو ته خپل بد معلوم دی چې دوی د عوامو د ایمانداری سره څو ځله کړیدی او دا حقیقت هم دے چې نن هم د شک خوړلی عوام هم دغه ګمان کوی چې د یو بل د ګلونو سیاسی دشمنان چې په یو مېز کښېناستل او یوه دغسې جمهوری معاهده یې وکړه نو رایې واقعی د عواموی د مسئلو د حل کولو خاطره وکړه او که د خپلو مسافرو وجودونو د ازادولو دپاره یې وکړه.

ددې قسم سوالو پیدا کېدو په کشمکش کښې او د صدر جنرل پرویز مشرف سره په دغه نفسیاتی جنګ کښې ددغې معاهدې نه پس پرېس ته د هغوی ړومبے پېغام دا ورکول چې ملک ته لا زمونږ د تلو وخت نه د ے. دا په عوامو دعوې باوجود په هم دغو عوامو د بې اعتباری یو ژوند ے دلیل د ے او دا په ړومبی قدم کښې په شا د تلو یو داسې راز د ے چې راز نه د ے پاتې شو ے
په دې کښې هېڅ شک نشته چې د میثاق جمهوریت دننه ټول شقونه ددې ملک د یو جمهوری نظام دپاره ډېر ښه هم دی او ضروری هم دی، ولې ځنې شقونه چې هغه په سیاست د پوځ د رول مطابق دی، هغه ددغسې معاهدې نه پس په خوئیدنړی تګ ممکن ځکه نه دی چې اوس ددې ملک په سیاست کښې پوځ دومره رادننه شو ے د ے او دومره یې ددې سره مفادات وابسته شویدی چې د سیاست نه د هغوی یو طرفته کول د هغوی دپاره یو ډېر تکلیف ده خبره ده، پښتانه وایی چې سخے چې ټوپونه وهی د موګی په زور یې وهی صدر جنرل پرویز مشرف چې د ائینی پیچیدګی باوجود په خپل باودری صدرات اسرار کوی نو دغه ټوپونه هغه د موګی په زور وهی ولې د عوامو د ملګرتیا او لویو پارټیو د دعوو باوجود بېنظیربهټو او میا نواز شریف په دغه موګی ټوپ ځکه نه شی وهلے چې دوی د خپلو عوامو سره سیاسی بې اعتباری لرلې ده او نن ددغې دعوې او دغسې پروګرام ورکولو باوجود یو غېر معمولی قوم نه شی پورته کولے او نه به دغه موګی ټوپ وهلے شی.
هم دا وخت، دا ځائے او مقام ددې ملک د ټولو سیاستونو دپاره د عبرت د سبق یو باب د ے چې د عوامو او لیډرانو ترمنځه نه لیدونکې فاصلې لری، ددې ځائے فوجی استېلشمنټ او که سول دواړو دغه ادراک

ږدے، باید چې دغو لیډرانو د خپل ذات او عوامو
کېدے، باید چې دغو فاصلې ادراک پخپله هم کړے وے، او
ږمنځه ددغې فاصلې ادراک پخپله هم کړے وے، او
شپېته کاله پس چې د کومو حقیقتونو نه انکار
شوېدے، هغې طرفته یې د مبهوناکو راښکلو په ځائے
نغ په نښه د لارو جوړلو عهد کړے وے، د مثال په طور
نن د باوردی جرنېل په عهد صدارت کښې د بلوچستان
او وزیرستان دننه پوځی کاروایی د ناکامی په لور
رواني ښکاری ولې ددې باوجود صدر جنرل پرویزمشرف
په دعوه سره وایی چې ملک ته د باوردی صدارت او
قیادت ضرورت دے، او د نېب زده سرکاری
سیاستدانانو ورسره مرسته او ملګرتیا شامله ده، ولې د
پیپلزپارټی پارلیمنټرین او میا نواز شریف مسلم لیګ د
صوبایی خودمختاری دباریکیو هغه ادراک نه دے کړې
کوم چې د ملک د سهی جمهوریت دپاره ضروری دے.

بېشکه دوی په میثاق جمهوریت کښې د زیاتې نه زیاتې
صوبایی خودمختاری خبره کړېده، خو ړومبے شق دادې
چې د پوځ د ۱۲ اکتوبر ۱۹۹۹ کښې د اقتدار د راتلو نه
مخکښې چې د ۱۹۷۳ کوم ائین
ؤ، هغه دې بحال کړے شی. سوال
دادے چې په دغه ائین کښې چې
ددې نه مخکښې صوبایی
خودمختیاری سره کومې لوبې
شوې دی د هغې ازالده به څه او
څنګه کیږی او څوک به یې کوی، د
صوبایی خودمختیاری او د ډېرې
نه د ډېرې صوبایی خودمتخاری
خبرې خو نن هم کیږی، او هم په
دې باوردی صدارت کښې کیږی،
ولې کتل دادی چې د وزیرستان
دننه مسئله یا د بلوچستان مسئله په ورځ دوه کښې پیدا
شوېده، او که دا د شپېته کالو نه پیدا ده، په تېرو ورځو
هم د پاکستان پرنټ میډیا کښې دا خبرې راغلې د
پابندی باوجود دا عجیبه خبره ده چې سینیټر ثناءالله
بلوچ لندن ته لاړو، هلته یې د پاکستان پیپلز پارټی (د
لندن) د اهتمام لاندې د بلوچستان په موضوع په
کېدونکی سمینار کښې د مهمان خصوصي په حیثیت
شرکت وکړو، او په ازاد مټ یې ډېر په جارحانه انداز
کښې خبرې وکړې، هغه ووې چې د بلوچستان حالات
تشویشناک دی او باید چې حکمرانان د تاریخ نه سبق
زده کړی دهغه وینا ده وه چې په پنجاب کښې ۲۷۰۰
کارخانې د بلوچستان په ګیس چلیږی او د پاکستان هر
کور هم زمونږ په ګیس اباد او ګرم دے، که چرې دغسې
تباهی او بمباری جاری وی نو ددغو کارخانو لوګے به بند
شی مونږ به د خپلو پلرونو اونیکونو په شان په سړه او
وچه ډوډۍ هم ګوزاره وکړے شو، خو د سرحد، سندھ او
پنجاب عوام به دغې سزا ته تېنګ نه شی.

د ثناءالله بلوچ په قول اوس هم وخت دے چې د
بلوچستان مسئله دمزاکراتو له خوا حل کړے شی هغه
الزام ولګوو چې نن په بلوچستان کښې روزانه یوویشت
۲۱ جهازونه او څلوېښت ۴۰ پوځی هیلی کاپټرونه د
شپږو ۲۰۰ سوو چیک پوسټونو په ذریعه بمباری کوی
او د څلورو زرونه زیات بلوچ ځوانانو سرکاری اهلکارو



وتښتول او غایب یې کړل او ټول بلوچستان ته غدار ویل
شروع شوی دی اګر چې پرنټ میډیا د ثناءالله بلوچ
دغسې اعدادوشمار ته غلط وای ولې د درست او غلط
پته خو د مشرقی پاکستان د تلو نه پس هم تر اوسنه ده
لګېدلې، نو دا خو تازه صورت حال دے د خبرې لیکلو
مقصد دادے چې د میثاق جمهوریت د صوبایی

## د این این ائی مطابق د پاکستان د قومي اسمبلۍ د اتیاوو نه زیات ممبران کور نه لري

د الیکشن کمیشن سره په طمع کړے شوو گوشوارو کښې څنې کسانو ویلي دي چې هغوی خپل کور نه لري، او تقریباً دا اووه درځنو نه سیوا کسانو ویلي دي چې هغوی په شریک کور کښې اوسیږي، د الیکشن کمیشن سره د جمعکړے شوو گوشوارو مطابق مخدوم فیصل صالح حیات کور نه لري، ولې هغه د ۲۰۰ ایکټر ځمکې مالک ځان ښودلے دے، دغسې وفاقي وزیر صحت نصیر خان هم ځان بې کوره لیکلے دے، د چا چې په گلبرگ لاهور کښې دېر لوئے او ښکلے کور موجود دے، په نورو بې کوره خلکو کښې اویس لغاري ،مخدوم خسرو بختیار ،حنا رباني کهر او وصي ظفر شامل دي، دغو ذکر شوو وزیرانو ځان د جائیدادونو مالکان ښودلي دي ولې د شاید چې خپل کورونه نه لري گنې ولې به یې نه لیکل، د انگرېزي اخبار د یو رپورټ مطابق د متحده مجلس عمل څنې ممبرانو په خپلو گوشوارو کښې د بې سرو سامنۍ اعلان کړے دے، د مولانا محمد قاسم مطابق د هغه هېڅ کور نشته، د هغه په اساسو کښې اووه کټونه، اووه مېزونه او شپږڅ کرسۍ شاملې دي، مولانا شاه عبدالعزیز په خپلو گوشوارو کښې داسې هېڅ شے نه دے ظاهر کړے چې گنې دا د هغه ملکیت دے هغه شعر دے چې:

"هر قلندر ته سکندر د مچ وزر ښکاري
نادانه ته د لېونو هوښیاري څه پېژنې"

د مولانا عبدالمالک او محمد معراج الدین سره د گوشوارو مطابق هېڅ شے نشته، نو فرنیچر خو لویه خبره ده، قاري حمیدالله د ۱۱ لکونو روپو مالک دے کومې هغه د هغه په قول د قومي اسمبلۍ د ممبر په حیثیت د الاونسونو او ټی اې ډی په ذریعه جمع کړې دي، کومو شخصیتونو چې د خپل کور په ځائے ځان په مشترک کور کښې ثابت کړے دے، په هغوی کښې سابق وزیراعظم او د پاکستان مسلم لیگ (ق) صدر چوهدري شجاعت حسین،همایون اختر خان، چودهري ظفر اقبال وړایچ رضا حیات حراج، ملک امین اسلم، دانیال عزیز او دغسې یو څو نور قامي رهبران شامل دي.

خو

رهبري فن وي او رهبر لکه فنکار د ژوندون
داسې منصب په قاتلانو د سپارلو نه وي
تجربه یو په تجربه، تجربه بده نه ده
څنې تخمونه په پټو کښې د کرلو نه وي

خودمختیاري دغه خبره مهمه ده، باید چې اوس ذمه دار لیډران دې سنجیده مسئلې ته د حقیقت په نظر وگوري. او لکه څنگه چې ددې ځائے قوم پرست لیډران او سیاسي پارټۍ مطالبه کوي چې ددې محکمې دې وفاق سره پاتې شي او نور هر څه د صوبو ته حواله کړے شي. باید په دې غوښتنه دغه لویې پارټۍ حقیقت طرفته راشي گنې ددې ځائے قومه او قومي پارټۍ او د هغې خلک اوس په دې سوچ مجبور دي چې دا ددې ملک د حکمرانانو سیاسي ضرورتونه او سیاسي مشغلې دي چې کله به حالات راپیدا کوي پوخ به راولي او کله به حالات راپیدا کوي د یوې صوبې د اکثریت په بنیاد به د وړو صوبو د ضرورتونو استحصال کوي، د ۱۹۹۹ پورې د ۱۹۷۳ په ائین کښې هم دغه هومره صوبایي خودمختیاري ده چې نه ترې کله وړې صوبې مطمئنې شوې وې او نه به ترې مطمئنې شي.

د اخباري او میډیا د تجزیو نه یو طرف ته عام خلک اوس داوایي چې دا د صدر د اختیاراتو او وزیر اعظم د اختیاراتو د جنگ او فیصلې او رضامندۍ خبره ده ائیني،ائیني ضرورت دي، یا د ائین هغه ضرورت نه دے کوم چې د حقیق وفاق او حقیقي صوبو ترمنځه حقیقي او ربښتوني تعلق پیدا کولو ضرورت دے

جمال

# د پاکستان د منصوبه بندۍ د کمېشن انکشافات او د عوامو حالت

د پښتو يوه ټپه ده ،چې:

کـــه ســـړي اوړې خـــدائې وکـــړو
ماتـه لالـي د سـور پيـزوان وئيلـي دينـه

انسان چې سپوږمۍ او ستورو تـه ورسېدو، نو غريب د غلامۍ نه صرف تر غريبۍ راورسېدو، د غريب وينه ډېره خوړه وينه ده، دده خوله که هر څو ددې ملک د محلونو رونق دے، او دده د دم قدم نه که هر څو، ددې ملک د خلکو په دم او قدم کښې روح دے، دده محنت که هر څو هره ورځ ددې ملک په غټانو خوشحالۍ ويشي، ولې دده سره چې کوم سلوک کوي، هغه د کتو دے.

ددې ملک د منصوبه بندۍ کمېشن سږکال دا انشکاف کړے دے، چې د موجوده مالی کال په رومبو شپږو مياشتو کښې په ترقياتی کارونو لګولے شوې يوولس غټو سرکاری ادارو د خپل ترقياتی بجټ نه صرف پنځه فيصده، يا ددې نه هم کم رقم خرچ کړے دے.

او دا امکـان دے، چـې دا رفتـار بـه تـولې ترقيـاتی منصوبې ډېرې ورانې ورانې متاثرې کړي، د منصوبه بندۍ د کمېشن وينا ده، چې په مجموعی ډول په ۳۹ ادارو کښې صرف ۳۰ سرکاری ادارو د ډېرش فيصده نه هم کم فنډ استعمال کړے دے. او د ترقيـاتی وسيلو دپاره بېلې کړے شوې ۲۰۴ ارب روپو کښې صرف ۳. ۲۹ فيصد رقم په روان مالی کال کښې په رومبو شپږو مياشـتو کـښې استعمال شـوے دے. د اوو سـرکاری محکمو چې په هغې کښې د محنت او افرادی قوت، د زنانوو د ترقی، د مقامی حکومتونو، کلی والې ترقی، صنعت، تجارت، اطلاعات و نشريات او امور خارجه شامل دی، دوی په ابتدايی شپږو مياشتو کښې صرف

شپږ فيصده رقم استعمال کړے دے، د محنت وزارت صـرف ۲. ۱ فيصد رقـم د ښځو د ترقـی وزارت ۳ ۵ فيصد د کلی والې ترقی وزارت صفر فی صد رقم د صنعت وزارت ۷. ۵ فيصد رقـم د تجارت وزارت ۹ ۳ فيصد رقم او د خارجه امورو وزارت ۳. ۰ فيصد رقم استعمال کړے دے، د انفرا اسټرکچر په شعبه کښې ۲. ۳۲ فيصد رقم استعمال شوے دے، د اوبو د شعبې په منصوبه کښې ۲۸ فيصد رقم استعمال کړے شوے دے. د واپډا دتوانـايی د منـصوبو دپـاره ۹. ۴ فيـصد رقـم استعمال شـوے دے. د پټرولیم وزارت ۲۹ فيـصد، د پورټ او شپنګ وزارت ۲۱ فيصد رقم خرچ کړے دے د روان مالی کال په دوران کښې ددې وزارتونو او محمکو سره د منصوبه بنـدۍ د کمېشن د خلکـو باقايـده درې مياشتنی اجلاسونه هم شوی دي. او د ترقياتی کارونو د تېز ساتلو د هداياتو باوجود ددغو محکمو د ترقياتی کارونو د رفتار دا حال دے.

داسې ښکاری چې په دې کښې نه څوک ډيوټی کوي، نه کار کوي، نه چرته ضمير په نظر راځی، نه د ايمان کوم بوئے محسوس کيږي، مونږ دغسې ملک ته په پښتو کښې راج واړه وايو، اوکه دا راج واړه نه ده،نو اخر دې عمل ته سرے نورې کومې معنې ورکولے شی، ددې هر څه تپوس نشته ورځ تيريږي، شپه تيريږي، ورځ او شپه دواړه ددې ملک د غريب اولس دپاره د ژرندې دوه پلونه دی، چې دے پکښې ميده کيږي، او نتيجه يې داده چې:

زمـونږ مالـدار خلـک انچونـه پـه لکونـو اخلـی
مـونږ غريبـان خپلـه روزی پـه ډېرانونـو ګـورو



# د ډیورند په کرښه د ازغن تار خورولو او د بارودي سرنګانو د ښخولو په هکله د پاکستان وړاندیز

زر علي خان موسی زی

د تېر ستمبر د میاشتې میلادي کال ۲۰۰۵ کښې د پاکستان ناست صدر جنرل پرویز مشرف امریکا کښې امریکایی چارواکو ته څه داسې قسمه څرګندونې وکړې، چې د ډیورنډ په کرښه د شکمنو کسانو، تروریستانو، ترهګرو او په موخدره موادو کښې ککړ کسانو د مخنیوي دپاره د پاکستان او افغانستان دواړو هېوادونو ترمینځه یو دېوال جوړول یا ازغن تار خورول په کار دي.

د جنرل پرویز مشرف ددې قسمه وینا نه پس د افغانستان د دولت د کورنو چارو د وزارت پخواني ویاند لطیف الله مشعل د جنرل مشرف په ځواب کښې ووئیل چې د دواړو هېوادونو ترمینځه د دېوال جوړلو یا د ازغن تار خورولو نه دي وړاندې د دواړو هېوادونو ترمینځه د عالمي قوانینو په رڼا کښې د سرحدونو نوې حد بندي وشي، د روان کال ۲۰۰۲ د مې د میاشتې د دریمې نېټې تر مخه د پاکستان د بهرنو چارو د وزارت ویاندې تسنیم اسلم د ازغن تار په حواله داسې ټینګار وکړو، چې د ترهګرو د مخنیوي دپاره په پاک افغان پوله (ډیورنډ) ازغن تار لګول ضروري دي، دې نه وړاندې د پاکستان د خارجه چارو وزیر خورشید محمود قصوري افغان دولت او اتحادي ځواکونو ته یو وړاندیز کړے دے، چې په پاک افغان پوله (ډیورنډ) دې بارودي سرنګان خواره کړے شي، او پوله دې بنده کړے شي، دې سره به د دواړو هېوادونو ترمینځه د ترهګرو تګ راتګ بند شي، او د یو بل په داخلي چارو کښې د لاس وهنې تور به هم ختم شي، د قصوري د څرګندونو نه څه وخت وړاندې د پاکستان د کورنو چارو وزیر افتاب شېرپاؤ هم د ازغن تار د خورولو سره سره د ماینونو د لګولو خبره کړې وه، د خپلو لوستونکو دپاره غواړم چې د ډیورنډ د کرښې د موافقت نامې په هکله لږ ډېر غوندې څه وړاندې کړم، لیکوال عبدالغفار فراهي په خپل کتاب «افغانستان د ډیموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کښې» لیکي «کله

چې د افغانستان اولس د دوی په د موافقتنامې ټولې جزئیات شوې دې. د دوی دغه موافقتنامې سره خپل نږدې مخالفت ونه شول. او د آزاد سرحد خلکو د انګریزانو سره مخالفت ونه ګڼلو. په داسې حال کې چې هغه وخت د هغې له ټولې غاړې ټول ترو په پوښتنې. د هند د بېلګې د جنجالونو خلکو نه و. د دغې موافقتنامې منلو نه خلکو ته شول. د افغانستان خلک د موافقتنامې څخه نفرت کوي. کله چې د وزیرستان خلک د دغه موافقتنامې په هکله خبر شو، نو دوی ډېر پرېشانه شول او فکر واخیستل. دوی په یکبار کښې د میوند سردار ګل احمد خان ته یو خپل نماینده ولېږلو، چې دوی په دې خبره خبر کړے شي، چې واقعي د پرنګی او امیر عبدالرحمان ترمینځه داسې قسمه موافقتنامه لاس لیک شوې وی، که چېرې داسې کار شوے وی، نو پرنګیان دې په دې پوهه شي، چې موږ دا موافقتنامه نه منو. موږ نه د دوی محکومیت قبول کړے دے، او نه به دې نه پس موږ دوی ته تیټ شو.

سردار ګل احمد خان دوی ته ووئیل چې هغه ته دا داسې قسمه معاهدې په هکله هیڅ علم نشته، کله چې پښتنو قبایلو ته ددې معاهدې علم وشو، نو دوی د انګریز پرخلاف خپل پرېمونه نور هم تېز کړل. پرنګیانو ډېر کوششونه وکړل او پیسې یې خورې کړې، چې قبایل په ارام کړي. خو داسې کله کېدے شوه. څکه دې خلکو نه صرف یو قام په مینځ دوه ټوټې کړے ؤ. بلکې قبیلې او کورونه یې هم جدا کړي وو. داسې وه لکه چې یو بدن دوه حصې کړي. کله چې امیر په دې خبر شو، چې پښتانه دا موافقتنامه نه مني او دوی د پرنګی خلاف خپل پرېمونه پیل کړل. نو دے هم د دغه موافقتنامې خلاف شو. او مجاهدینو سره به یې خپله مرسته جاري ساتله. هغوی ته به یې پیسې او وسله ورکوله. کله چې قبایل به دې پوهه شول، چې امیر عبدالرحمان خان اوس د دوی مرستې کوي نو دوی او امیر یو بل ته نږدې شول. امیر عبدالرحمان خان مشهور پښتانه مجاهدین لکه د هډې ملا نجم الدین او ملا پاونده وزیری او داسې نور مشران کابل ته ورو بلل او په کابل کښې یې د دوی ډېر

د ساتنې کړې. ددې هر یو په د مطلوبه شوه. چې د انګریز قسم پښتنو افغانانو نه منظور نه ؤ. د انګریز د هند د ملک نه پس د معاهده ختمه شوه. څکه چې د موافقتنامه د پرنګی او امیر عبدالرحمان ترمینځه د انتظامي امورو په حواله شوې وه. په دې کښې د ملکیت خبره نشته. صرف انتظامي خبره وه. چې د کومې دا شته موجوده به. په دې علاقه انتظامي حواله سره جوړه او که لا په دې سنه دا علاقه نه ده مبارکه نه. موجوده حالاتو کښې نه انګریز شته او نه امیر عبدالرحمان خان او نه هغه سیاسي حالات شته. د کومو په مخه چې پښتانه تقسیم کړے شوي وو. د بېلګې په طور شوروي اتحاد د مینځه لاړو او انګریز هم د هند نه و ایستل شو. د پاکستان دولتي ونکو خلک داسې وایي چې پاکستان د پرنګی وارث دے. دلته زه دا خبره په ډاګه کول غواړم، چې کله په کال ۱۸۴۹ء کښې پرنګی د پښتنو خاورې ته را داخل شو، نو د هغې ورځې نه واخله تر پرنګی د هند نه وتلو پورې داسې یوه ورځ نه ده تېره چې انګریز په پښتنو ډز نه وي کړے. یا پښتنو په انګریزو ډز نه وي کړے.

"که چېرې د مذهب په نوم قانونه جوړېدلې نو بیا د اسلامي هېوادونو ترمینځه دا پاسپورټ، ویزه او سرحدونه څه معنا لري"

د پاکستان د جوړېدو په وخت کښې د اقتدار اوږو خلکو د یو سازش لاندې ددې نوي هېواد مخې ته رانګ د اسلام او مذهب نوم وګرځولو. په لر پښتونخوا کښې یو ډېر قلیله او یو ګس ریفرنډم وکړے شو، چې په دغه ریفرنډم کښې د اسلام او مذهب ماماګانو، چاچاګانو او ترورزیانو دوه دوه سوه سرې سر ووټ واچولو. پښتنو ته دریم اپشن ورنه کړے شو. د بین الاقوامي قوانینو ترمخه د یو ریفرنډم دپاره دا لازمي ده، چې په هغه کښې پنځه اوبا رایې وګټي. دې

ریفرنډم کښې صرف پنځوس فیصدی رایې د پاکستان په حق کښې واچولې شوې. خو هاغه هم یو یو کس دوه دوه سوه رایې واچولې. دا ریفرنډم پښتون قام ته هېڅ کله قبول نه دے. او نه بې مونږه تسلیمو، قومونه د اسلام او مذهب په نوم نه جوړیږی. د قامونو د جوړښت دپاره مشترکه تاریخ. جغرافیه. ژبه او کلتور ضروری خیزونه دی. د قامونو جوړښت په زرګونو کلونه اخلی. او دا پېړو والرز ولې دی و څو هېوادونو ملکیت دے. دی کښې د نورو مسلمانانو حصه ولې نشته. د پاکستان جوړښت هم ډېر عجیبه دے. وایی چې دا د اسلام قلعه ده، او دا د ټولو مسلمانانو ګډ کور دے، پښتانه د چا میراث نه دے، دوی خپل یو مشترکه تاریخ، کلتور، جغرافیه، ژبه او یو تاریخی تاتوبے افغانستان لری، که څوک داسې فکر کوی، چې دا قام د چا میراث کښې رسېدلے دے، نو دا به د دوی خپل فکر وی. مونږه خپله خاوره په خپل جرات او ځوانمردۍ او په یوه ډېره لویه سیاسی مبارزه ګټلې ده، دا مونږه ته چا په تالی کښې نه ده راکړې، په مونږه دې خلک د وچې احسانونه نه کوی. پاکستان د نړۍ پر مخ یو ډېر عجیبه هېواد دے، ددې جوړښت هم ډېر عجیبه دے، ددې جوړښت د بېلابېلو قامونو د تقسیم په بنسټ مخې ته راغلے دی، دا یو غیر فطری هېواد دے، چې هېڅ قسمه بنیادونه نه لری، کومو خلکو چې دا جوړ کړے ؤ، هغوی لاړل او د بنګلادېش په نوم یې خان ته یو نوے هېواد جوړ کړو، د بنګلادېش د جوړېدو نه پس د موجوده پاکستان دا هېڅ قسمه حق نشته، چې د اسلام او مذهب مقدس نوم استعمال کړی، او خلکو ته ددې خائنے حکمرانان او فوځیان نوره دهوکه ورکړی

موجوده پاکستان کښې چې کوم قامونه ژوند کوی، دوی د پاکستان دپاره هېڅ قسمه کوشش نه دے کړے، او نه دوی دا پاکستان جوړ کړے دے، دوی خو پاکستان سره د یو عمرانی معاهدې لاندې روان دی. عمرانی معاهدې باندې دلته عمل نه کیږی، نو باید چې څوک دې معاهدې نه ووځی او خپله لار خان ته منتخب کوی. لاړ شی او پاکستان ورته اجازه ورکړی

اوس به راشو خپلې خبرې ته چې پاکستان د افغانستان سره په ډېورنډ باندې د ترهګرو د مخ نیوی دپاره ازغن تار یا مائینونه خورول غواړی. مونږه چې په ښه او بد پوهه شوی یو، نو دا خبره اورو چې هند د پاکستان ازلی




دښمن دے، مونږه خو کله دا نه دی اورېدلی چې افغانستان د پاکستان دښمن دے، په لر پښتونخوا کښې زما د یاد مطابق یعنې خواو شا پنځویشت (۲۵) کاله وړاندې پورې زمونږ د پښتنو په کورونو کښې د امیر امان الله خان تصویر زوړند ؤ، مونږه ته به خپلو مشرانو وئیل چې دا سړے زمونږ غازی دے، دې سړی مونږه ته هېواد ازاد کړے دے، او پیرنګے یې د وطن نه تښتولے دے، تر ننه زمونږ په کورونو کښې د غازی امان الله خان تصویرونه زوړند دی، دلته هېڅ څوک د بل چا تصویر نه پېژنی، د هند او پاکستان تر مینځه هر وخت تاوتریخوالے وی، او په یو بل باندې تورونه لګوی، چې د یو بل په کورنو چارو کښې لاس وهنه کوی. خو تر اوسه دواړو هېوادونو لخوا په خپله پوله باندې ددغې بارودی

سرنګونو د خوړولو څه تجویز یا وړاندیز مخې ته نه دے راغلے. د افغانستان او د پښتنو په هکله داسې تجویز ورکول یقیناً د دښمنۍ او تاوتریخوالۍ ډېره زیاته څرګندونه کوی، عجیبه خبره ده، د پاکستان د قدرت خاوندان د هند سره تعلقات او اړیکو ښه کولو دپاره یو بل ته د ګلونو هارونه اچوی، او د افغانستان سره په ډیورنډ باندې بارودی سرنګونه خوروی. د اسلام او مذهب ټیکیداران د مسلمان هېواد سره کومه رویه لری، او د دوی دخیال مطابق د هندوانو د هېواد سره کومې ښې رويې طرفته روان دی، هندوانو دپاره په لاس کښې ګلونه او د پښتنو دپاره زهرجن او د خطره ډک بارودی سرنګونه عجیبه منطق دے، او د پښتنو سره عجیبه مینه او خلوص دے، هاغه پښتانه چې دوی ټول وخت ذ خپلو شومو مقصدونو دپاره د مذهب په نوم استعمال کړی دی.

نن په انعام کښې بارودی سرنګ ورکوی، چې د کوچنیانو پښې نورې هم والوزوی، او تپیان شی، چې د کار اوژوند نه ووځی، او د دوی زړونه یخ شی، خو مونږه پښتانه کله د دوی ټټر یخوالی ته پرېږدو، دې نه دا ښکاره شوه، چې پاکستان نن د ترهګرۍ او بنسټ پالۍ په سبب د نړۍ د یو ډېر لوئے فشار لاندې راغلے دے، ترهګر د ازغن تار خوړولو سره هېڅ کله نه شی ایسارېدلے، ګنې نن به په کشمیر کښې صورت حال بدل ؤ، څو ورځې وړاندې خواوشا ۲۲ هندوان چا مړه کړل، که د ازغن تار خوړولو یا بارودی سرنګونو اچولو سره مسئلې حل کېدے، نو نن به کشمیر کښې د امنیت وضعه ښه وه، د ترهګرو د مخنیوی دپاره د خلوص او ایمانداری ضرورت دے.

نن هم په پاکستان کښې د ترهګرو کیمپونه موجود دی، او ترهګر پکښې تیارېږی، او بیا افغانستان ته استولے شی، چې هلته ترهګری کولو نه پس واپس پاکستان ته راځی، او دا خبره خو د پاکستان د یو ډېر پلوی ملا او د مخالفې ډلې مشر مولانا فضل الرحمان ډېره په جوته او ښکاره انداز کښې کړې ده، چې دا ترهګر د حکومت په خوښه تیارېږی او افغانستان ته استولے شی، چې د غلته وضعه خرابه کړی

د افغانستان د ننه د امنیتی وضعې خرابولو دپاره د قبایلو سیمه استعمالیږی، دلته د ایف سی ار قانون موجودګی لری، چې د څه د وجې نه هلته اولس خپل اواز نه لری، ځکه چې په سیاست پابندی ده، دا وجه ده، چې مذهبی بنسټ پالان او سخت دریزه خلک هلته د وخت تیرېدو سره مخ په زیاتوالی روان دی، او سیاسی خلک په یو دریز یا په بل د هغې نه ګرې کولے شی، پولټیکل او پاکستانی استخباراتی ادارې د هاغه ځائے بعضې خلکو سره دا مذهبی بنسټ پالان او وران کاری کښېنوی، که چرې دوی انکار کوی، نو بیا دوی باندې د ترهګرو تور

خوکله چې د کابل یا جلال اباد نه پېښور ته یو پښتون افغان راځی، نو دا د دوی په نظر یو غېر قانونی کار بللے کیږی، خو بل طرفته د هند یو مهاجر په دې هېواد کښې صدر، صدر اعظم، وزیر اعلی، ګورنر او جنرال جوړېدلے شی.



د ډیورنډ په کرښه د پښتنو تنګ رانګ (تورخم)

لگوی. او امریکا ته یې ورکوی. نن پاکستان دوه مخې سیاست کوی. د افغانستان امنیت د پاکستان د حکمرانۍ او د قدرت خاوندە طبقاتو دپاره مرگ دے. او دوی په دې پوهیږی چې د افغانستان مضبوطوالے د دوی کمزوری ده. بعضې خلک په دې نظر دی، چې افغانستان او پاکستان دې اړیکې ښې کړی.



د پاکستان د کورنو چارو وزیر افتاب شېرپاؤ هم د ازغن تار د خورولو سره سره د مائینونو د لګولو خبره کړې ده

دې دپاره زه یو مثال ورکوم. اروپایی هېوادونو غوښتله چې په اروپا کښې امن راشی او د خلکو ژوند ښه شی، ترقی اوشی، خو دوی په دې خبره پوهېدل چې د جرمنی د خفګان د ختمولو نه بغېر امن راتلل ډېر مشکل اوګران څیز دے. ځکه چې المان د اروپا زړه دے، المان دا شرط وړاندې کړو، چې فرانسه دې جرمنی ته د زارلینډ هاغه صوبه واپس کړی، کومه چې دوی د المان د ړومبی جنګ جهانی نه پس نیولې وه، فرانس المان ته هغه صوبه واپس کړه او دې سره جرمنی کښې نه صرف بلکې ټوله اروپا کښې امن راغلو، که چرې د اسیا خلک په حقیقت کښې امنیت غواړی نو دوی به د پښتنو افغانانو شرط منی. پښتنو افغانانو ته به خپل شوکولے حق واپس کوی، نو هله به امنیت راځی او پرمختګ به کیږی. د پاکستان شاعر علامه اقبال هم وایی:

اسیا یک پیکر اب و گل است
ملت افغان در ان پیکر دل است
از کشاد او کشاد اسیا
از فساد او فساد اسیا

د ازغن تار خورولو سره صرف هاغه ساده پښتون بندېدے شی، کوم چې ددې تار غوڅولو دپاره صرف ژبه او قلم لری. باقی پاتې شو سمګلران، قاچاقبران، ترهګر او بنسټ پالان هغوی داسې تارونو سره هېڅ کله نه شی بندېدلے، که چرې پاکستان په رښتیا د افغانستان د ننه امنیت غواړی، نو بیا دې د ملا او فوځی ترمینځه دوستی ختمه کړی، تر څو چې دا دوستی دوام لری، تر هغه به دا شوم کارونه روان وی، د ترهګرو برخلاف چې امریکایانو کوم جنګ پیل کړے دے، دا جنګ د هاټ پرسیوټ پالیسۍ لاندې دے.

(Hot Pursuit Policy) داسې جنګ کښې خپل دښمن پسې هرچرته تګ کېدے شی، که پاکستان په حقیقت کښې د ترهګرو خلاف عملیات کول غواړی نو اتحادی او افغانی فوځونو له دې اجازه ورکړی، چې راشی او د ترهګرو خلاف د اباسین په غاړه ډېره شی، مونږه پښتنو ته په دې باندې هېڅ اعتراض نشته، خو په داسې خبرو مونږه ته یقیناً ډېر تکلیف رسی، کله چې مونږه د پښتون قام د تقسیم دپاره د ازغن تار د خورولو یا د بارودی سرنګونو د ښخولو پښتون دښمنه خبرې واورو.

ترهګر د پاکستان په
خوښه تیاریږی او
افغانستان ته استولے
شی، چې دغلته وضعه
خرابه کړی.
(مولانا فضل الرحمان)



پروین ګل



# د بابا مشالونه

نن زما قلم بیا ډېر بې قراره دے. په ذهن مې ډېر بوج دے. زړه مې وايي چې شبنم باغ ته لاړې او د هغې زمکې نه مې تپوس کړے وے. چې وايه زما بابا دې څه کړو. خدائے بخښلے بابا چې د باچاخان په نوم دومره مشهور شو. چې اکثر خلکو نه یې خپل نوم هېر شو. باچاخان واقعي باچاخان ؤ. بې تخته او بې تاجه باچا. هو دا خبره هر سړے مني. چې هغه خلک چې د چا په بادشاهي کښې نمر نه پرېوتو. نن یې نه نوم شته نه نښان. خو د باچاخان نوم نن هم لکه د نمر ځلېږي. او دا صرف د الله ورکړه ده. الله تعالی فرمايي چې زه خپلو ملګرو له په ژوند هم عزت ورکوم. او په مرګ هم. د باچاخان دا خبره خو ټول عالم ته معلومه ده. چې حج يې کړے ؤ. خو کله یې هم ځان سره حاجي نه لیکلو. او دا به یې وئیل چې په ما فرض ؤ. او ما خپل فرض پوره کړو. نن زه یو څو داسې خبرې لیکم. چې شاید ډېرو خلکو ته نه وي پته. غالباً چې د نېشنل عوامي پارټي

پروین ګل څوک ده؟ دا د محترمې س.ب.ب او الف جان خټکې غوندې پښتنو د فکر، خیال او قلم وارثه ده. او د هغوی د جدوجهد د تسلسل یوه جلوه ده، د باچاخان د انساني او پښتون فکر پیروکاره ده. ددې خاورې او دې قام او اولس او دې وطن یوه رښتینې لور ده. ددې لیکونه نه یوازې زمونږ د دور د زنانوؤ لیکوالو د جذبو ترجمان دی، ولې ددې خاورې د زامنو د جذبو ترجمان هم دی. د ژوند په یوه لاره د تګ په غیرتي او پښتنو ملګرو کښې د ښځې او سړي ترمنځه کرښه راښکل، د ډېر احتیاط باوجود هم د اونچ نیچ او نر ښځې تفریق پیدا کوي. ولې دا فرق د باچاخان د ژوند، فکر، عمل او جدوجهد خلاف پرېوزي، نو باید چې مونږ خپله هره خور، هره مور او هره لور، د هر رور، هر پلار د اوږې څادر او د پټکي عظمت وګڼو. او هر چانه بغېر د څه تفریق نه، ددې خاورې، دې وطن، دې قام او دې اولس مینه او د فکر و عمل د مېدان د سربازۍ جذبه حواله کړو. دا زمونږ د ماضي تاکید هم دے، د حال تقاضې هم. او د مستقبل د غم ارزوګانې هم دی.

زمونږ په سر چې کوم کار دے. هغه اوس لکه د تندر غوندې زمونږ په سرونو لګیا دے راپرېوځي. باید چې مونږ هم دغسې دردمن خلک او لیکوالکي پیدا کړو، چې مونږ ته تاریخ هم را وسپاري، او د حال د تازګیو نه مو هم خبر کړي، او د مستقبل د جانان د سترګو د رڼا غېږ راته هم په ګوته کړي، پروین هم ددغو لارو یوه خوږمنه لارۍ ده. او هم د دغو فکرونو د راغونډولو په غم غمژنه ده، او ددې خاورې او دې وطن، قام او اولس یوه رښتونې لور ده، امید کوم، چې د تپوس کوونکو تسلي به شوې وي.

**ایډیټر «پښتون»**

دوړ ؤ. چې دغه زمانه کښې. چې محمود الحق عثمان، عابد زبیری مونږ سره ملګری وو. مونږ هغه وخت په کراچۍ کښې اوسېدو، حاجی شېرخان، وحیدالله بابا د زروبی او داسې ډېر ملګری چې نن نشته. الله تعالی دې ورله بهتر جنتونه ورکړی، وحیدالله بابا ماته خپله لور ونیله. جنګ کراچی اخبار ډېرې ورځې یو کالم شایع کړے ؤ. کېدے شی چې چا سره هغه کالمونه موجود وی، په دغه کالمونو کښې د هندوستان نه راغلی خطونه شایع کېدل. او په دغه خطونو کښې د خدائے بخښلی بابا کارنامې شایع کېدې، چې باچاخان څنګه څنګه حالاتو کښې د هندوستان د مسلمان خدمت کړے ؤ. او څنګه څنګه افتونه او مصیبتونه یې رفع کړی وو، ډېر خو مې نه دی یاد خو یو دوه واقعات لیکم چې کوم ماته یاد دی، او خاصکر د کراچی ملګرو ته درخواست کومه چې که چا سره دغه کالمونه وی، نو باچاخان مرکز ته دې یې ورکړی

یو خل په حیدراباد کښې د مسلمانانو او هندوانو سخته دښمنی شروع شوه، د اندراګاندهی حکومت ؤ. حالات دومره خراب شول، چې حکومت هم بې وسه شو، مسلمانان او هندوان یو بل ته مورچه زن ؤ، مرګ ژوبله ورکښې هم کېدله، په دې کښې مسلمانانو باچاخان ته خط ولیکلو. چې د الله دپاره راشه او مونږ د مصیبت نه خلاص کړه، باچاخان ته چې کله خط ورسېدو، نو د الله سپاهی هغه وخت پاڅېدو، او هندوستان ته لاړو، هلته په رسېدو. اندراګاندهی یې تود هرکلے وکړو، ولې باچاخان ورته ووې چې زه دلته مېلمستیا له نه یم راغلے، زه اوس اوس تلل غواړم اندراګاندی ورته ووې چې داسې نه شی کېدے، هلته ډېره خطره ده، ولې پښتون بابا د خطرو نه کله وېرېدو، چې اندراګاندهی پوهه شوه، چې بابا اوس پاتې کېدو والا نه دے، نو اجازت یې ورکړو. او باچاخان یک تنها هغه مېدان کارزار ته روان شو

باچاخان چې کله هلته ورسېدو، نو اول د هندوانو کېمپ ته لاړو، د هغوی مشرانو سره یې خبرې اترې وکړې، هغه وخت ډېر تیرو حلقو سره تشویش پیدا شوے ؤ، باچاخان هلته نه بیا د مسلمانانو کېمپ ته لاړو، او ورسره یې خبرې اترې وکړې، اخر داسې اوشو، چې کله بابا دغه مېدان نه واپس شو، نو مسلمانانو او هندوانو یو بل ته غاړې ورکولې، او باچاخان زنده باد چغې یې وهلې، کوم کار چې د هندوستان حکومت نه شو کولے. هغه کار باچاخان په یو څو لمحو کښې وکړو.

یو خل باچاخان هندوستان ته لاړو، د ائیرپورټ نه چې کله روان شو، نو په لاره کښې یو څو سرنګونه وو، چې خلکو په زمکه کښې جوړ کړی وو، ولیدل، باچاخان فوراً ګاډے ودرولو، او هغه خلکو له ورغلو، هغوی سره یې خبرې اترې وکړې، د دوی د حالاتو نه یې ځان خبر کړو، کله چې اندراګاندی سره ملاؤ شو، نو اوله خبره یې ورته دا وکړه، چې ماته دا ووایه چې ولې ما او ستا بابا ازادي دې دپاره حاصله کړې وه، چې خلک په غارونو کښې اوسېدل شروع کړی، د هندوستان حکمرانانو ته یې داسې خبرې وکړې، چې اندراګاندهی فوراً ورسره لاړه، هغه خلکو سره ملاؤ شوه، او په هغه ځائے کښې یې ورله فلېټونه جوړ کړل.

دا ؤ د مسلمان او په تېره تېره د انسانیت خدمت، داسې ډېر واقعات شته، چې مونږ خلک ورنه خبر نه یو، باچاخان چې څه هم کار یاد کړے دے، اول یې په خپل ځان کړے دے، د پښتون بچے چې نن کوم تعلیم کوی، مېجران، جرنیلان او ډېرې غټې غټې عهدې ورسره دی، که په دې پښتونخوا کښې باچاخان تعلیم نه وے، خور کړے، نن به هېڅ نه وو. ولې چې دې خلکو به وئیلې چې:

سبق د مدرسې وایی
دپاره د پیسې وایی
جنت کښې به یې ځائے نه وی
په دوزخ کښې به غوټې وهی

رحمان الله مومند

# د مشرف اخري ورځې

میرې ته چې خدائے په قهر شي، نو هغه له وزرې ورکړي، د پاکستان د حکمرانانو چې اخري ورځ راشي،نو هغه خپل مالک امریکې سره په لانجه شي، د پاکستان واکمن او فوځي مشر جنرل پرویز مشرف نن سبا بیا امریکې سره تاؤتریخوالے زیات شوے دے، خو تر اوسه پورې په پاکستان باندې د طالبانو او القاعده خلاف کار نه کولو او د ناراستي الزامات لګوي، دا قیصه خواوس د چا نه هم پټه نه ده، بلکې ټولې دنیا ته څرګنده شوه، چې د طالبانو په راوستلو کښې د ائی ایس ائی او د پاکستان لاس ؤ، او کومو جرنیلانو چې دا کار کړے دے، هغوی پخپله هم ددې خبرې اعتراف کړے، خو د افسوس خبره داده چې د اعتراف جرم نه باد هم پښتنو هغوی له سزا ورنکړه، نو کوم طالبان چې پاکستان جوړ کړي وو، د پاکستان هغه اداره به د هغوی خلاف څنګه عملیات وکړي، د طالبانو په مشرانو او په ویاندو دا الزام لګي، چې هغوی په پاکستان کښې دي، خو ورسره دا هم وئیل کیږي، چې هغوی په قبایلي سیمو کښې خپل ژوند کوي،نو ددې یوې خبرې وضاحت ضروري دے، چې د طالبانو ویاند چې کوم سهولیات د ای میل، انټرنیټ او موبایل استعمالوي، هغه په قبایلي سیمو کښې هرګز نشته، دا سهولیات د پاکستان په ښاري سیمو کښې دستیاب دي، چې د پاکستان د اجازت نه بغیر نه استعمالیږي، پاکستان بلا جواز او بغیر څه د ضرورته اووه زره فوځیان په قبایلي سیمو کښې واچول، او بهانه کوي، چې ترهګر په دې پوله پاکستان ته راوړي، خو عجیبه خبره داده، چې د پاکستان فوځیان چې کومه قبایلي سیمه باندې قدمونه کړدي، نو هلته ترهګري شروع شي، پاکستان دا اعتراف کوي، چې په قبایلي سیمو کښې د پاکستان اووه زره فوځیان ناکام شوي دي، او دوي ترهګري نشي کنټرول کولے، نو په ډیورنډ کرښه باندې ازغن تارلګول ضروري دي، چې په اصل کښې د ترهګرۍ د مخنیوي دپاره نه بلکې د پښتون قوم تقسیمول یې مقصد دے.

خو هغه متل دے، چې رسۍ د وسولمه خو ګونجې یې ختمه نه شوه، د پاکستان د پنځوسو زرو پښتنو په وینو یې ټتر یخ نه شو، نو اوس یې بل سازش شروع کړو، د پښتنو د تقسیم په فارموله یې عمل شروع کړو، د پنجاب مشران تراوسه پورې په دې خبره پوهه نه شو، چې پښتانه مونږ مړه کړل، خو ټیټ مو نه کړل، نو اوس به د هغوی د تقسیم فارموله څنګه ومنی، او یو ورور به د بل ورور نه څنګه جدا کړي، ولې چې د شریک خاندان فارموله خوخلک د پښتون نه زده کوي، د یوولسم ستمبر د واقعې نه پس چې د امریکې صدر جارج ډبلیو بوش کله د پاکستان صدر جنرل پرویز مشرف کوم دوټوک الفاظ کښې ووئیل چې یا د دوست کېمپ کښې شامل شه او د دښمن او خپل د ترهګری کیمپونه ختم کړه، او د طالبانو د ملګرتیا نه لاس واخله،نو په درې ورځو کښې دننه دننه پاکستان د افغانستان نه خپل کنډ

کنډول راغونډ کړو. طالبان یې تنها پرېښودل. د ائی ایس ائی چې د کشمیر دپاره کوم کار کوو. هغه سیل یې معطل کړو. او د افغانستان سیل یې بیخی ختم کړو. او د طالبانو او د ترهګرو خلاف یې د امریکې او اتحادی هوادونه سره ملا وتړله. خو چې کله په افغانستان کښې امن راغے. د ترقی کارونه شروع شول. او یو خودمختاره هېواد تری جوړ شو. افغانانو خپل منځ کښې تاوتریخوالے ختم کړو. او د افغانستان ابادوالو ته یې شریکه ملا وتړله. نو د پنجابی سترګې بیا کږې شوې. چې د پښتنو شریک کور بیا ودانیږی. نو دده په زړه تیاره شوه. او پیشو په مزه مزه د سوړې نه راووتله. او بیا یې هغه کارونه شروع کړل. کوم چې د پښتون د تباهی او بربادی دپاره وی. په پېښور کښې یې د ائی ایس ائی د افغانستان دپاره سېل یې بیا ژوندے کړو. خپل زرخرید مزدورانو افغانانو سره یې بیا رابطې شروع کړې. د افغانانو د اختلو دپاره یې د پیسو بورۍ برانستې زاړه ایجنټان څې او ځان له ملګری ګوری، او د ائی ایس ائی مشرانو سره یې معرفی کوی، خپله حصه اخلی او عملیاتو ته یې چمتو کوی.

یوازې په پېښور کښې نه بلکې په کابل کښې د پاکستان سفیر هم دا کار شروع کړے دے، او د قبایلی سیمو د پولیټیکل ایجنټ په شانتې د حکومت خلاف ډلو باندې پېرزونې کوی. او هغوی له نقدې روپۍ او په پاکستان کښې مراعات ورکوی، د سفارتی ادابو برخلاف د پاکستان سفارتخانه د ائی ایس ائی د ایجنټانو کار کوی، د حکومتی مخالفو کسانو په دعوتونو کښې هوټلونو کښې سرعام شریکیږی.

هغوی د حکومت خلاف د هلو ځلو دپاره ډاډګیرنې کوی. د افغان حکومت مخالفو ډلو سره مرسته د طالبانو خلاف عملیات نه کول، او پاکستان کښې دننه د ملایانو د ډلې ایم ایم اې حوصله افزایی کول، د امریکې خلاف بلیک میلنګ کوی. هغه به پرې نه پوهیږی، خو د پاکستان دې کښې خپل یومقصد ؤ. چې ګنې په لړو او چغو او په نورو ډرامو باندې د کرزی حکومت مجبوره کړی. او د امیر عبدالرحمان او د ډیورنډ غوندې به یوه لوظنامه لاسلیک کړم. او د ترهګرۍ په نوم باندې د ډیورنډ په پوله باندې ازغن تار خور کړم، ولې قبایلو، افغان حکومت او ټولو پښتنو دا سازش ناکام کړو. او د ازغن تار د لګولو یې سخته غندنه وکړه. او دا یې د پښتون قام د یو بدن حصه وګرځوله. کرزی حکومت بار بار ووئیل چې د طالبانو مشران او د القاعدې ترهګر په پاکستان کښې دی، نو پاکستان ددې نه انکار وکړو. او کله چې د افغان اولس مشر کرزی دا ووې چې ملا عمر او د هغوی نور ملګری پاکستان کښې دی، او ددې ځائے نه ترهګری کوی، نو هم په هغه ورځ د طالبانو ویاندو ته هر څه سهولیات میلاو شی، او هغوی ټول پرنټ میډیا او الیکټرانک میډیا ته د خبر ورسوی، چې نه ملا عمر او د هغوی ملګری په افغانستان کښې دی، او د طالبانو کمانډ کوی، او د پاکستان په ځائے د طالبانو ویاند د هغوی جواب وایی، چې د طالبانو د ویاند او ملا عمر دومره نزدې رابطه ده، او د طالبانو د ویاند نه د ملا عمر د هر حرکت پته لګیږی، نو دې جدید دور کښې چې هغه د څه په ذریعه رابطې کوی، ذرایع ابلاغ سره ټیلی فونی تماسونه نیسی، نو هغه څنګه پټ پاتې کیدے شی.

دا ټول عوامل د عام کس نه پټ نه دی، نو پاکستان، امریکه او افغانستان نه به څنګ پټ پاتې شی، پاکستان سترګې پټې کړې، او په پټو سترګو خپل عملیات کوی، خو امریکه د بعضو مجبورو د وجې نه په رموز او سفارتی ژبه ډېر پوهه کړو، خو هغه د چا خبره چې چا ویښ ځان اوده کړو، نو د چا پلار به یې راپاڅوی، او اخر امریکه په دې نتیجه ورسېده، چې پاکستان ماسره ډبل ګېم کوی، او چې څوک په دوو کشتو ښپې ږدی، نو په منځ شلیږی، پاکستان به یا د افغانستان نه خپلې ګوتې وباسی، او قول او فعل به یو کوی، او د ترهګرۍ په جنګ کښې به ټولې نړۍ سره ملاتړی، او یا به د پنجابی د خوشحالولو دپاره په ډاګه میدان ته راوځی، چې هغه جنګ به د پښتون او پنجابی جنګ وی، چې د پښتون په ګټه به تمامیږی، ولې چې کوم سیے چې مالک ته خوله واچوی، نو هغه په زنځیر کښې تړل ضروری وی.




لیکچرر ډاکټر جبار خټک
ترتیب محب وزیر

# د قامونو په جوړښت کښې د میډیا کردار

دا لیکچر د سباؤون تهنکرز فورم کراچۍ له اړخه په ۱۳ مارچ ۲۰۰۵ء کښې شوے دے.

د ټولو نه اول زه مشکور یم د سباوون تهنکرز فورم د ملګریو چې ماته یې دا اعزاز راوبخښلو چې زه ستاسو په وړاندې په دومره اهمه موضوع کومه چې په قامی ژوند کښې د سیاسیاتو، سماجیاتو او معاشیاتو هومره اهمیت لری، د قامونو په جوړښت کښې د میډیا کردار نن په دې لحاظ هم د زیات اهمیت وړ دے، چې نن په نړۍ کښې د میډیا یو یلغار مخې ته راغلے دے، زه به کوشش کوم چې په مختصر خو په جامع انداز د خپلې موضوع سره انصاف وکړے شم.

د ټولو نه اول به دا وګورو چې قام څه ته وایی او میډیا د څه شی نوم دے، وروستو به ددې ځان ځان له پېژندګلو تاسو سره وکړم او بیا به ددې ښکاره کولو کوشش کوم چې ددې دواړو د یو بل سره تعلق او تړون څومره او څنګه دے؟

قام څه ته وایی:........ قام جوړیږی، قام پیدا کیږی نه، قام د همېشه نه موجود شے نه وی، خو قام څنګه جوړیږی؟ دا ډېره وسیع موضوع ده، چې زه یې نن هم دلته کښې پرېږدم، البته د افرادو یو ټولے یا ګروه چې په یو ځائے اوسیږی او د یو بل ترمینځه معاشی او سماجی رشتې سره شریکې کړی، بس ددغه ځائے نه د قامی جوړښت سلسله شروع شی، د قام په جوړښت کښې د ټولو نه اهم شے ژبه وی، په کار ده چې د قام سره یوه ژبه وی، د ژبې نه بغېر د قام تصور هډو ممکن نه دے، خو د ژبې سره سره یوه مخصوصه علاقه هم د قامی وجود دپاره ضروری ګڼلے شی، او یو خاص قسم مشترکه

تاریخي، سماجي، ثقافتي روایتونه او تجربې هم د قام دپاره ضروري وي، دا ټول څیزونه او عناصر که خپلو کښې سره ګډ شي، سره شریک شي، نو دلته نه یو قام په وجود کښې راشي.

څنګه چې مونږ ووئیل چې قام د همېشه راسې موجود نه وي، بلکې قام باقاعده جوړیږي، وجود مومي، خو دا هم یاد ساتل ضروري دي، چې قام هر وخت هم نه جوړیږي، بلکې قام د تاریخ په یوه خاصه مرحله کښې خپل وجود مومي، مونږ که د قامونو تاریخ خصوصاً د پښتون قام تاریخ ته هم څیر شو، که څه هم د پښتون قام په تاریخ څوک متفق شوي نه دي، نو هم هغه یوه مخصوصه مرحله وه کله چې د پښتون قام د تشکیل اغاز وشو، او دغه مرحله هله پیدا کیږي، کله چې د یو څائے اوسېدونکي خلک یا وګړي په یو بل باندې سماجي انحصار زیات کړي، مثلاً که یو څائے اوسېدونکي وګړي د سماجي ژوند نه بېخي ازاد وي او د یو بل سره یې تعلق او په یو بل یې انحصار نه وي، نو په داسې صورت کښې که په یو څائے یا یوه علاقه ډېر وګړي یا خاندانونه هم اباد شي، نه ورته قام وئیل کېدے شي او نه د قامي وجود په زمره کښې راځي.

دقام د جوړښت خاص مرحله هم دا وي دکوم وخت نه چې دوی په یو بل انحصار کول شروع کړي او دا انحصار دژوند په ټولو اړخونو مشتمل وي، سماجي، سیاسي، ثقافتي او خصوصاً معاشي انحصار یې په یو بل ډېر ضروري دے، او د انحصار دا مرحله هله شروع کیږي، کله چې په یوه مخصوصه سیمه کښې اوسېدونکي خلک د څه بېروني خطرو سره مخ شي. دوی بیا د خپل څان او خپل خاندان د تحفظ دپاره د خپل چم ګاونډ وګړو ته توجه ورکول شروع کړي، په هغوی انحصار وکړي او هغوی د راروانې خطرې دپاره د څان سره شریک کړي، او دا انحصار چې څومره مضبوط وي، څومره تېز او څومره زیات وي، د قام په جوړښت کښې هم دومره تېزي او تادي راځي او بیا چې کله د قام د جوړښت د عمل ابتدا وشي ورسره دقام د ارتقاء عمل هم شروع شي

د قامونو په ترقۍ کښې ژبه بنیادي کردار لوبوي، که ژبه ترقي یافته وي نو قام به هم ترقي یافته وي او که ژبه کمزورې وي نو قام به هم وروستو پاتې وي، مقصد دا چې د قامونو د ارتقاء دپاره د ژبې ترقي ډېره ضروري ده، د ژبې نه پس دقامي ترقۍ په عمل کښې کلچر ته هم زیات اهمیت حاصل دے، کلچر چې دلته ورته خلک ثقافت وایي خو کلچر یو داسې لفظ دے، چې زما په خیال لفظ ثقافت د هغې په سهي توګه احاطه نشي کولے، څکه زه کلچر ته هم کلچر وایم او ثقافت ورته نه وایم، کلچر د ژوند تېرولو طور طریقه ده او د ژوند په طور طریقه کښې ثقافت هم شامل دے، دریم څیز د قام د ترقۍ په عمل کښې قامي ورثې ته زیات اهمیت ورکول کیږي، خپل نوي نسل ته په یو ښه او مثبت انداز ددې قامي ورثې منتقلي ډېره ضروري وي، یعنې د قام چې څومره حاصلات دي، څومره یې تجربات دي، څومره یې روایات دي، دا هر څه چې نوي نسل ته په وخت ونه رسي، نو قامونه د خطرو سره مخ کېدے شي، او دقام په ترقۍ کښې څلورم څیز د قامي ترقۍ عمل په سائنسي طریقه مرتب کول دي. که چرته دا عمل په غېر سائنسي توګه وي مثلاً دجادو په نوم وي، د روحانیاتو په نوم وي،

> **د قام په جوړښت کښې د ټولو نه اهم شے ژبه وي، په کار ده چې د قام سره یوه ژبه وي، د ژبې نه بغېر د قام تصور هډو ممکن نه دے، خو د ژبې سره سره یوه مخصوصه علاقه هم د قامي وجود دپاره ضروري ګڼلے شي، او یو خاص قسم مشترکه تاریخي، سماجي، ثقافتي روایتونه او تجربې هم د قام دپاره ضروري وي، دا ټول څیزونه او عناصر که خپلو کښې سره ګډ شي، سره شریک شي، نو دلته نه یو قام په وجود کښې راشي.**

د مذهب په نوم وي، يا د بې ځايه قوم پرستۍ (معتصبانه قام پرستۍ) په نوم وي، او هر کله چې يو قام خپل قدرونه، اخلاقيات او روايات د حالاتو سره سم نه کړي، د وخت د معيار سره يې برابر نه کړي، نو په داسې صورت کښې د قام ترقي ناممکنه ګڼلې کيږي، دا څلور څيزونه د قام د ترقۍ دپاره لازم دي، او ددې سره دا هم کتل دي، چې د قامونو د ترقۍ معيار څه دے؟ څه پيمانه ده؟ چې په هغې د يو قام د ترقۍ عمل سره ناپ کولے شي، دغه پيمانه قامي سياست دے، د قامي ترقۍ اثار د وګړيو د



ژوند د معيار نه هم معلوميدے شي، په وګړيو کښې د عام وګړي د ژوند معيار ته کتل په کار دي، داسې نه چې مثلاً د پښتنو د څنو خانانو د ژوند معيار د ټول پښتون قام د ژوند معيار وګڼل شي، د قام د پايدارۍ دپاره چې کومه پيمانه وضع کړے شوې ده.هغه د عام انسان دژوند د معيـــار اوچـــت والـــے دے، او د ژونـــد معيـــار د تعليم،صحت او روزګار په شعبو کښې کتل په کار دي، د قام د جوړښت نه زيات د قام د ترقۍ عمل ته توجه ورکول ضروري دي،مثلاً يو شے جوړ خو شي خو ددغه څيز وجود قايم ساتل او په وړاندې بوتلل د جوړښت نه زيات دپام لرنې ور دي، د سکول بلډينګ جوړول ځان له يو عمل او بنيادي عمل دے، خو ددغه سکول بلډينګ نه کار اخستل او د هغې په ښه توګه استعمالول بيخي بدل عمل دے.

اوس راځو ميډيا ته، ميډيا څه ته وايي؟ ميډيا يو جمع لفظ دے او ميډيم يې واحد دے،د ميډيم مطلب ذريعه يا وسيله،خو د ميډيا لفظ چې مونږ استعمالوو، نو زمـــونږ مطلـــب ترېنـــه ذرايـــع ابـــلاغ وي، ميـــډيا د کميونيکشن او د اظهار يوه وسيله ده او اظهار هميشه دپاره د ژبې محتاجه وي، د ژبې نه علاوه د اظهـار تـصور نـاممکن دے،له دې کبله د ميډيا تعلق د نورو ټولو اجزاؤ په نسبت د ژبې سره زيات دے، يا به داسې ووايو چې ميـډيا او ژبـه د يـو بـل سـره لازم او ملزوم دي. څنګه چې اظهار دپاره ژبه ضروري ده دارنګـې د ژبـې دپـاره Vichle (سـورلي) ضـروري دے،دې سـورلۍ تـه پـه عامـه اصطلاح کښې مونږ ميډيا وئيلے شو.

د ميـډيا درې قسمونه دي، اول د انسان د خپـل ذات سره په رابطه کښې کېدل دي، چې انګرېزۍ کښې ورتـه Intra Personal communication وايي، يعنې د انسان په خپـل ذهـن کـښې د موجـودو سـوچونو او فکرونو سره په رابطه کښې کېدل، د ميډيا دويـم قـسم د دوؤ کـسانو ترمېنځـه رابطـه کـول دي، چې انګرېزۍ کـښې ورتـه Inter Personal communicationوايـي، او دريـم قـسم يـې Mass communication دے، د ميډيا په دې دريم قسم کښې يـو انـسان د ډېرو انـسانانو سره خپلـه رابطـه ساتي، دا رابطه د تحرير او تقرير په دواړو صورتونو کښې کېدے شي، دې کـښې د جلسو پرنټ او الېکټرانـک ميـډيا او نېټ پوره ذرايع شاملې دي، اوس راځو دې خبرې ته، چې د قـام په ترقـۍ کـښې د ميـډيا څه کردار دے يا څه کردار کېدے شي؟

۵- میډیا د قام د مختلفو منطقو د وګړیو تجربیات، روایات او خاصلات یو بل ته رسوي او د غه هم اړه [illegible] عملیات مربوط کوي، او د یو نوي طرز فکر بنیاد هم ایښودل کوي او نوي نوي انکشافات هم د معلوماتو په توګه اولسي ته ور کوي. د قام د یوې مخصوصې حصې طرز فکر، غمونه او خوشحالۍ، مسئلې او وسایل د قام نورو حصو ته رسوي. د میډیا په اړوند د قام وګړي یو بل ته




په ذهني او روحاني توګه نژدې راځي. د مثال په توګه په وزیرستان کښې ناست یو پښتون د صوابي د پښتنو د صورتحال نه د میډیا په ذریعه خبریږي، په پېښور کښې ناست پښتون د ګوټي د پښتنو د پېښو او حالاتو نه د میډیا په ذریعه خبریږي، هر کله چې د میډیا په ذریعه دا اطلاعات د قام د مختلفو منطقو وګړیو ته رسي نو د دوی ترمینځه یو ذهني، جذباتي او تخیلاتي تړون پیدا کیږي

۵- د میډیا یو بل کردار دا جوړیږي، چې هغه د قامي ژبې د مختلفو لهجو ترمینځه یو تعلق پیدا کړي او د هغې په بنیاد د یوې معیاري لهجې د ودې او پرمختګ د پاره لاره هواره کړي. مثلاً پښتو کښې یوسفزي لهجه معیاري لهجه ګڼلې شي، خو دا معیاري لهجه هغه وخت [illegible] ته رسېږي، [illegible] پښتنو د میډیا [illegible] معیاري لهجې ته [illegible] کړي شي.

۵- میډیا د قامونو د جوړښت په سلسله کښې د سماجي او معاشي انحصار خبره کیږي، د دغه انحصار په زیاتولو کښې میډیا یو مثبت کردار ادا کوي. او دا کردار د یو معاشي منډۍ د جوړولو په صورت کښې ادا کوي، مثلاً میډیا دا معلومات خلکو ته رسوي چې د غنمو پیداوار کوم ځای کښې زیات دے، او چرته د غنمو کمے دے، او چرته یې بازار نود دے، په دغه تناسب بیا قامي سوداګر د اجناسو د رسولو اهتمام کوي، او د دغه معاشي منډۍ په وجه د قام د وګړیو ترمینځه میل میلاپ زیاتیږي

۵- میډیا د یو مجموعي قامي کلچر په جوړولو کښې هم زیات لاس لري. میډیا د قام علاقایي او قبیلوي روایتونه، رسمونه رواجونه، لوبې، میلې، سندرې، متلونه او د مختلفو لهجو محاورې او روزمرې کوم چې یو خپل مخصوص تناظر او پس منظر لري، په یو دایره کښې راولي، او د دغه علاقایي جزیاتو نه یو مجموعي کلچر په وجود کښې راولي، کوم چې بیا د وګړیو قامي شناخت جوړیږي، خو دلته دا

"میډیا د احساساتو او د اظهار یوه وسیله ده او اظهار همیشه د پاره د ژبې محتاجه وي، د ژبې نه علاوه د اظهار تصور ناممکن دے. له دې کبله د میډیا تعلق د نورو ټولو اجزاؤ په نسبت د ژبې سره زیات دے"

خيال ساتل په کار دی، چې ډېرو قبيلو کښې د کلچر په نوم ډېرو داسې ناوړه رسمونو رواجونو هم وجود موندلے دی، کوم چې د يو صحت مند کلچر دپاره د نقصان سبب جوړېدے شي. مثلاً د غېرت په نوم قتل. د جينکو د تعليم مخالفت، خپل تربور دښمن ګڼل، اوس دلته کښې د مېډيا دا فرض جوړيږی چې هغه په مجموعی کلچر کښې ددغه منفی رويو اوروايتونو لاره ونيسی او د يو مثبت کلچر د جوړولو خپل کار ترسره کړی. قامی کلچر چې څومره معياری وی يا قامی کلچر کښې چې څومره يو شان والے موجود وی، د هغې نه دقام د ترقۍ سهی اندازه لګېدے شي.

ο-د مېډيا يو بل اړخ د جمهوری کلچر د پيدا کولو په لړ کښې مخې ته راځی، په مېډيا د قام د ستونزو او کشالو په هکله د بحث و مباحثو يو سلسله چليږی، دا مباحثه تحريری هم او تقريری هم وی، په دې کښې مختلف فکر لرونکی خلک ګډون کوی، ددغه مباحثو په تناظر کښې زمونږ طرز عمل په يو جمهوری کلچر کښې بدليږی، زمونږ په مطلق العنان کلچر کښې دجرګې نه سېوا په کور محلت او قبيله کښې غېر جمهوری رويې مضبوطې شوې دی، د مېډيا په ذريعه ددغه غېر جمهوری رويو بنيادونه نړېدے شی او يو صحت مند جمهوری رجحان وده موندے شی،دا جمهوری کلچر فقط سياسی مسئله نه ده،بلکې دا يوه سماجی مسئله هم ده، جمهوری رويې دخپل کور نه شروع کيږی،تعليم، صحت، کرکيلې او د ژوند د نورو ضروورياتو په مد کښې په يو کور کښې چې څومره جمهوری رويې موجودې وی، د مشورو عمل ته چې څومره تقويت حصال وی، دومره به کور او خاندان مضبوط وی، او ددې په نتيجه کښې په معاشره کښې يوه ازاده فضا جوړيږی، هم دغه ازاده فضا بيا د قام او ملک د ترقۍ ضمانت ګرځی.

ο-د مېډيا کوم بل اړخ چې زمونږ مخې ته راځی،هغه د پورته بيان شوو شعبو په مد کښې د ترقۍ دا وراثت خپل نوی کهول ته منتقل کوی دی. يو قام چې د ترقۍ تر يو موړ رارسېدلے دے، يا په دغه لړ کښې د څومره تجربو نه راتېر شوے،د څومره ستونزو سره مخ شوے دے،ددغه تجربو نه روايات وده مومی او په روايات‌و کښې د رسمونو رواجونو نه علاوه ادب،فوکلور،تاريخ، اتلان(هيروز) او ذرايع پېداوار، دا هرڅه ددغه قام تاريخی ورثه ګڼل شی، مېډيا چې دغه ورثه خپل نوی نسل ته منتقل کوی، نو د هغې په بنياد نوے نسل د ترقۍ دغه سفر مخ په وړاندې بوځی.که چرته دغه ورثه نوی نسل ته منتقل نشی نو هغه به د نوی سر نه نوې نوې تجربې کوی، په دې وجه به د قام د ترقۍ مزل سست وی.

زما په خيال چې د مېډيا په حقله چې څه ويل کېدے شو، هغه تقريباً وويلے شول، خو اخرنۍ يوه خبره دا کول غواړم چې ننني دور کښې چې مېډيا د قامونو او ملکونو په سياست،معيشت او معاشرت کښې څومره په تېزۍ سره خپل کردار ادا کوی، د هغې نه دا ثابتيږی چې په راتلونکی وخت کښې به هغه قامونه يا ملکونه ژوندی هم وی،متحرک هم وی او ترقی يافته هم وی، چې يو مضبوطه مېډيا يې په لاس کښې وی، او که د يو قام سره دا ذريعه په لاس کښې نه وی، نو بيا د هغه قام مستقبل هم څه ډېر حوصله افزا نشی کېدے.

"مېډيا د قام د مختلفو منطقو د وګړيو تجربات، روايات او حاصلات يو بل ته رسوی او دغه خواره واره عمليات مربوط کوی، او د يو نوی طرز فکر بنياد فراهم کوی. او نوی نوی انکشافات هم د معلوماتو په توګه اولس ته ورکوی"



# سپېڅلي کردارونه

انور مانیروال

چې په کومو کردارونو باندې مونږ په لاندنیو کرښو کښې د سپېڅلي مهر لګوو، نو دغه کردارونه په خپل کور او حجره کښې په ناستهٓ نه دي جوړ شوي، او نه ورله چا په ډالۍ کښې ورکړي دي، بلکې دغه کردارونه د مسلسل او نه ستړي کېدونکي جدوجهد، لوړو تندو، جېلونو او د پرنګي د وهلو ټکولو او ظلمونو زغملو نه پس ساز شویدي،او دا هغه کردارونه دي دکومو چې مونږ منت بار یو. مونږ له یې پوهه، شعور او بېداري راکړې ده، نن چې مونږ ګېرچاپېره نظر وزغلوو، او خپل حالت ته وګورو نو ددغه کردارونو کمے محسوسیږي، خدائے پاک ددغه کردارونو رالېږل نه دي بند کړي، بلکې مونږ پخپله پخپل هوس، لالچ او بدنیتۍ دغه کردارونه جوړول بند کړي دي، که دغه ذکر شوي توکي کوم چې عارضي دي، زمونږ نه ووځي نو لرې نه ده، چې دغسې کردارونه وزیږیږي، او د خپل قام او خپل وطن د سوکالۍ او ښېرازۍ په کار کښې به مثبت ګامونه پورته کړي، راځئ چې ددغه سپېڅلو کردارونو نه د یوڅو حال ولولو

اکرم بابا چې د صوابۍ کلي اوسېدونکے خدایي خدمتګار ؤ، او د باچاخان سره ډېر ګرځېدلے ؤ، عزیز مانیروال وایي چې اکرم بابا ماته وئیلي وو، چې «په مرغز کښې د خدایي خدمتګارو درې ورځې کېمپ لګېدلے ؤ، باچاخان پکښې موجود ؤ،دغه کېمپ ته یوه ورځ د برصغیر پاک و هند منلے شوے عالم دین حسین احمد مدني راغلو، باچاخان او مدني صیب په یوه خېمه کښې ناست وو، خبرې اترې یې کولې چې په دې کښې د علاقې یو څو ملیان صاحبان راغلل، زه او ماسره دوه درې نور خدایي خدمتګار په ډیوټۍ ولاړ ؤ، ملیان صاحبان مونږ ودرول، مونږ ترې پوښتنه وکړه، چې څه کار لرئ. هغوی وې چې مونږ حسین احمد مدني سره ملاوېدو له راغلي یو، ما ورته وې چې زه ترې تپوس کوم، که اجازت یې راکړو ،نو بیا به تاسو ورشئ، ما د هغوی نه تپوس وکړو، هغوی وې راځي دې، باچاخان بلې خېمې ته لاړو، او دوی ورسره کښېناستل، دلته به زمونږ د ډیوټۍ والو دا طریقه وه، چې د ملاقاتونو په وخت کښې به باچاخان یا بل چا مشر مونږ ته وې، چې

تاسو لاړشئ، نو مونږ به لاړو، او که غلے به پاتې شو. نو بیا به مونږ په ډېوټۍ ولاړ وو، مدني صیب مونږه ته د تلو دپاره ونه وئیل نو مونږ ولاړ ؤ. حسین احمد مدني صیب د هغوی نه تپوس وکړو، چې وایئ، هغوی ټولو ورته یوه خبره وکړه، چې صیب! مونږ خو حېران پاتې یو. چې تاسو خو ډېر لوئے عالم دین یئ او راغلئ نو دې کافرانو سره ناست یئ. مدني صیب ورته وې، چې پاڅئ او دې سرو وردو او دې خدایي خدمتګار و ته سلام وکړئ. هم دغه خلک دي چې تاسو له د ازادۍ جنګ کوي».

د ۱۹۸۲ء خبره ده، چې باچاخان د صوابۍ په دوره ؤ. د ټاکنې مطابق شېوې کلي ته لاړل. په شېوه کښې فیض محمد لالا چې اوس هم ژوندے دے، او خدائے دې یې ژوندے لري، د باچاخان حلالي پیروکار دے، او د دوی پلار، ترونه، ورونه، یعني ټول ټبر خدایي خدمتګار دي، او د خدایي خدمتګارۍ په دغه سفر کښې یې ډېرې قربانۍ ورکړې دي. فیض محمد لالا چې پخپلو افکارو، او نظریاتو یې چرته هم سودا نه ده کړې، که پارټۍ یې بدله کړې هم ده، خو د خپلو نظریاتي سرحدونو نه یوه انچې هم په ښکته نه دے راغلے، ټول عمر یې د باچاخان د نظریاتو په چوکاټ کښې تېر کړے دے، د باچاخان د دورې په ورځو کښې فیض محمد لالا PNP ته تلے ؤ، او په حجره یې ددغې پارټۍ جهنډه لګېدلې وه، باچاخان چې شېوې ته ورسېدو، نو د هغه کلي کارکنانو ته یې وې، چې ما د فیض محمد حجرې ته بوځئ، هغوی ورته اووې چې هغه خو بلې پارټۍ ته تلے دے، باچاخان ورته وې، چې تلے دې وي، ما هلته بوځئ، هغوی ورته بیا اووې چې د هغه په حجره د بلې پارټۍ جهنډه لګېدلې ده، نو باچاخان ورته وې، چې لګېدلې به وي، فیض محمد هېچرته نه دے تلے، ما هلته بوځئ، او بیا هم هغسې وشو، څه چې هغوی غوښتل، د فیض محمد لالا خائے ته لاړو، هلته یې ډوډۍ وخوړه او بیا یې هلته ارام وکړو، او بیا پخپل مقصد پسې روان شو، نو ددې خبرې ذکر کول ددې دپاره وو، چې باچاخان پارټۍ بازۍ او بدنیتۍ نه کولې، هغه د مینې مبلغ ؤ، او مینه یې خوروله، هغه ټولو پښتنو سره مینه کوله، او بله دا چې د هغه وژن دومره تېز ؤ، چې هغه به دې پوهېدو، چې فیض محمد څومره کمټډ نیشنلسټ دے، په څه خبره به وقتي طور خفه وي، خو دے زمونږ ملګرے دے، او هم دغه خبره نن ثابته ده، چې هغه فیض محمد لالا نن هم په هغه ملګرتیا کښې ولاړ دے، کومه ملګرتیا چې باچاخان جوړه کړې وه.

د عبدالخالق کاکا د وینا مطابق د کننګم صوابۍ ته دوره وه، خدایي خدمتګار خبر شو، صلاح وشوه، چې کننګم له به یو خط ورکوو، خو خط به څنګه ورکېدے شي، اوڅوک به یې ورکوي، ځکه چې د هغه په حفاظت کښې خو به ډېر فوځ ولاړ وي، د مانیرۍ حضرت الله کاکا ووې چې خط به زه ورکړم، د دورې په ورځ حضرت الله کاکا د روډ غاړې ته په یو پټي کښې خان په کار مشغول کړے ؤ، چار چاپېره فوځیان ولاړ ؤ، خو ده ته یې فکر نه ؤ، او که ؤ هم نو وې به یې چې څوک زمیندار دے خپل کار کوي، کله چې کننګم راورسېدو، په اس سور ؤ، او د حضرت الله کاکا خوا کښې تېرېدو، نو ده ورمنډه کړه، او د کننګم د اس واګې یې ونیوې، او خط یې ورله ورکړو، فوځیان پرې را غوټه شو، خو کننګم ورته وې، چې پرېې یې ږدئ، په خط کښې یې لیکلي وو، چې «تاسو د څومره لرې نه راغلي یئ، او زمونږ په خاوره مو قبضه کړې ده، ددلته نه بېرته لاړ شئ».

دا او داسې نور په زرګونو واقعات ددې دپاره بیانولے شي، چې مونږ غور و فکر وکړو، چې دغه کردارونه دغه وخت سره مخې ته راتلل، نو دا دومره جوش و جذبه، د فکر یووالے، مینه، وروروليٰ او قربانۍ پکښې څنګه پیدا شوي وو، د هغوی په سرلښکر او مشرانو او د هغوی په کردار او د هغوی په سیاست کښې څه داسې خوبۍ وې، څه داسې (Attraction) ؤ، چې داسې کردارونه یې وزېږول، نو په دغو خبرو د غور و فکر نه پس مونږ ته داسې ښکاره شي، چې هغوی په قول و فعل کښې تضاد نه ؤ، د هغوی په سیاست کښې نوم یا روپۍ ګټل نه وو، د هغوی منشا د سرکاري مشینرۍ سره تعلقات سازول نه وو، نو دا ځکه هغوی دداسې کردار

جوګه شو. چې نن پرې مونږ وياړېږو او دا دے ستائيش يې کو

په کار ده چې نن هم دغه ذکر شوي توکي زمونږ په کردارونو کښې وځليږي. نو هله به د اولس اعتماد او زړونه وګټلے شو. دغسې يوه بله واقعه يې هم ذهن ته راغله. چې د مانيرۍ سالار منير خان چې د خدايي خدمتګاري يو ځلنده ستورے ؤ، ناروغه ؤ. داسې ناروغه ؤ. چې خبرې اترې او ناسته ولاړه يې نشوه کولے. باچاخان هم دغو ورځو کښې ناروغه ؤ. هغه هم د ګرځېدو نه ؤ. خو حال دادے چې باچاخان په دغه ضعيفۍ کښې مانيرۍ ته راغے. په (ويل چيئر) کښې يې ښکته راکوز کړو. او سالار منير خان يې هم په کټ کښې راوړو. دواړه په کټونو کښې ملاست دي. او په اشارو خبرې کوي. باچاخان څه ساعت ؤ. بيا چې رخصتېدو نو سالار صيب له يې په موټي کښې څه پيسې کېښودې، وې په دې علاج وکړه. نو غرض د خبرې هم دغه دے. چې سالار صيب ددې جوګه ؤ. چې خپل علاج وغيره يې کړي وے. او علاج وغيره يې په صحيح توګه روان هم ؤ. دا خو باچاخان خپل ملګرى سره خپله مينه څرګنده کړه. چې په ناروغ وجود ورله راغے. او بيا يې څه پيسې هم ورکړې. نو دا هغه مينه او اخلاص ؤ. چې باچاخان يې په دې خبره مجبور کړو

نو اوس تاسو ووايئ چې د تحريک مشران داسې وي. نو د هغوی کشرانو او لاندې نور کارکنان به څنګه وي. او دغه مونږ وليدل هم چې د باچاخان ټول ملګرى او خدايي خدمتګار به هره ضلع، تحصيل، کلي او بانډه کښې هم ددغه کردار، مينې او اخلاص خاوندان وو.

خلکو خو وران کارونه جوړ کړه پکښې
انوره مونږ نه جوړ کارونه وران شو

## د نېټو پوځونه او پاکستان

په برسلز کښې د بحر اوقيانوس ملکونو د تنظيم (نېټو) د جمپنر اپارتهو رايي په يو تازه بيان کښې ويلي دي چې د نېټو د پاکستان سره د نورو او مخ په وده تعلقاتو ته دې بهارت د ... نه ښکار کيږي چې ددې تعلقاتو د نولسو نه اسوا مقصد په افغانستان کښې د امن په راوستو کښې د پاکستان سره د ... کوششونو دپاره دے

ددې بيان دننه دې مقصد طرفته هم يوه اشاره شوېده چې د صدر جنرل پرويز مشرف سره په دې باره کښې د (نېټو) د ډيپټي جنرل سکټري ليډل کټل هم کړې دي او دا خبره يې ترمنځه شوېده چې په افغانستان کښې د (نېټو) د فورس او سازوسامان دپاره به د پاکستان د خاورې د استعمال ضرورت وي

تجزيه نګاران وايي چې په راتلونکو وختونو کښې به د ستراټيجک تعلقاتو په نوم د نېټو پوځونه د پاکستان خاوره د اډې دپاره په کار راولي، او که چرې داسې وشي نو دغه پوځونه به پاکستاني علاقو کښې د طالبانو په باقياتو او نورو غير ملکي (د امريکې په قول د شرپسندو) په ټيکونو د پوځي کاروايي حق حاصل کړي او کوم اور چې په قبايلي علاقو کښې لګېدلے دے، په خصوصيت سره په وزيرستان کښې چې کوم اور او د اور شغلې پورته کيږي په دې کښې به د نورو شغلو پورته کولو توان پيداشي

غالب خيال دا دے چې د نېټو د ډپټي جنرل سکټري او صدر پرويز مشرف ترمنځه په دې خبره اتفاق لا نه دے راغلے نو څګه د افغانستان له خوا او نورو قوتونو سره سره د برطانيې او امريکې له خوا ددې تهمت باران رانبکے شوے دے، چې طالبان د پاکستان په سرپرستي کښې دغه خاوره استعمالوی

اوس اوس دا الزامونه هم په ميډيا راغلي دي چې په چترال کښې د ايف، بي، ائی او سي ائی اې دفترونه هم جوړېدونکي دي، او ددې خبرې تصديق او ترديد لا تر دې دمه نه دے شوے، تجزيه نګاران وايي چې د امريکې سفير راڼن سي کروکر چې اوس اوس د زلزله زدګانو دپاره کومه دوره کړې وه، په دادر کښې يې ويلي وو چې د امريکې پاکستان او افغانستان مقابله د يو قسم دشمن سره ده، په دې تناظر او منظر کښې چې سړے نظر اچوی نو پوهيږي چې پاکستان ته امريکې د نان نېټو اتحادی درجه د کوم غرض دپاره ورکړې وه، او د پاکستان سره يې د لويې مودې دپاره سټرټيجک تعلقات ولې قايم کړی وو؟

پروفیسر فرمان الدین بخشالی



# ستر لاربنود خان عبدالولی خان

**خان بابا په هغه ټولو اوصافو سپین سپیڅلے ژوند تېر کړو، کوم چې د یو نابغه روزګار پښتون شخصیت خاصه ده**

په ایکسپریس اخبار کښې مې د پروفیسر میا عنوان الدین کاکاخېل «ګل خار» کالم کښې د خدائے بخښلی خان عبدالولی خان په هکله د کالم د ضرورت ترمخه مختصره خو کوټلې تبصره اولوسته، هغوی په ډېر ښه انداز کښې دې اړخ ته اشاره کړې ده، چې خان عبدالولی خان یواځې یو ښه سیاستدان نه ؤ، بلکې سټېټمین (Stateman) ؤ، د خان بابا د (Oration) په هکله هم هغوی ډېرې با معنی خبرې لیکلې دی، او دا خبره یې هم ډېره پام لرونکې ده، چې د خان بابا د بوډۍ د ټال هسې څو رنګه شخصیت رنګونه به لا خوریږی، زه ددې لیک نه ډېر انسپایر (Inspire) شوم، دغه وجه ده چې قلم مې راوچت کړو، چې خپل عظیم او ستر لاربنود خان بابا ته په ماتو ګوډو ټکو کښې د عقیدت پېرزوینې وړاندې کړم.

زمونږه کلے بخشالی د ضلع مردان په هغه کلو کښې یو یاد کلے دے، چې د ازادۍ په جنګ کښې ترېنه د سنګر کار اخستے شوے دے، ددې کلی د هغه بې شمېره مشرانو د ذکر دا موقع نه ده، چې د باچاخان د ازادۍ د توریالۍ قافلې سپاهیان پاتې شوی دی، ددې اعتراف فخر افغان باچاخان، خان عبدالولی خان او اجمل خټک په خپلو تحریرونو او تقریرونو کښې کړے دے، که د خدائی خدمتګار تحریک ؤ، په لمبه لمبه جذبه او په لېونۍ مینه پکښې ددې ځائے ښځو او سړو ګډون کړے ؤ، که د سرخپوشو او کانګریس سیاسی هلې ځلې وې، د بخشالې مشرانو په کښې د وطن د ازادۍ دپاره سرونه په تلی کښې ایښی وو، که نېشنل عوامی پارټی وه، که نېشنل ډېموکراټیک پارټی او که عوامی نېشنل پارټی ده، ددې کلی بوډاګانو ځوانانو، زلمو، ښځو سړو په کښې ډېر په نرتوب خپل کردار ادا کړے دے، د پاکستان د لویو لویو جیلونو ریکارډ زما ددې دعوې ثبوت دے، دوی تر دې دمه د خپل هوډ نه په شا شوی نه دی، زما خپلې تېرداری هم د خدائی خدمتګار تحریک د ستر مشر خان عبدالغفار خان فخر افغان باچاخان بابا په لاس بېعت کړے ؤ، او د پیرنګی نه د وطن ازادولو دپاره د ازادۍ په جنګ کښې د باچاخان کلک ملګری وو، دغه وجه ده چې زه د ډېر ماشوموالی نه دې تحریک سره تړلے راغلے یم، د باچاخان بابا، د ولی خان بابا د سیاسی هلوځلو مشاهده مې د کچه عمر روایت پاتې شوے دے. د جلسو، جلوسونو، تقریرونو دغه یادداشتونه مې د ذهن په تهخانو کښې خوندی پراته دی، که وخت او بخت مې

ملګرتیا اوکړه، نو دا یاداشتونه به په کتابي شکل کښې مرتب کوم، انشاءالله.

د فوځي امر ایوب خان د مارشل لاء ورځې شپې وې، په سیاسي هلو ځلو سخته پابندي وه، ملک یو سور تنور ؤ، جیلونه او عقوبت خانې د سیاسي مشرانو او ورکرانو نه ډکې وې، د کوړو سزاګانې وې. اخبارونو هم چن قدرې نه شو کولے، د هر فوځي ډکټیټر په شان ایوب خان ته هم خپلو خوشامندګرو دا تسلي ورکوله، چې ټول خلک ستا نه خوشحاله دي، ملک بې مثاله ترقي اوکړه، دا یو څو د بلارې تنزرې په پنجرو کښې بند چغې وهي. دوی هیڅ نه شي کولے، دغه شان وخت په وخت پرې زور ازمایه، دوی به په خپله غلي شي، یا به تاته سرونه ټیټ کړي، ایوب خان هم د دوی سبق زوتولو، او په دې خوشامندو برامندو به خوشحالیدو.

څنګه چې عامه طریقه ده، د سیاسي عمل یو خپل توازن وی، هغه تر ډیره وخته په یوه توله نه پاتې کیږي، دغه ټوقه د ایوب خان سره هم وشوه، د خوار وزار او زپلي اولس د زغم بند وشلیدلو، د صبر پولې نورې دې زور، ظلم، او زیاتي ته ټینګې نه وې.

دا زمونږ د کالج د طالب علمي زمانه وه، اولس را وپاریدلو د کالجونو هلکان او جینکۍ د جمهوریت دپاره ددې جنګ په هر اول دسته کښې جنګیدل، حکومت د زور، ظلم او زیاتي هره حربه استعمال کړه، خو دا تحریک د سرې اور ؤ، چې څومره څومره به دې مړ کولو، دومره به یې لمبې او غرغندې نورې نورې زیاتیدې، اول په اولس ملک سور تنور ؤ، او بیا په حکمرانانو سور تنور شو. دغه ورځې شپې وې، چې زه هم په عملي توګه په دې تحریک کښې شامل شوم، د زلمي توب ورځې شپې وې، وینې مې جوش وهلے ؤ، د جمهوریت دپاره د سر و مال نه څه چې د هر څه نه تیر وم، زلمي، ځوانان، بوډاګان ټول میدان ته راوتي وو.

> "د فوځي امر ایوب خان د مارشل لاء ورځې شپې وې، په سیاسي هلو ځلو سخته پابندي وه، ملک یو سور تنور ؤ، جیلونه او عقوبت خانې د سیاسي مشرانو او ورکرانو نه ډکې وې، د کوړو سزاګانې وې، اخبارونو هم چن قدرې نه شو کولے"

د انجمن پښتون نوجوانان مردان د تنظیم لاندې په چار دیواری دننه په یارحسین صوابي کښې د جلسې تابیا شوې وه، خان عبدالولي خان په خپل ژوند کښې په ړومبي ځل یوې عوامي جلسې ته خطاب کولو، روستو هغه بیا د نیشنل عوامي پارټۍ مرکزي صدر جوړ شو، د ځوانانو د تنظیم د صدر په حیث ددې جلسې د صدرات دپاره نورو ملګرو سره امیرشاد محبوب زما نوم غوره کړو، او دغه شان ماته دا اعزاز حاصل شو، چې د خان عبدالولي خان ړومبے تقریر MAIDEN SPEECH خلکو زما په صدارت کښې شوې جلسې کښې واوریدو، وروستو اجمل خټک صیب د امیرشاد محبوب او زما په ملګرتیا د پښتون زلمي، د جنډې د پرانستې دستوره په خپلو لاسو سرته ورسوله، او په خپله وینا کښې یې ووې، چې نن په یارحسین کښې د پښتون زلمي دفتر پرانستے شو، نن د باز د جالې نه باز والوت، دا زما د ژوند ړومبے لوئے سیاسي تقریب ؤ، چې زه په کښې د خپلو دوو سترو نومیالو، ننګیالو مشرانو سره په پوره توګه متعارف شوم. او دغه ملګرتیا مې لا تر اوسه او د ژوند د اخیري سلګۍ پورې به جاري وي.

د خان عبدالولي خان د درنې هستۍ په هکله چې زه خپل یاداشت راتازه کوم، نو د کال ۱۹۶۹ء د بنو، کوهاټ او ډیره اسماعیل خان دوره مې یادیږي، په دې دوره کښې زه د خان عبدالولي خان سره ډیر نزدې پاتې شوے یم، په دې دوره کښې ما د هغوی د درونډ شخصیت نه ډیر څه زده کړي دي.

په دې دوره کښې زما شمولیت هم د خان بابا اعلی ظرفي او په ځوانانو د مینې او شفقت یو غټ مثال دے، هغه داسې چې په دغه ورځو کښې د ځنې ناعاقبت اندیشه ملګرو د ناپوهۍ په سوب زما خوږ ملګرے امیرشاد محبوب د تنظیم نه بهل کړلے شو، زه د خپل ملګری

امیرشاد محبوب سره په دې غیر جمهوري رویه او ناروا سلوک ډېر زیات خفه او غمجن وم. خان بابا زما د غم شریک او داد راکولو دپاره په دې تاریخي دوره کښې ماسره ملګرے کړم. په دې دوره کښې ما هغه څه زده کړل، چې هغه زما د سیاسي ژوند قیمتي سرمایه وګرځېده.

خان عبدالولي خان د بې پناه سیاسي بصیرت خاوند ؤ. هغه چې به په کومه ساده ژبه او اسانه طریقه په خبرو خبرو کښې د پاکستان د سیاست په هکله کومه تجزیه او کومه پېش بیني کوله. د چا به په وهم و ګمان کښې هم نه وه، او روستو به واقعاتو هم هغه مخه ونیوله. او د خبرې به هم هغه نتیجه راوتله. کومه چې به خان بابا په ګوته کړې وه. نو بې ساخته به د بني ادم د خولې نه وختل چې ولي خان بابا په رښتیا ژوندے ولي دے.

لکه د ایوب خان د حکومت زوال. د بنګله دېش جوړېدل. د بهټو صیب د اقتدار انجام، د افغانستان په زمکه د روس او امریکې جنګ روستو بیا د افغانستان د مختلفو جهادي تنظیمونو ترمینځه خپلو کښې د اقتدار حاصلولو دپاره یو بل سره مشت و ګرېوانی، د افغان ملت تباهي او بربادي، دا ټول واقعات زمونږه د سترګو وړاندې وشو، هرې یوې واقعې په هکله د ولي خان بابا پېش ګویانې سل په سل او ټکي په ټکي هم هغسې انجام ته ورسېدې. د کومې تجزیې په رڼا کښې چې خان بابا کومې نتیجې ته رسېدلے ؤ.

خان بابا په هغه ټولو اوصافو سپین سپېڅلے ژوند تېر کړو، کوم چې د یو نابغه روزګار پښتون شخصیت خاصه ده. مینه، اخلاص، رورولي، پت، ننګ، غېرت، مېلمستیا، اصول پرستي، انصاف پسندي، د قرباني جذبه د خپلې خاورې، د خپل اولس او د خپل قام سره د بې کچه مینې یو روڼ مثال او بل مشال ؤ.

د خان بابا ژوند د غوړېدلي کتاب خورې پاڼې دی، د هغه نظریات، افکار، سیاسي فلسفه، عمل او کردار، د هغه په تقریرونو، اخباري بیانونو، انټرویوګانو خبرو، اترو او د هغه په خپلو تحریرونو کښې لکه د خوشبو په ګلونو یا د ځلنده لالونو غوندې ښکاره او ډاګیز دے.

د لیک لوست خو یې دا حال ؤ. چې د پښتو دوه زره (۲۰۰۰)، ټېپې یې په خپل لاس لیکلې موجودې دی. چې دا د پښتو ادب یوه لویه سرمایه ده. «رښتیا رښتیا دي» (Facts are Facts) دخپل دور د جمهوري هلو ځلو یو خوندور داستان ؤ. «باچاخان او خدایي خدمتګاري» په څلورو جلدونو کښې چاپ شوے دے. د ۱۹۳۸ء پورې او د کال ۱۹۳۸ء نه تر کال ۱۹۴۸ پورې او د کال ۱۹۴۸ نه وروستو واقعاتو باندې مشتمل د قدر وړ تاریخي دستاویز دے. ددې کتابونو د لوستو نه په اسانه اندازه لګېدے شي. چې خان بابا څومره ژور تاریخي شعور لرلو، او د خوند خبره داده چې دا ټول لیکونه هغوی د قیدوبند په دوران کښې مرتب کړیدي. او زیات انحصار یې په خپله حافظه کړے ؤ. په دې سلسله کښې به هغوی د څومره زیار، کنجکاري. اوسترې نه تېر شوے وي، دا اندازه، هغه څوک په ښه شان سره کولے شي، چې د پاکستاني قیدونو، جیلونو بالخصوص د فوځي امرانو په دور حکومت کښې ددې سختو او ناوړې تجربو نه تېر شوے وي.

د هغوی د نظریاتو او سیاسي فلسفې احاطه کول خو زما غوندې یو طالبعلم دپاره ډېره ګرانه خبره ده، خو زه د تبرک دپاره د هغوی یو څو خبرې دلته رانقل کوم.

هغوی وایي «عجیبه خبره داده د انګرېز کاسه لیس د انګرېز جوړه کړې اصطلاح زمونږه خلاف استعمالوي، دوی په دې خبره غور نه کوي، چې مونږه د ازادي شمع بله کړه، نو پیرنګي غدار

"خان عبدالولي خان د بې پناه سیاسي بصیرت خاوند ؤ، هغه چې به په کومه ساده ژبه او اسانه طریقه په خبرو خبرو کښې د پاکستان د سیاست په هکله کومه تجزیه او کومه پېش بیني کوله، د چا به په وهم و ګمان کښې هم نه وه، او روستو به واقعاتو هم هغه مخه ونیوله، او د خبرې به هم هغه نتیجه راوتله، کومه چې به خان بابا په ګوته کړې وه"

وګرځولو. او دې خلکو چې د پیرنګی چاکری کوله، نو محب وطن شو. ګویا د پیرنګی چاپلوسی د محب وطنی دلیل دے. که د پیرنګی چاپلوسی د مجب وطنی دلیل وی. که د پیرنګی خوشامندګری حب الوطنی ګڼلے شی، نو زه په داسې حب الوطنی لعنت وایم»

«زمونږه قصور صرف دا دے، چې زمونږ دې ملک سره محبت دے. ددې ملک د اولس سره مو مینه ده، ددې ملک د ټولو سره مومینه ده، ددې ملک اساسی نظریې سره مینه لرو. نو بیا چې د انګریز تالی څټی مونږ ته غدار نه وایی، نو څه به وایی»

«مونږه خبره کول غواړو، نو وایی نه به وایې، مونږه لیدل غواړو نو ارشاد وشی چې څه به نه ګورې، مونږه غور و فکر او سوچ کوو، نو حکم صادر شی چې په سوچ پابندی ده، مونږه لیکل غواړو، نو اواز راشی، خبردار چې څه ونه لیکې، دا څومره عجیبه خبره ده، غوږونه د اورېدو دپاره دی، سترګې د لیدو دپاره دی، ژبه د وینا دپاره ده، لاس د لیکلو دپاره دی، ولې په دې هر څه پابندی ده، په کار ده چې زمونږه غوږونه بند کړلے شی، ژبې پرېکړے شی، په سترګو مو پټی ولګوی، د کپری نه مو مازغه وباسی او لاسونه مو اره اره کړی، نو هله به دا حکومت په قلاره کښېنی»

«مونږ پښتونستان نه پېژنو» دا د دښمن تهمت دے، چې په مونږه راتپلے شوے دے، مونږه خبردارے ورکوو، د پاکستان خلاف په هیڅ پیش قدمی کښې به مونږه نه فریق یو نه شریک، مونږ اول او اخیر پاکستانی یو، مسلمانان یو، ددې ملک استحکام غواړو، ددې خاورې درناوے په مونږ د هر څه نه ګران دے، او مونږه به په هر قیمت ددې حفاظت کوو، خدا ے دې نه کړی چې حالات غلطه مخه ونیسی، خو که چرې داسې وشوه، نو ولی خان به د پاکستان د استحکام په جنګ کښې دټولو نه مخکښې وی»

د پاکستان په سیاسی تاریخ کښې د خان بابا دا خبره د سرو زرو په اوبو د لیکلو قابله ده چې « زمونږ د ټولو مسئلو حل دا دے، چې د ریاست څلور واړه ستنې په خپل خپل ځائے مستحکمې ولاړې پرېښودے شی، لکه عدلیه، مقننه، انتظامیه او پرېس، هره شعبه په خپل خپل کار کښې ازاده، خودمختاره، بې مخه، بې ملازې د حق او صداقت مرستیاله وی، نو هله به مونږه د پاکستان د ښېرازی، ترقی، مضبوطوالی خبره کولے شو»

ګران او قدرمند مشر اجمل خټک صیب د ولی بابا په هکله وایی، چې

که په بنګال که په لاهور که کراچی جوړېدو
ؤ د جمهور د معرکو میر لښکر ولی خان
کله جرګه د پښتون والی د خیبر د غیرت
کله نعره د تاترې د اوچت سر ولی خان
نن په اوچتو سترګو مونږ خاورو ته وسپارلو
سرونه ښکته شول کوز نکړو چاته سر ولی خان
نن د خټک په مات کچکول کښې د وفا چغه ده
زما ملګرے زما یار، زما رهبر ولی خان

انور علی ناشاد ولی بابا ته «هغه څوک ؤ؟» نومی نظم کښې د عقیدت پېرزوینې وړاندې کړې دی، دا اخیری بند یې زما ډېر خوښ شوے دے، نقل کوم یې

هغه فخر د پښتو او د افغان ؤ
هم اواز د هر مزدور او د دهقان ؤ
د تاریخ ځلنده ستور ے په خپل ځان ؤ
دغه ګل انوره یاد په ولی خان ؤ

حاجی ګل صوفی «تاسو پېژنئ دا څوک ؤ؟» نظم په خپل مخصوص انداز کښې ډېر خوندور شعرونه لیکلی دی

د پښتو د برکته هر پښتون باندې د ے ګران ؤ
هر غاصب ته په سینه کښې تېره غشے د کمان ؤ
په خندا دقام په ننګ کښې جېل خانې ته به روان ؤ
درغلی په ده کښې نه وه یو یې قول یو یې پیمان ؤ
یره ترهه زړه کښې نه وه، نر پښتون ستر پهلوان ؤ
د اصولو ښه پابند ؤ، په یقین کلک مسلمان ؤ
تاسو پېژنی دا څوک ؤ؟ نر لیډر ګران ولی خان ؤ

زه به دا خپلې خبرې د رحمان بابا په دې مشهور شعر ختمې کړم، چې

خدایه څه شو هغه ښکلی ښکلی خلک؟
په ظاهر په باطن سپین سپېځلی خلک

میا افتخار حسین
جنرل سکرټري اې این پي پښتونخوا

# د جنوبي ضلعو دوره او د هغې مختصر رپورټ

د وزیرستان په حواله هره ورځ په پرنټ او الیکټرانک میډیا څه نه څه خبر راځي او هره راتلونکې ورځ د وزیرستان حالات د خراب نه نور خرابیږي. په تیرو ورځو کښې ماته د وزیرستان سره جوختې علاقې ټانک، ډي ائی خان، لکی مروت، بنو، کرک ته د تلو موقع په لاس راغله. هلته چې ما څه اولیدل، څه مې واوریدل او څه مې محسوس کړل دغه هر څه د یوې لویې خطرې او تباهۍ یوه پیش ګویي ثابتیدے شي.
په حقیقت کښې په ټانک کښې هم د حکومت اختیار ختم شوے دے او هر طرف د ویرې ترهې او خاموشۍ دور دوره ده او دغه حالت په څلور واړو طرفو خور دے. د ډي ائی خان صورت حال د ټانک نه مختلف نه دے بلکې هلته خو د ګشت کولو والا پولیس په یو بم چاودنه کښې والوتل نو چرته چې محافظ محفوظ نه وي هلته به د عوامو د حفاظت څه حالت وي.
د لکی مروت په علاقه تجوړئے نومی کلی کښې یو ملا عوامو ته د امن نصیحت وکړو هغه په ړنا ورځ وتښتولے شو او ډیر په بې دردۍ قتل کړے شو دا ځکه چې هم دے د نورو امن غوښتونکو ملیانو دپاره عبرت وګرځي. دده د مړی سره یې یو لیکلې رقعه هم ایښې وه چې په هغې کښې لیکلے شوي وو چې دا مولانا د امریکې ملګرے ؤ. په دې وجه قتل کړے شو.
ددې بل مطلب دادے چې د امن غوښتونکی خلک د امریکې ایجنټان او دغسې حالات پیدا کولو والا د امریکې دشمنان او د دین غوښتونکی دی.
په ضلع بنو کښې ددې قسم ډیر واقعات مخې ته راغلی دی. راکټ لانچرې او بم دهماکې وشوې تر دې چې د وزیراعلی اکرم خان درانی تره قتل کړے شو. ددې خبرې درې محرکات خلکو په ګوته کول. یوه د هغوی زړه دشمنی، دویمه کاروباری دشمنی، دریمه دا چې هغه دغو خلکو په دې وجه قتل کړو چې هغوی دوی ته وریاد کړی چې مرکزی حکومت. د پاکستان پوځ او امریکه زمونږ خلاف په عمل کښې دی او چې زمونږ په حمایت د اهم اهم اې جوړ شوے صوبایی حکومت یو طرفته ناست تماشه کوی ولې دوی ته دې معلومه وی چې مونږ دومره مضبوط یو چې ستا تره هم وژلے شو او سبا ستا سره هم دغسې کولے شو.
ددې نه پس ما د مینګورې، سوات د ضلع شانګله دوره وکړه. هلته خو د څه حده پورې حالات د سکون مطابق دی خو په باجوړ ایجنسۍ کښې د بمبارۍ نه پس په هغه

ځانې د دهشت د وېرې موجودګی دیر او سوات ته هم رارسېدلې ده ځکه نو څه وخت هم دغه حالات هلته هم پیدا کېدے شی باجوړ ایجنسی چې د تلو راتلو او سامان وړو راوړو یوه پر امن لاره وه چې دغه لار هم اوس په امن کښې پاتې نه شوه نو هغوی کاروایانې شروع کړې او اثرات یې د مهمندو ایجنسی سره تړلو علاقو کښې هم محسوس کېږی

په دې کښې شک نشته چې دا اور اوس ډېر په تېزۍ سره خورېږی او کېدے شی چې په راتلونکو څو میاشتو کښې ټوله پښتونخوا په خپلو لمبو کښې راونغاړی. د



فکر خبره ده چې د سټل ایریا حال دا وی نو پخپله به د وزیرستان حالت څه وی. اوس خو دغه خبره کوم راز نه دے پاتې چې په څه ورځو کښې به د پی اې او تحصیل دار د خولې نه وتې خبرې د قانون درجه لرله، ولې نن پکښې د ګورنر خبرې ته هم څوک غوږ نه ږدی. که په دې علاقه اوس څه نه څه حکم چلېږی نو هغه صرف د کورکمانډر او د هغه د نګرانۍ لاندې د کار کولو پوځیانو چلېږی. ولې دغلته اوس په اصل کښې د اسامه یا طالبانو حکم چلېږی د اویا ۷۰ زره پوځ د راتلو سره د مقامی انتظامیې حیثیت ختم شوے دے. ددې باوجود (د دوی د وینا مطابق) یو څو سوه دهشتګرد اویا زره پوځ ختم نه کړے شو. ددې مطلب خو دا دے چې دغه خلک د اویا زره پوځ نه هم زیات طاقتور دی یا د پوځ یوه موثره حصه د دوی په شا ولاړ دی.

جنرل پرویز مشرف او دهغه ملګری په ظاهره د دوی د ختمولو کوشش کوی. ولې دننه د ننه استېبلشمنټ او خپ بااختیاره خلک دوی ته تحفظ ورکوی. په دې وجه هره ورځ د هغوی د اثراتو دایره رو رو وسعت مومی او اوس دا خبره یقین ته رسېدلې ده چې د افغانستان نه وېستے شوی طالبان او اسامه حکومت عملی طور په وزیرستان او د پاکستان ټرائبل ایریا کښې جوړېږی او خورېږی ولې داسې ښکاری لکه چې دا هر څه د یوې جوړې کړے شوې منصوبې تحت کېږی. ګنې دا خبره څنګه ممکنه ده چې یو طرفته د کرزی حکومت بل طرفته اتحادی پوځونه او بل طرفته د پاکستان پوځونه دی چې د دوی خلاف په عمل کښې دی دوی یې ختم نه کړے شو بلکې هغه یې نور مضبوط کړل. اوس هغوی مخالف ملکانان وژنی تر دې چې په سرکاری انتظامیه او پوځ هم حملې کوی. داسې ښکاری چې په وزیرستان کښې د برسر پیکار پوځ ایجنډا د مشرف نه بل شانه ده. ځکه خو صورت حال نور پیچیده کېږی. مختصره خبره دا ده چې عملاً په وزیرستان کښې غېر اعلانیه حکومت د اسامه او طالبانو دے او د حکومت د پالیسۍ په وجه هغوی ته زیات برکت په برخه کېږی. د پاکستان پوځ او انتظامیه د هغوی په ځائے د بې ګناه او بې خطا قبایلو کورونه

ولی، د خلکو کاروبارونه بندوی، لارې بندې دی. کورونه یې سوزېدلی دی او اوس خلک د دوی نه د نفرت په وجه هم د دوی په قول، د شرپسندو سره ملګری کولے شی، او ځکه د هغوی په قوت کښې اضافه کیږی داسې ښکاری چې په یو څو هفتو کښې به جنرل پروېز مشرف د عالمی دباو لاندې په رښتیاوو ویلو مجبور شی او په ښکاره به اعلان وکړی چې هغه د دهشتګردو په وهلو یا ختمولو کښې ناکام شو او په قبایلی علاقه کښې د حکومت عمل دخل ختم شویدے او ددې مطلب پاکستان به دا پالیسی اختیار کړی چې قبایلی علاقه د افغانستان او پاکستان ترمنځه یو بفر ذون دے او نو دا علاقه به د جنګ میدان شی او ځنګه چې دېرش کاله په افغانستان کښې وینې وبهېدې دغسې به د قبایلی پښتنو وینې هم اسانې او ارزانې وبهیږی او پاکستان ته به تسلی وی چې څه دا اور خو به کم از کم د قبایلی علاقو پورې محدود وی. ولې ځنګه چې د افغانستان دغه اور قبایلی علاقو ته را خور کړے شوے دے. دغسې به د قبایلو دغه اور دا پاتې پاکستان هم په خپلو لمبو کښې واخلی!! چې نتیجه به یې د تباهی او بربادی نه سېوا هېڅ نه وی.

اوس د اسامه او طالبانو دایره کار د قبایلی علاقې نه ټانک، ډی ائی خان، لکی مروت او بنو ته رسېدلے دے. په ټانک کښې پولیس د ماښام نه پس ګشت نشی کولے او په خپلو سرکاری کواټرو، تانو او کورونو کښې بند وخت تېروی. اخباری نمائندګان هغوی ته د دهشتګرد لفظ نشی لیکلے او په ګروپونو کښې ځلمی را یوځائے کوی او د جهاد په نوم یې افغانستان ته لیږی. ددې علاقې ۸۵ فیصد خلک د دهشتګردو خلاف دی خو یوه وېره خوره ده ځوک هم د خولې نه خبره نه شی رابهر کولے. ځوک هم چې داسې کوی هغوی یو رسید ورلیږی او د خپل قسمت فیصله ورته پکښې اوروی او دمرګ خولې ته یې رسوی. دا واقعات هره ورځ روان وی. تر دې چې خلک د رښتیا خبرې کولو نه هم وېرېږی چې هسې نه ځوک خبره هغوی ته ورسوی. ددې مختصر رویداد نه پس زه دا عرض ضرور کول غواړم چې ددې دورې په دوران کښې په یو سوال باربار خلکو زما نه کوو چې اسفندیار ولی خان امریکې ته ولې تلے دے. زما په خیال دغه ملګری ددې سوال کولو دپاره حق بجانب هم وو نو کوم صورت حال چې ما د خپلې مختصر دورې په دوران کښې ولیدو او بیان مې کړو نو تاسو د خپلې ایمانداری په رڼا کښې په دې سوچ نه شئ کولے چې پښتون قوم د قوم په حیثیت د تباهی کوم قسم کندې ته پرېوتے دے. اوس چې پښتانه کومې تباهی ته مخ دی دا مقدمه به په ټوله دنیا کښې څوک پېش کوی او د چامخې ته به یې پېش کوی.

نه خو پی پی پی او نه مسلم لیګ (ن) د وزیرستان د حالاتو نه دومره متاثر کېدے شی او نه یې دومره غم او فکر کولے شی. ولې چې هغوی خو په پاکستان صرف حکومت کول غواړی او د هغې دپاره د هغوی پنجاب او سندھ هم پوره دی. هغوی خو په اسلام اباد کښې صرف په کرسی سورول دی او د اېم اېم اې دننه پارټئ خو دغه اور نور تازه کول او ساتل غواړی. ولې چې د هغوی خو کاروبار او حکومت روان دے. که په اصلی معنو کښې چا ته تکلیف رسی نو هغه هم د اې این پی خلک کېدے شی. ولې چې زمونږ د سیاست محور د پښتون قام بقا، وحدت، بنیادی حقونه د خاورې حفاظت او په وسایلو مکمل کنټرول دے. په دې وجه اې این پی ته د خپلې ذمه داری مکمل احساس دے. د هر طرف نه په دې غولیو کښې ګېر شوے پښتون ددې نه راویستل دی. ددې مقصد پوره کولو دپاره د اې این پی مرکزی صدر اسفندیارولی خان د پښتون قوم د بقا په خاطر امریکې، برطانې او جرمنی خو چې ټولې دنیا ته تلل غواړی د پښتون قوم دا مقدمه به د امریکې سره د هر ملک د قایدینو مخې ته ږدی اوس به دا خبره د ملګرو په پوهه کښې راغلې وی چې په موجوده صورت حال کښې مونږ د امریکې مخې ته خپله مقدمه پېش نه کړو نو د چا مخې ته یې پېش کړو چې اوس هغه دلته د یو حاوی قوت په حیثیت موجودګی لری. په دې کښې هېڅ قباحت نشته ولې چې اې این پی د اقتدار دپاره نه، د پښتون قوم د بقا دپاره دغه څه کوی.

اې اين پي به هر ممکن زور لګوي چې ددې لګيدلی اور نه پښتون قوم د خپرو اترو په ذريعه راپهر کړي او شايد چې دا وخت ددغې قسم سوالونو جواب دغسې او دا به کار دے چې اسفنديارولي خان به د پښتون قوم د بقا دپاره او د دوی د خيرخواهي دپاره ټولې دنيا ته جولی غوړوي او خپل تاريخي کردار به ادا کوي او د باچاخان او ولي خان په ښودلے شوي لاره به ځي او په ټوله دنيا کښې به پښتون قام ته د لوړ مقام ورکولو کوشش جاري ساتي

د جنوبي ضلعو په دوره کښې د صوبي سالار ظهور اپريدي او د مېنګوري او شانګلي په دوره کښې د صوبې د اطلاعاتو سکتر سيدعاقل شاه او صوبايي سالار ظهور اپريدے هم په وفد کښې شامل وو

ددې دورې په دوران کښې مونږ په ملګرو او د ضلعې د تنظيم په خلکو دا خبره واضحه کړه چې صرف جلسې جلوسونه او شموليتونه او د نورو باضابطه پروګرامونو نه يو طرفته په عامه طريقه خپلې رابطې د خلکو سره جوړې کړي او زمونږ دغه دوره هم ددې مقصد دپاره وه چې په خلکو کښې د ضلعې د تنظيم فعاليت، کمزورو او د ضلعې د مجموعي صورت حال نه خبر شو په دې دوره باندې د تنظيمونو ملګرو د ډيرې خوشحالي څرګندونه وکړه او وې ويل چې دغسې دورې بيا بيا کول ضروري دي په دې دورو کښې د ننګيالي پښتون د ارګنائز کولو دپاره د ضلعي تنظيمونو ته تاکيد وکړے شو او د هغوی نه يې د ننګيالي پښتون د ضلعي سالارانو فهرست وغوښتو په دې کښې هم د ضلعې تنظيمونو ډير ګرمجوشي ښکاره کړه او زمونږه يې ډيره حوصله افزايي وکړه انشا الله ددې دورې سره به د ضلعې تنظيمونه په تنظيمي طور فعال شي او د ننګيالي پښتون په ارګنايز کولو کښې به هم مدد وکړے شي...

• • •

## غمرازي

د اکبر سيال مشر ورور د مې په پنځمه نيټه په حق رسيلے دے

انا لله و انا اليه راجعون

اداره د ملګري اکبر سيال سره په دې غم کښې برابره شريکه ده، خدائے دې اروانښاد ته جنت نصيب کړي او پاتې شوو خلکو ته دې د زړه صبر ورکړي امين ثم امين

د مې په لسم تاريخ ملک محمد اسلم کاکا په حق رسيلے دے، انا لله و انا اليه راجعون

ملک محمد اسلم کاکا په خپل پلرنی هديره کښې خاورو ته وسپارلے شو

او د هغه په جنازه کښې د هر مکتب فکر خلکو د لوی تعداد په حساب ګډون اوکړو، ملک محمد اسلم کاکا يو ډير زوړ خدائي خدمتګار و، د جنګ ازادۍ يو زړور سپاهي او د باچاخان د ځنګ او فکر نه وارخطا کيدونکے ملګرے و.

اداره د ملک محمد اسلم کاکا د پسماندګانو سره برابره په دې غم کښې شريکه ده، خدائے پاک دې مرحوم ته جنت الفردوس نصيب کړي. او پسماندګانو ته دې يې د زړه صبر ورکړي. خدائے دې د هغه په کور کښې داسې خوګ لرې چې د هغه کمے پوره کړي امين ثم امين

د پي ټي وي د سينټر پروډيوسر مسعود احمدشاه مور يې په حق رسيدلې ده، انا لله و انا اليه راجعون

اداره په دې غم کښې د مسعود احمدشاه او د هغه د خاندان سره شريکه ده، خدائے پاک دې هغه وبخښي، او پسماندګانو ته دې د زړه صبر ورکړي امين ثم امين

اداره پښتون

سعدالله جان برق

# د پښتنو اصل نسل او د پښتنو تاریخونه

د ټولو نه اول خو زه ددې خبرې سپیناوے کول غواړم، چې د دومره تخلیقی او صحافتی کار سره سره ما د پښتنو د اصل نسل د څېړنې دا ګران کار ولې شروع کړو. خبره داده چې کله ما د پښتنو تاریخ لوستل شروع کړل، نو یوې عجیبه خبرې ته مې خیال شو، او هغه داوه چې د پښتنو په اصل نسل باندې هېڅ هم تحقیق نه دے کړے، تاسو به حېران یئ، چې دا دومره بې شماره کتابونه چې دلته او په افغانستان کښې لیکلے شوی دی، او د نعمت الله هروی د مخزن افغانی نه د کیرو تر «دی پټانز» پورې دا غټ غټ کتابونه چې موجود دی، نو دلته به زه دا عرض کول غواړم، چې په دغه ټولو کتابونو کښې بنیادی نقص داد ے، چې دا د «نظریاتو» د وکالت نه علاوه نور هېڅ نه دی، اول نظریه قایمه شوې ده، او بیا ورله دلایل لټولے شوی دی، د عیسایی مذهب یو مشهور پادری وایی، چې په مذهب او سائنس کښې فرق داد ے، چې په مذهب کښې اول «عقیده» پیدا کیږی، نو بیا ورله دلایل لټولے کیږی، او سائنس اول تجربه مشاهده او دلایل پیدا کړی، نو هله یې نظریه قایموی.

د پښتنو تاریخ سره هم دغه لوبه شوې ده، د وخت د سره دوه نظریې رارواني دی، یوه دا چې پښتانه بنی اسرائیل دی، او بله دا چې پښتانه اریه دی، او بیا دواړو ډلو د خپلو خپلو نظریاتو دپاره د «دنیا جهان» دلیلونه پیدا کړی دی، چې د تحقیق او څېړنې په ځانے جذباتی کړلیچونو کښې نښتی دی.

په دې لحاظ زما دا خیال د ےو چې په حقیقت کښې د پښتنو د اصل نسل لټون په تحقیقی بنیادونو هډو شوے نه د ے، ددې وجه دا ده، چې دا معامله د اول سر نه په جذباتی انداز کښې شروع شوې ده، بله به دا خبره هم وکړم، چې تاریخ او د اصل نسل څېړنه دوه جدا جدا موضوعات دی، ځکه چې تاریخ مونږ د هغه دور نه شروع کوو، چې مونږ ورته تاریخی (HISTORICAL) دور وایو، او په دې سلسله کښې ډېر څه تحریری مواد موجود دی، خو د اصل نسل لټون د قبل التاریخ (PRE HISTORICAL) دور سره تعلق لری، چې څه لیکلی مواد په دې هکله نشته، او زمونږ د څېړنې بنیاد په لرغونپوهنه یعنې اثار قدیمه، ژبپوهنه (لسانیات) نوغپوهنه (بشریات) مذهبی اساطیرو (د یو مالا) او زبانی ادب (فوک لور) وغېره باندې وی، او ددغه ټولو په رڼا کښې په زړه پورې نتیجې راویستل غواړی، خبره ما دپښتنو د اصل نسل د جذباتی ابتدا نه کوله

قصه داسې وشوه. چې مغلو کله په هند قبضه وکړه، نو دوی حکومت د لودیانو پښتنو نه اخستی ؤ. او هم پښتانه یې خپل دشمنان یا حریفان ګڼل،نو د دوی کوشش دا ؤ. چې پښتانه په هر لحاظ سپک ثابت کړي. او دا لوبه په تاریخ کښې همېشه شوې ده. اریاوو چې کله په هند قبضه وکړه،نو هغوی هم ددې ځائے استرکو دراوړو او نورو قومونو له سپک سپک نومونه ورکړل. استرک خلکو ته به یې نشاد،دوغله، او دراوړو ته کرات سپک، وشل. او بیا یې د خپل ذات پات په نظام کښې خپل ځان ،کشتریا، ابهادر جنګیالا وبللو او دغه خلکو له یې د ویش او شودر سپک مقام ورکړو ،یو ذات برهمن هم ؤ. خو دا بیا روستو هم د کشتریانو په رقابت کښې پیدا شوے ؤ. هم دغه رنګ مغلو هم خپل ځان د چنګېز او هلاکو اعلی نسل ګڼلو او پښتنو ته به یې سپک کتل.

دا کشمکش او رقابت لا روان ؤ، چې د جهانګیر د دربار هغه مشهوره واقعه وشوه، کومې چې پښتانه د «زغم» د حد نه بهر وویستل. پوره واقعه خو ډېره اوږده ده، خو یو ایرانی سفیر په پښتنو پسې ډېرې سپکې ردې بدې ووئیلې. او دوی یې بې ذاته بلکې بد ذاته وبلل. په دغه موقعه څه پښتانه مشران هم په دربار کښې ناست وو، په دوی کښې خان جهان لودی، هیبت خان کاکړ، حمزه خان توخی، عمرخان کاکړ، قطب خان او ظریف خان ایسپ زئے شامل وو

دغه خلکو بیا خپلو کښې دا فیصله وکړه، چې پښتنو له چرته «باعزته» غوندې شجره لټول په کار دی، نو دوی د نعمت الله هروی نومی یو سړے په دې غرض باندې کابل ته واستولو.

نعمت الله هروی خدائے خبر چې د کوم ځائے نه دا شجره را پیدا کړه. چې پښتانه بنی اسرائیل دی، بیا د جماتونو کم علمه ملیانو له یې هم مزه ورکړه، نو دا خبره یې ښه مشهوره کړه. ددې خبرو تفصیلات به وړاندې راځی، خو چې په دغه یې هم ګوزاره ونه شوه، نو د قیس عبدالرشید افسانه یې جوړه کړه. او داسې یې د پښتنو شجره په خالد بن ولید پورې هم وتړله. ګویا د ابراهیم د دواړو نسلونو یعنې بنی اسرائیل او بنو اسماعیل ئې شجرو یې د پښتنو شجره ورسوله

بله نظریه د پښتنو د اریایی کېدو ده. ددې نظریې مرستیال د افغانستان لیکونکی ټول دی. او دلته ورسره زمونږ بهادرشاه ظفر،پښتانه د تاریخ په رڼا کښې او څه نور لیکوال شامل دی، اولف کیرو او مولانا عبدالقادر هم ددې نظریې ملګری دی

دغسې د پښتنو په اصل نسل چې څه هم لیکلے شوی دی، نو هغه د یوې یا بلې نظریې د وکالت په بنیاد لیکلے شوی دی.

یو حسن بخش کوثر او سلطان محمد صابر څه لږ لږ د نورو لارو لټون هم کړے دے،خو هغوی هم بیا وړاندې په نورو نورو لارو سر شوی دی، ددې ټولو لیکوالو او نظریاتو تذکره به وړاندې په خپله موقعه راځی، خو دلته مې هسې زغلنده ذکر صرف ددې دپاره وکړو، چې د حقیقی او بې طرفه تحقیق په بنیاد باندې د پښتنو د اصل نسل څېړنه هډو شوې نه ده. او ټولو خلکو د خپلو خپلو عقیدو او نظریاتو دپاره تائیدونه، دلیلونه او ثبوتونه لټولی دی، بله ګرانه کشاله داده چې، د پښتنو د اصل نسل په دې سلسله کښې دغه لیکونکو د نورو شهادتونو نه علاوه اکثر داسې خبرې کړې دی، چې مونږ ورته هوایی وئیلے شو، یو د یو نه حواله راخستې ده، بل بیا دغه حواله وړاندې خوره کړې ده، زیات ترې پکښې حماسی افسانې نقل شوې دی، په دې سلسله کښې چې کوم منابع ذکر کیږی، په هغو کښې یو خو «تورات» دے، بل رګ وید دی، بله اوویستا ده، او څلورمه د فردوسی شاهنامه ده، په زړو تاریخونو کښې د هیرودوټس، کسنیوفون او بطلیموس حوالې هم ډېرې زیاتې ورکیږی، خو دا ټولې ذریعې داسې دی چې افسانې پکښې د حقیقت نه زیاتې دی، نو زه دا نه وایم چې ددغه ذریعو نه دې کار نه اخستلے کیږی، کار به ترې مونږ خامخا اخلو، خو ډېر احتیاط به کول غواړی، ځکه چې دغه ذریعو کښې خصوصاً په تورات ،رګ وید، اوویستا وغېره کښې ډېرې زیاتې لاس وهنې شوې دی، تورات او اوویستا خو پنځه شپږ ځله په مکمل ډول تباه

نوي دي، او بيا په يادداشتونو باندې مرتب شوي دي دا
تفصيلات به هم په خپله موقعه بيانوو، تر کومې چې د
هيروډوټس تعلق دے، نو دا يو ډېر لوړے نوم دے، دده
کتاب (HISTORIA) د ټولو نه زړه تاريخي ذريعه ده،
او بابا يې تاريخ ورته وئيلے شي، په ديانت کښې يې هم
شک نشته، او تر ممکن حده پورې يې کوشش کړے
دے، چې حقايق بيان کړي، خو بيا هم د ايشيا او بيا
خاص طور د عربو نه راپه دېخوا د هغه د معلوماتو
ذريعې ((تاوئيلې ما وئيلې)) دي، د هيروډوټس د لوئے
والي او ديانت اندازه ددې نه لګي، چې هغه د يوې خبرې
په باره کښې د چا بيان درج کړي، خو دا هم ورسره
وايي، چې په دې خبره زما يقين نشته، يا اکثر د دوو
مختلفو خلکو بيانونه درج کړي، چې داهم وئيلے شي، او
داهم ـ خو ددې هر څه باوجود ددې علاقو سفر هغه
پخپله نه دے کړے، او د خلکو په بيانونو يې تکيه کړې
ده، بل د هيروډوټس د مطالعې نه دا هم پته لګي، چې
لکه د نورو عامو انسانانو ((قيصې)) د هغه هم ډېرې
خوښې دي، نو ځائے په ځائے يې د خلکو د خولې قيصې
او عجايب و غرايب هم درج کړي دي، مثلاً د هند په باره
کښې وايي چې دغلته يو داسې زمرے وي، چې تنه يې د
زمري وي، مخ يې د انسان وي، او په لکۍ کښې يې لکه
د لړم لشه وي. حالانکه حقيقت صرف دومره دے، چې په
زمرو کښې (لائن) د لړې نه باقاعده د بنيادم د مخ غونډې
مخ او ږيره لري، داسې نورې هم ډېرې خبرې دي،لکه
وايي چې په بلخ و باختر کښې (هغه نوم نه دے راخستے)
سره زر ځکه ډېر وي، چې مېږې يې دلاندې نه راوباسي،
او خپلې سوړې سره يې لکه د خاورې جمع کوي، او بيا
يې خلک ترېنه په يوه عجيبه طريقه راټولوي.

کسنيو فون د هيروډوټس نه لږ روستو تېر شوے دے،
دے هم په ايراني فوج کښې ملازم ؤ، خو دېخوا نه دے
راغلے، بطليموس په اصل کښې د سکندريې بادشاه ؤ،
او ده هم خپله جغرافيه په سکندريه کښې د يو بل د
بيانونو نه مرتب کړې ده.

فردوسي چې کومه شاهنامه د محمود غزنوي په وينا
ليکلې وه، هغه بيا محمود غزنوي هم په دې خبره ناخوښه
کړې وه، چې فردوسي د ايرانيت او ايرانيانو په صفتونو
کښې ډېره مبالغه کړې ده، د شاهنامې کومه حصه چې په
دقيقي بلخي پورې منسوب ده، په هغې کښې هغه د بلخ
(نجد) په باره کښې مبالغې کړې دي، تورات، اوويستا
او رګ ويد خو د بې شماره خلکو د ذهنونو او زمانو
تخليقات دي، نو هر رنګ پکښې شته بلکې اکثر پکښې
د خپلو خبرو ترديد پخپله کوي،مثلاً د تورات استثنا
نومي کتاب د موسی سره منسوب دے،خو د هغه دمرګ
بيان هم پکښې شوے دے.

ددې ټولو خبرو نه زما مطلب دا دے، چې دا ټولې ذريعې
ټکې په ټکې د اعتبار قابلې نه دي، خو دا هم ده چې
قطعي بې کاره هم نه دي، ډېر څه پکښې داسې شته، چې
مونږ سره د حقيقت په لټون کښې مرسته کولے شي، نو
عرض مې دا ؤ ، چې دې ټولو خبرو زه په دې مجبور کړم
چې د پښتنو د اصل نسل په باره کښې څه نوي غبر
جانبدار او پټ حقايق هم معلوم کړے شي، خوکله چې
ما په دې کار لاس پورې کړو، نو رو رو راته پته لګېده،
چې دا څه اسان کار نه دے، څه ذريعې خو اسانې په لاس
راځي، خو بعضې څيزونه ډېر ګران په ګوتو راځي، لکه د
هندي او پارسي مذهب کتابونه ډېر په ګرانه پيداکېږي،
خو چې پيدا شي نو هغه صرف انتخاب وي، لکه د رګ
ويد او اوويستا چې حوالې او انتخاب خو يې موندلے
شي، خو اصل يې اول خو پيدا کېږي نه او چې پيدا شي،
نو بيا د ژبې مسئله وي، ځکه چې اصل يې په سنسکرت
او اوويستايي ژبو کښې دے، چې اوس مړې ژبې دي،
نو مانه دې خبرې ډېر وخت واخستو، چې دغه اصل
ژبو کښې هم څه معمولي شد بد پيدا کړم، او اصلي
مکمل کتابونه هم پيدا کړم، ځکه چې موجود کتابونو
کښې کومې حوالې راځي، زما په هغو تسلي نه کېده، نو
وخت يې واخستو خو بهر حال څه نوي اړخونه پکښې
داسې پيداشول، چې د پښتنو د اصل نسل مسئله تر
ډېره حده پورې روښانه کړي.

# د روایت محاذ

تاسو به د لیلا شبنم د «جهالت محاذ» لوستے وی، په څو محاذونو جنګېدلې، د قلم څختنه دغه د قلم جنګالۍ لیکوالې، د روایت په دویم محاذ خپل قلم پورته کړید ے، هغې د ماشوم والی او پېغلتوب په برید. چې کومه نوې خبره د مور نه اورېدلې ده، دغه د هرې پښتنې مور خبره ده، چې هره مور یې خپلې لور ته د پښتنی کلچر اوروایت د امانت په طور سپاری، او پښتنې پېغلې ددغې امانت د باریکیو نه هم ځان خبر ساتی، او ددغو باریکیو پاسداری هم کوی، زمونږ دین دین اسلام هم په هرې ښځې او سړی علم فرض کړے دے، او د علم دپاره هم د عمل تاکید شوے دے.

ځکه نو زمونږ دغه لیکونکې که په حال کښې په خپلو جذبو جبر هم محسوس کوی، ولې د ټولنیزې زندګی دپاره که څه قوانین څه قایدې نه وی، نوهم زندګی به بې مهاره وی، او بې مهاره زندګی پائیدار او قومی خوندونه نه لری، ژوند چې کوم نفسیات پیدا کوی، دا پوړۍ په پوړۍ پخپله یو بدلون طرفته ځی، په دې په زور بدلون پیدا کول مسئلې لری، او ځکه خوشحال بابا وایی، چې:

په رو رو پرې قدم ږدی وربانـدې خیـژی
په یـوه ځلـه څـوک نـه خیـژی پـه بـام

ایډیټر (پښتون)

زه په دغه خبر نه وم، چې روایت څه وی؟ اول ځل چې ادې راته غږ وکړو، چې اوس به د تربور سره مشغولا نه کړې، د ماما زامن دې هم ستر دی، د کلی ماشومان هم اوس ستر شو. دغه خبرې مې په زړه څه عجیبه غوندې اثر وکړو. زه په فکر کښې وم، زما زړه او زما عقل په جنګ شول، عقل مې د جرنیل غوندې جابر ؤ، خو زړه مې د بزدل سپاهی غوندې د محاذونو ډارېدو.

زه د خپل عقل په دغه جابر ځان خبره نه وم، چې دغه عقل هم ستر طاقت دے، بل پلو مې زړه د ماشوم غوندې په سلګو ؤ، زه په دغه درمیان کښې ویلاړه وم، چې د چا په خبره یقین وکړم، اخر دغه فیصله مې وکړه، چې دغه دواړو سره به مزل وکړم، ددغو په مشورو به عمل کړم، دغسې زما عقل، زما زړه زما ملګری شول.

زه د ژوند په محاذونو روانه شوم، هر محاذ قیامت ؤ، اوس زه د چا سره هم مشغولا نه شم کړئ، چې روایت هسې جوړ دے، جونه چې سترې شی، بیا به د هر چا نه لرې ناسته کړی، خندل بند، ټوقې نه دې په کار، د شپې باهر وتل نه دی جایز، تره تربور نه هم لرې ناسته په کار

ده، اوبو ته تلل هم په خپل وخت شول، بې وخته به د کاله نه نه درومې، د بابا د وړاندې به خبرې نه کړې، ادې سره به د کاله کار خدمت کړې، دغه هر څه روایت کښې شامل وو.

زه په دغه فکر کښې وم، چې دغه روایت چا جوړ کړے دے، دغه کوم کتاب کښې راغلی؟ خوڅه خواب نه ؤ، چې زه گوښې وم، خواب چا راکړئ؟ زه د مشورې دپاره پورې د غرونو سرته وختم، هلته مې نظر شو، خاموشي وه، هر څه په خپل خپل ځائے دم به خود وو، ښکارېده چې دلته هم د روایت څوکی دی، تیږې په مزکه هسې خوبولې وې، چې په څه غږ هم بیدارې نه شوې، زړه مې وئیل دغه د انسان روایت دے، که دغه تیږې بل چا یوړې نو بدی به شروع شی، بیا به سل کاله کښې پوره نه شی، ځکه له داره دغه تیږې په مزکه په سجده شوې.

عقل مې وئیل دا خبرې د لېونو دی، دلته روایت دے، چې د بل شی ته کتل ناجایز دی، ما وئیل دغه خو تیږې دی، عقل مې وئیل هر څه چې د بل وی هغې ته کتل د روایت خلاف دی.

زه لاړم د اوبو چینې ته هلته خاموشي وه، څوک هم نه وو، زړه مې وئیل د دغو خلکو تیږه ماته ده، ځکه څوک اوبو ته نه درومی، عقل مې وئیل زړه څه خبر دے، اوس په هر کاله کښې د نلکو اوبه دی، څوک جونه باهر نه درومی، چې دغه روایت دے یو ښکلے غوندې.

یو زنانه په لار کښې ناسته وه، ښکاریده چې اوس به مړه شی، ما د هغې نه سوال وکړو، چې دغه څه حال دې جوړ کړے دے، هغې وئیل څه وکړو، خورې زمونږ روایت دے، چې خاوند مړ شی، بل به نه کړو، ما وئیل که اولاد نه لری بیا به څه کړی؟ هغې وئیل خپل لېور به کړی، ما وئیل که هغه ماشوم وی؟ هغه ته به انتظار کوی، چې ستر شی، ما وئیل که د هغه ماشوم بل څوک خوښ وی؟ هغې وئیل بیا به دوې ښځې وکړی، ما وئیل که هغه ماشوم غریب وی، دوې ښځې به څرنگ گوزاره کړی، هغې وئیل وخت تیرېږی څه ویلاړ نه وی، ما وئیل دغه خو ټول خاندان تباه شو، هغې وئیل دغه زمونږ روایت دے.

ما وئیل فریاد وکړه، هغه مسکی شوه وې چاته؟ ما وئیل څوک مشر کشر خپل پردے، څوک خو به وی، هغې وئیل زه گوښې نه یم، بې شماره جونه زما غوندې بیمارې گرځی، څه وخت پس مړې شی، یو کال پس د هر چا هېر شی، چې څوک په روایت قربان وو، زه خفه وم خو ما هېڅ نه شو کړے، چې زه خپله د روایت نه پرېشانه وم.

زه لاړم یو صحرا ته هلته ډېر خلک ناست وو، څه عجیبه منظر ؤ، چا خندل، چا ژړل، څوک دگلو سره مشغول وو، څوک د ازغو په څوکو زخمی زخمی کېدو، ما وئیل دغه څه دی؟ زړه مې وئیل لېونی دی، عقل وئیل زړه خپله لېونے دے، ځکه دوی ته لېونی وایی، دغه زمونږ روایت دی، چې کله خندل کړو کله ژړېدل کړو، کله گلو سره لوبې کړو، کله د ازغو لاس چاپېره کړو، ولې چې روایت کښې هر څه هر څه شته.

زه لاړم قید خانې ته ټول قیدیان خاموش ناست وو، زه حېران وم چې هسې خاموشي ده، قیامت خو نه دے؟ زړه مې وئیل چې ضرور به قیامت وی، عقل وې قیامت کښې خاموشي چرې ده؟ هلته خو به شور وی، ما وئیل هسې نه قیامت کښې د خاموشي روایت وی.

دغه خاموش خلکو زما په لورې اشاره وکړه، چې دغه هم راوله، زه لاړم زما لاس یې د یو قیدی سره بند کړو، بل لاس مې د خپل بابا سره بند کړو، زه حېرانه وم، چې زما دواړه لاسونه یې یو ځائے ولې بند نه کړل، عقل وئیل اوس ازادی نشته، یو لوری ته بابا دے، بل لوری ته روایت دی، دغه قیدی سره د تا ژوند دے، که څه احتجاج دې وکړو، نو بیا به د بابا کاله ته واپس راشې، ما وئیل زه اوس درومم خلک په خندا شول، وې دغه خو روایت نه دے راغلے، بیا به واپس درومې، زه د لېونو غوندې هلته ناسته وم، هغه قیدی غږ راکړو، چې څه خبرې به وکړو، قیدی ته هم یې، زه هم، ما وئیل ته چا قیدی کړې، هغه وئیل جرگو، مور، پلار، خور، ورور، ډېر خلک شامل وو. ما وئیل احتجاج وکړه، قیدی مسکے شو، وې دغه ټول قیدیان احتجاج کړی، چې زه یې وکړم؟ دغه خو څه روایت نه دے، چې په قیدخانه کښې احتجاج کړی، ما وئیل زه خو احتجاج کړم، هغه ویلې؟ زه خو د تا سره

زولنو کښې خوشحاله یم. ما وئیل دغه زولنې چا جوړې کړې؟ قیدی وئیل روایاتو. ما وئیل روایات چا جوړ کړی؟ قیدی وئیل حالاتو. ما وئیل حالات چا جوړ کړل، قیدی وئیل احکاماتو. ما وئیل احکامات چا جوړ کړل، قیدی وئیل کائناتو. ما وئیل بس کړه بس کړه، کائنات خو الله پاک جوړ کړی دی، هغه وئیل هر څه د الله پاک دی

قیدی به زما د ډوډۍ فکر کړو. زما د لباس فکر یې کړو. زما په غم به خفه ؤ. زما په خوشحالۍ به خوشحاله ؤ. یوه ورځ زه خوبولې وم، چې زما لاس د قیدی له لاس خلاص شو. زه په مزکه ګوزاره شوم، قیدی لاړو زه ګوښې پاتې شوم. ورځ، شپه، خوشحالی، غم د هر څه بې خبر وم. زما زړه هغه قیدی ډېر یاد کړو، خو قیدی هسې لاړو چې واپسی یې ګرانه وه، روایاتو ماته غږ نه کړو، چې قدم دې نن کوږ دے، نن دې ولې وخندل؟ نن دې سترګې ولې تورې کړې؟ ولې د ګلابی جامې په تن دی؟ خو زما په غوږ کښې د ادې غږونه راشی، چې که په یو محاذ باندې فېل شوې، نو عمر بهر به ناکامه وې، زه د لېونو غوندې د روایت په محاذ جنګېږم. زه زخمی زخمی شوم. خو د روایاتو مطالبه نه پوره کېده، نو پوره شوه. چې کالونه تېر شو. زه دهر نه خبره وم، چې خندا څه وی؟ ژړا څه وی؟ نن زه هسې ګوښې ناسته وم، چې زړه مې غږ وکړو. چې څرنګ په ارام ناسته یې؟ ما وئیل د تا سترګې نشته، زما حال څه دے، ته وایې زه په ارام یم، عقل مې وئیل دغه نادان دے، کله چې انسان په غمونو، مصیبتونو کښې سر شی، هغه بیا په دغه خبر نه وی، چې کوم غم سخت کوم مصیبت کله راغے. دغه حال د تا هم دے. ځکه هسې په ارام ناسته یې، خلک وایی چې بې غمه ده. بې پرواه ده. ما وئیل چې کاش د روایاتو هم څه پېمانه وے، چې مونږ په خپل حساب د روایات سره په لار تللے. اوس خو بې حساب دے.
عقل وئیل پېمانه خو زمونږ په لاس کښې ده، کله چې غواړو هغه وخت پېمانه جوړوے شو، خو مونږ کوشش نه دے کړے، کله چې کوشش نه وی هلته کامیابی ګرانه شی، ما وئیل دغه پېمانه به څوک جوړوی؟ عقل وئیل اوس هر څوک ځان ځان له د روایت پېمانه جوړوي. زه د عقل په دغه خبره حېرانه وم، چې زما د ژوند څه مطلب شو؟ زما دپاره قیدخانه وه، اوس خلک ازاد ګرځي، نه د روایاتو پرواه کړي، نه یې قید قید دے، زړه مې وئیل چې خفه شوې؟ ما وئیل هو خفه یم. عقل وئیل د وخت سره سره روایت هم بدل شو. د تا نه سخت روایت د تا د مور ؤ، د پلار ؤ. اوس د تا نه اسان روایت د تا د نوي نسل دے، زه حېرانه یم، چې دغه د روایت محاذ هم د قیامت نه کم نه دے. هر غلط شی ته مونږ روایت وایو. اخر ولې؟
روایت خو اوس نشته څو په شمار پاتې دی، چې د روایت پرواه کړي، هر څوک ازاد ګرځي، نه قیدیان شته نه قیدخانې شته، دغه صرف زمونږ برخه وه، چې په څوځو وارې قربان شو، هر قسمه سزا راته راکړے شوه زه فکر کړم چې زما مقابله به په کوم محاذ وی، هر محاذ سره مقابله مې وارخطا کړی، چې بې علمه انسان به څه وکړی، نه دوست، نه تجربه نه رهبر نه رهنما شته.
ملګرو! تاسو زما نه سبق زده کړئ، چې زه په هر محاذ څرنګ مقابله کړم، بیا هم زه ژوندی یم، بیا هم زه انسان شمارېږم، بیا هم زه مسلمانه یم، هسې ګران کار دے، د ژوند په محاذونو مقابله..............

## دعا

سمسور اتمانخېل

د خپل اولس په مرګی حال وجود کښې ساه غواړم
نور یې نظر له غواړم شونډو له مسکا غواړم
بل څه چې نه وی د الفت او ورورولۍ نه بغېر
زه د جنګونو نفرتونو نه پناه غواړم
چې د پښتون د پاره درد لری په زړه کښې مدام
د باچاخان په رنګې داسې مسیحا غواړم
چې په کښې کرکه او نفرت د چا دپاره نه وی
زړه ائینه غواړمه فکر له خلا غواړم
چې مې قتلیړی ګلالی په کښې د ښکلې وطن
زه په والله که درنه دغسې سبا غواړم
چې زما فکر په کښې شل نه وی غلام نه وی
داسې خپلواکه او ازاده پښتونخوا غواړم
په کښې سجدې چې چاته نه لګوو ستا نه بغېر
زما خالقه درنه دا رنګی دعا غواړم



شیرین زاده خدوخیل

# د درد گویانه ژبه

په اسمان توري ګوري وریځې داسې راخوري وې، چې د ګیرچاپیره دنګو لوړو غرونو څوکې په کښې پټې وې، یخه تېزه غمجنه هوا چلېده چې یو نیم څاڅکے به کښې هم راتلو. هغه خپل بوډا مور پلار او یک یو اس سره د کلی جماعت ته مخامخ جنازه ګاه کښې چپ غلے ولاړ ؤ، هغه نن د خپلې مینې او محبت جنازه په ډکه حجره کښې د ننګ او ناموس په قبر کښې په خپلو لاسونه اوسپارله، او اوس د کلی نه چې د هغه د مینې محبت مقبره وه، ترینه لکه د مړی د لواحقینو خالی لاسونه یو د نامعلومه مزل په لور روانېدو کښې وو، یخې تېزې هوا د هغه اوږدې څنې د هغه په تندی او مخ داسې الول الول الوزولې لکه چې پچموزے وریورې کوی، د هغه بوډا پلار حق پق حیران ولاړ ؤ، کوم چې د سرزي د وجې سم راتوند شوے ؤ، د هغه بوډۍ سترګې دوه مرې ډېوې وې، چې رپ وهل ترینه هېر شوی ؤ، او سوچ وړے ؤ، چې دا څه اوشو، تېزې هوا به د هغه تور پتکے بیا بیا په څپېړو وهلو لکه چې سر نه یې ورله د ګزارولو هڅه کښې وی، د بوډۍ مور د سر به یې هوا زوړ څادر بیا بیا رابښکلو، او د هغې سر تور کولو پسې شوې وه، د کلی خلکو په شان هوا هم د هغوی سپکاوی پسې شوې وه، د بوډۍ مور د سترګو نه یې د اوښکو رودونه بهېدل، چې د مخ په ولونو کښې خورېدهٔ او ټول مخ یې ورله لوند خوشت کړے ؤ، هغه ډېر ساعت د یو لوټ شوی مساپر په شان حریان دریان غلے ولاړ ؤ، داسې ښکارېده چې د تېزې یخې هوا د هغه فکر او سوچ قوت هم ځان سره الوزولے دے.

هغه نن په رښتیا د ټول کلی په مخکښې لوټ شو، او ډېر عجیبه شان لوټ شو، ټول کور هم تالا ترغه شو، او د مینې دنیا هم تالا والا شوه، هغه خو ډېر په فخر او ویاړ د کوره را بهر شوے ؤ، خو بیا چې تر حجرې راتلو نو د

هغه سرنیټ ؤ . د هغه وکه لمن نشه وه. داسې نشه او خالي چې د هغه په خپله یقین نه راتلو . د جنازه ګاه نه پورې د کلي د حجرې په جل کښې د کلي ګڼ زلمي او ماشومان ولاړ وو . او د هغوی د کلي نه د تللو نندار ه یې کوله. د بعضې کورونو په بلو هم زنانوو سرونه راپورته کړي وو . هغه نه یوله فضا غمزپلې او ویرژنه ښکاریدله. هغه په خپل کلي او ګېرچاپېره غرونو یو الوداعي نظر واچولو . نو زړه یې سم د پولې په شان چاودلو . دے کلي او غرونو کښې هغه وړوکے لوئے شوے ؤ . مور پلار یې په کښې خپل ټول عمر خوړلے ؤ . او اوس ترینه مدام جدایي راپېښه وه

هغه د اوښکو نه ډکې سترګې د مور پلار په لور راواړولې او غرېو نیولې اواز کښې یې اوونیل دا جي! یې بې راځئ چې ځو . د ویلو سره هغه د اس جلب ته لاس کړو او ډېر په سترو او درنو قدمونو رو رو روان شو

دا خبره صرف د هغه یو دوست افضل ته ښکاره وه، چې تاراونتی هغه سره تار اخستلے دے، او اکثر کلي کور او ګودر نه تلو راتلو کښې او چرته په پېښنه کښې چې یو بل له په مخې ورشي، نو د بدن سره سره یو بل ته د سترګو په ژبه د زړه حالونه وایي. نور څه خاص ربیار په کښې ترمېنځه نه ؤ . هغه اګر چې د اوچت کردار مالک نه ؤ ، خو په هغه څه داسې چاګوته هم نه شوه پورته کولے، د کور کلي د پېغلو په خبرو کښې به د هغه نوم ډېر کم اخستلے شو . د هغه مور ځو خله د هغه د کوئېدنې بینا اوکړه، خو لاس به یې تنګ ؤ . نو غلې به شوه، او هغه به هم مور له د صبر مشوره ورکوله. خو خبره هغه وخت ګرمه شوه. کله چې د تاراونتی د کوئیدنې مسئله پورته شوه. د تاراونتی یو لرې عزیز اجیت کمار سره د هغې د کوئیدنې خبره هغه وخت پېل شوه، کله چې اجیت کمار د بیساکهي په مېله کښې هغه د حسن ابدال په ګوردواره کښې اولیدله

د تاراونتی سوداګر پلار کبیر داس چې تل به یې یو تور خیرن واسکټ اچولے ؤ . د واسکټ دواړو غاړو ته د جېبونو په غاړو به د خېرو کوټ ختلے ؤ ، په دواړو جېبونو کښې به څه نه څه پراته وو . ځکه به یې دواړو

جېبونو خولې چینګې نیولې وې. غټه دمامه خېټه او داسې پړسېدلے غټ لکه چې الوګان یې کړي وي. هغه نه دا رشته هم د نفع یوه ګټه وره سودا ښکاره شوه. خو تاراونتی د خپل سوداګر پلار په تله کښې خان د یو جنس په رنګ تللو نه انکار اوکړو . نو پلار یې د غصې سور شین شو . او کوټک ته یې لاس کړو . او بیا چې کبیر داس پوهېدلو . نو تاراونتی چهل په سر شېرعلي کړه ناسته وه.

ټوله شپه اول د شېرعلي په کوټې کښې او بیا په حجره کښې غویمند جوړ ؤ . د تاراونتی پلار سره د خپلو نائیکانو ولاړ ؤ . هغه ویل چې شېرعلي په زوره زما لور زما د کوره تښتولې ده، خو د شېرعلي پلار قسمیه ویل چې جینۍ په خپله رضا زما زوئے پسې راغلې ده، هغه وایي چې زهٔ مسلمانېږم، او کلیمه وایي، هغه اوس زمونږ پناه کښې ده، دواړو ډلو خپله ویله، کبیرداس چې ژبه یې د منافقت او چاپلوسۍ په تېلو غوړه وه، هغه به چې ډېر په عاجزۍ کله دا اویل پښتنو! زهٔ ستاسو د پښتو خاورې یمه، نایکانو زما لور ماته واپس کړئ، نو د نایک نه به پرې سپوا د نورو ولاړ خلکو زړونه هم اوسوځېدهٔ، نزدې وه چې دواړو ډلو خپلو کښې ښکر ورکړے وے، خو د کلي یو څو سپین روبي مشران ترمېنځه شو ، هغوی خبره خلاصه کړه، چې سبا سحر به شېرعلي سره د تاراونتی د کلي جرګې ته مخامخ کیږي، که جینۍ اوویل چې زهٔ په خپله خوښه راغلې یمه نو بیا خو د شېرعلي ښځه ده او که جینۍ اوویل چې زهٔ یې را تښتولې یمه، نو بیا چې د جرګې څه فیصله وي، هغه به شېرعلي منی، کبیرداس خو د جرګې خبرې ته غاړه نه کښېښوده، خو خپل نائیک پرې سترګې راسرې کړې، غلے کښېښنه بې غېرته خپله لور نشې سمبالولے، او اوس د جرګې خبرې ته غاړه نه ږدې، د پښتو چې څه لاروي هغه به کیږي، تا سره څوک زیاتے نشي کولے.

سحر جرګه د کلي په حجره کښې راجمع شوه، ټول مشران او دعویداران هم مخامخ شو ، څه کشران د مشرانو شاته کټونو ته ولاړ وو ، ځنې ماشومان د حجرې په دېوالونو ناست وو ، د بعضې کورنو زنانوو د بلو نه سرونه راپورته

کړي وو، شېرعلي د خپله کوره تاراونتي او خپلې مور را بهر شو. تاراونتي د پلار د کور نرے سپين څادر په سر کړے ؤ، او د شېرعلي مور سره برغه په مزه مزه د حجرې په لور روانه وه، د هغې سترګې ښکته وې. او صرف د خپلې مخې لار ته يې کتل. د کلي ګڼ ماشومان هلکان او جينکۍ ورپسې لکه د جنج را روان وو. د کلي لوئې لار سره جوخت د تاراونتي کور ؤ. تاراونتي چې څنګه خپل کور ته مخامخ شوه، نو ښه نيولې شوه. د کوڅې په وره کښې ورته خپله مور او دواړه خويندې ولاړې وې. مور يې سره په نرۍ لوپټه ترلے ؤ. او داسې ښکارېده چې ټوله شپه يې ژړلې وی. او په مخ يې اوس هم د اوښکو کرښې ليدلے شوې، د هغې دواړه خويندې شوړندې ولاړې وې، او داسې معلومېده چې هغوی هم ټوله شپه شوګيره کړې وی، تاراونتي چې مخامخ اوکتل نو مور او خويندو سره يې سترګې برابر شوې، نو مور يې خپل دواړه لاسه څېګر لـه راخلاص کړۀ او ويې ويل: «هائے ميری ګڑی» ميری بچی ، خو خويندې يې لکه د بت چپ ولاړې وې، د مور د دردېدلي اواز څه اثر ؤ، که د خويندو چپ غلې ولاړې څه تاثير ؤ او که تاراونتي په خپله فېصله ستومانه شوه، چې لکه د ماشوم يې ورمندې کړې او خپلې مور ته يې غېږه چاپېره کړه، مور بې واره بې واره هغه په سر ځټ داسې ښکلوله لکه د مودو ورکه لور يې بيا موندله، دواړۀ خويندې ورسره هم تر غاړه وتلې، شېرعلي او مور يې په خپل ځائے حق دق شو، او حيرانتيا نه يې په بقو بقو د تاراونتي کوڅې ته داسې کتل لکه چې د لاسونو نه يې نېولې مرغۍ والوځي او د کبير داس کوڅې ته لاړه شي، چې د تاراونتي مور د کوڅې ور بند کړو، نو د هغه په زړۀ تياره راخوره شوه، چې دا څنګه چل اوشو، هغوی په خپل ځائے حېران ولاړ وو، چې د کبير داس اواز يې تر غوږو شو، مانه ويل چې دۀ په زوره زما لور تښتولې ده، خو تاسو نه منله اوکړئ ترېنه اوس تپوس! چې اوس څه بهانه کوی، د خپل رور عزيز لور ته لاس کړه چې...... هغه نور هم څه ويل چې شېرعلي سوې سترګې را اوګرځېدلو، د هغه د سترګو نه سم بحری ختل خو د اوښکو سمندر په کښې

هم موجونه وهل چې د کبير داس نايک رامخکښې شو. کبير داسه خولۀ چپ کړه، اوس به خبره په جرګه کښې کؤو

شېرعلي چپ غلے د جرګې مخکښې ناست ؤ. په يو تيلي يې په زمکه څه کرښې رانښکلې او ځان سره بې زړۀ کښې څه کرل رېبل، د عزيزانو خپلوانو سترګې په هغه ورخښې وې، هغوی ويل چې مونږه سره دهوکه شوې ده. خو هغوی شېرعلي ته غوږ نيولے ؤ، چې هغه څه وايي. اخر د جرګې يو مشر ترېنه تپوس اوکړو

شېرعليه تۀ څه وايې؟ دا جينۍ تا تښتولې وه. او که په خپله درپسې درغلې وه. نائيکه په زور يې ..... کبير داس بيا څه ويل چې ګنو کسانو پرې غږ کړو، غلے شه، نو خبره د هغه په خولۀ کښې پاتې شوه. شېرعلي لږ ساعت غلے ؤ، بيا پاڅېدلو، دلاسه يې تيلے يو خواته ګوزار کړو، او د ملامتيا نه په ډکه لهجه کښې بې اوويل، تاراونتي ما په زور تښتولې وه. جينۍ بې قصوره ده، ټول قصور زما دے. زۀ خپل قصور منم، ستاسو د جرګې چې څه فيصله وی، هغه مانه منظوره ده، د شېرعلي په اقبال جرم کبيرداس په رومبی ځل زړۀ کښې سم يو څوک اوخوړلو، خو مور پلار او نورو عزيزانو يې د حېرت نه ګوته په خولۀ پاتې شو. ولې چې هغوی ته حقيقت معلوم ؤ، خو هغه په خپله اقرار اوکړو، نو بيا د چا څه د ويلو نه ؤ. د هغه ډېر عزيزان په کښې د سوخته او قهر نه د حجرې نه پاڅېدۀ، ډېرو په کښې تندې ترېو کړۀ او هغه ته يې په قهرجنو سترګو کتل. چې جرګه بيا پاڅېده او د حجرې ستاني ته حتمی فيصلې کؤلو دپاره وردننه شوه، ګهړی نيمه پس جرګه را بهر شوه او خپله فيصله يې واوروله

دلته مېشته هندوان زمونږ د سېوري لاندې اوسېږی، دوی زمونږه پناه کښې دی، د دوی په مال او عزت لاس پورته کؤل زمونږ په مال او عزت لاس پورته کړل دی، هر څو که دوی په اقليت او غير مذهبه دی، خو د دوی د عزت او ناموس حفاظت په مونږ فرض دے، مونږ دا نشو زغملے چې څوک دې د دوی په مال او عزت لاس پورته کړی، شېرعلي چونکې ډېر غټ جرم کړے دے، او هغه

په خپله اقراري هم دے، نو ځکه هغه له مثالي سزا ورکولے شي، چې بيا سبا له څوک داسې جرات اونه کړي جرګې دا متفقه طور فيصله کړې ده، چې د شېرعلي کور دې لوټ شي او هغه دې سره د خپل مور پلار د کلي نه دوه ورځو دپاره لاسه بل چرته لاړ شي.

د جرګې فيصلې سره لويو وړو د هغه په کور ورمنډې کړې، هغه خپل مور پلار سره د حجرې نه خپل کور تالا ترغه کېدو ليدل، چې خلکو پرې چُور جوړ کړے ؤ. يو بل له يې دېکې او تېلې ورکولې او د چا لاس له چې څه څيز ورتلو هغه يې تښتولو. خو د کبيرداس د نائيکانو اواز په کښې ډېر اوچت اورېدلے شو، هغه خپل مور پلار سره لکه د يتميانو بې اسرې د حجرې نه بهر جمات سره خوا کښې جنازه ګاه ته راغلو، د هغه په مخ يو رنګ تلو بل راتلو، مرې يې غرېو نيولې وه، هغه به بيا بيا پوزه سوڼله، پلار يې څو ځله د پټکي په پيڅکې خپلې اوښکې پاکې کړې، خو مور يې ساندې ويلې اوس د کلي نه د هغوی کډه ګول وه، هغه ډېر په بې وسی ګېرچاپېره اوکتل نو خپل دوست افضل يې اوليدلو، چې يو زين شوی اس سره د هغه په لور را روان ؤ.

د افضل سترګې هم د بې وسی د اوښکو نه ډکې وې، شېرعلي! ماته ښه پته ده، چې حقيقت څه دے، خو د مينې سودا کښې ته نامراده بامراده يې، تا د مينې د باغ مړاوی ګلونه د خپل عزت په قرباني يو وار بيا تازه کړه، پښتانه زلمي تل د پېغلو په ناموس قربانيږي، تا چا دپاره چې خپل عزت قربان کړو، کور تالا کړو، هغه به تل پښېمانه وي، خو تا د پښتنې عشق شمله هسکه اوساتله، زه ستا هسکې شملې ته په دواړه لاسو سلام کومه، زه په تا فخر کومه... دې کلي نه په تلو ته بې نومه بې نښانه شوے نه يې، بلکې ته به تل ددې کلي د جينکو په سندرو کښې يادېږې.... هغه د اوښکو نه په ډکو سترګو هغه له غاړه ورکړه، او د مور پلار سورلی دپاره يې ورته خپل اس حواله کړو، او څه لږې ډېرې نغدې يې ورله هم په زوره په جېب کښې واچولې، د افضل د رخصت کېدو نه پس هغه لږ ساعت غلے ولاړ ؤ، د هغه کور اوس لوټ

شوے ؤ، د کلي د خلکو سترګې اوس هغه دپاره بدلې وې، د هغه خپل تربوران عزيزان د غصې او قهر نه ډکې خپلو کورونو ته تللي وو، او د سوخته هېڅوک د هغه خوا له رانغلل، د حجرې نه ورته اکثر خلک په ننداره وو، هغه اس د جلب نه اونيولو، او په مزه مزه روان شو. اوس اسمان په زمکه سم را نسکور ؤ، يخه هوا په تندۍ سره داسې چلېدله، چې د هغوی نه يې سمې جامې راښکلې، لکه چې د کلي نه يې بهر تللو ته نه پرېږدی او د هغوی په تللو ونې شنهېدلې وير يې کولو او د هوا انګولا هم هر چا اورېدله، اسمان هم د هغوی په حال ژړغونې ؤ، او د سترګو نه يې د اوښکو څاڅکی راګوزارېده، هغوی چې د جنازه ګاه نه رابهر شو، او د کلي په لويه لار را تاؤ شو، نو دلته د تاراوتنی د کور مخکښې د هغه پښې درنې شوې او هغه لږ پښه نيولے شو، او د حسرت نه يې په ډکو سترګو د تاراوتنی کوټې ته اوکتل.

څه بچيه کليمه وايه، په الله توکل دے، د پلار غرېو نيولے اواز يې تر غوږو شو، نو هغه بيا قدم پورته کړو خو بيا د حجرې د جل نه خلکو يو عجيبه تماشه اوليده، د کبيرداس د کوټې ور په ګرب سره بېرته شو، تاراوتنی سر تور سر لکه د لېونی د خپله کوره را خوشې شوه، او شېرعلي ته دلېونو په شان ورغاړېوته، د کلي په ماتمی سکوت کښې د کلي د حجرې نه د خوشحالی چغې شوې او ټولو د هغوی په لور رامنډې کړې، او اسمان پرې هم د خوشحالی نه ملغلرې شېندل شروع کړل.



## د عصرونو ویاړ

قمر راهي

په درویشتم مارچ ۲۰۰۶ د پی تی وی د تاریخی مشاعرې د ریکارډنګ په موقعه د اجمل خټک په لیدو او اورېدو.

خټکه ستا په کرب پوهېږم زه ترې هم تېرېږم
ستا دژوند یو ارمان هم لا چې رېژېدلے نه دے

ستا کلالی ځوانی د ژوند د تقاضو نه ځار کړه
خپل زلمیتوب چې دې د وخت په سرو لمبو وسېزو

نه تر دې وخته چې په خپلو کړو ستومانه نه شوې
ته یو ستم هم نه رامات کړې نه یې کوږ قدرې کړې

زه ښه خبر یم چې د مرګ په جال کښې دواړه ګېر یو
زه بیا هم ښه یم زه خبرې خو کولے شمه

هغه اجمل هغه خټک چې تند او تېز طوفان ؤ
هغه طوفان که لار اونه مونده هم غلے نه شو

داسې یو غرېو شو پټې اوښکې شو ضایع چې نه شو
د زړه صدف یې وازه خولهٔ ورته لېوالـه چې ؤ

دغسې پټه هره اوښکه ملغلره چې شوه
یوه یوه دادے د شعر تار کښې اوس هم پیئی

اوس هم د خیال په نیلی سور په منډو تړرو سر دے
د پښتونخوا په خیالولو خپل خوبونه ویشی

چې یې د نوم په اخستو هم خپلې شونډې ښکل کړی
چې په لمبه لمبه افکارو یې زلمی لا مست دی

ما ورته ځکه خو وئیلے ؤ اشنا راستون شه
دا پاتې پلې ترخې ورځې دې په فن خوږې کړه

چې یې قلم اوس هم تېره دے، لا پڅ شوے نه دے
د بلاغت په شان د ژبې چې محتاجه نه دے

چې د پښتو پښتونولی په پت به تل ژوندے وی
هغه اجمل د عصر څه چې د عصرونو ویاړ دے

## پښتو

ډاکټر محمد همایون هما

پښتوزما د زړه درزا پښتو مې سا ده خلکه!
زه د پښتو یم او پښتو ګورې زما ده خلکه!
پښتو مې ژوند دے او پښتو مې هم دنیا ده خلکه!
پښتو غېرت، پښتو مې ننګ پښتو حیا ده خلکه!

بیا به زه څنګه د پښتو سندرې نه وایمه
دې نه خو ګنګ ښه یم په ژبه که بل څه وایمه

زما خوبونه، ارزوګانې ادرشونه چې دی
زما یادونه د ماضی د نن خیالونه چې دی
زما د ژوند ښکاره او پټ څومره رنګونه چې دی
د ښیادمو د ښایست واړه قدرونه چې دی

هر څه داهر څه د پښتو د چینې ژوند بیا مومی
د سرلوړی هره قیصه ددې نه خوند بیا مومی

د ایلم څوکه که یادېږی که خیبر یادېږی
لارې کوڅې په وینو سرې د پېښور یادېږی
اوچې مېرې د باجوړ که هشنغر یادېږی
د پښتونخوا هره کوڅه دِ ننګ سنګر یادېږی

ځکه ددې غېرتی خاورې به صفت کوومه
دا علامت مې د ژوندوڼ دے زه پرې پت کوومه

د غېرتی پښتنې مورنه زېږېدلی که وی
او الاهو یې په پښتو کښې اورېدلی که وی
د ننګ نه ډکې په دې خاوره لوبېدلی که وی
چرته یو چونګ لپه اوبه یې ددې څښلې که وی

بیا د پښتو هره خبره به ایمان ګڼی
هره یوه پېښه د پښتو به د خپل ځان ګڼی

ددې وطن د ښایستونو خوشحالو خبره
د نن سکون او د راتلونکو سوکالو خبره
په امتحان کښې د وختونو د سیالوخبره
هره خبره مې د ژوند ده د پښتو خبره

ځکه پښتو له زه هما رنګین خوبونه وینم
دې ائینه کښې د خپل قام ټول ارمانونه وینم

اسرار د طورو

لکه جمال د سرو ګلونو د سپرلو سره ځی
خوارہ د مینې د ځوانۍ د ولولو سره ځی
پښتنانه لا زل که پښتو پښتو کووم نو ځه پسې
عطر د سترګو نه د سترګو د ښو سره ځی
اوس نه غور ځنګ شته نه غوغا شته ښهر په غلي ده
شرنګ د بیرو د هنګرو د لبونو سره ځی
نور به نراځه نراځه یادونه لکه زهر ګوتم
چې شیریني د ګلالو د جنازو سره ځی
مرګ به سا واخله دمه شه چې بې کوره نه شي
سره د کوره خپلخانې د زلزلو سره ځی
زمونږ اومه خوله ګلالی بچی مکتب ته لاړل
د مرګي خوا ته ماشومان د سیپارو سره ځی
ستا د ګناه د درانه باره زمکه ولړزېده
بارګیر چې دروند شي د کمره د سوارو سره ځی
نېکان غاوره په نېکۍ وو زاهدان په زهد
لوانده مدام د اوچو سانګو د لمبو سره ځی
مئینان ټول د خاورو لاندې شو مرګي اوخوړل
اسرار به چاله د سرو اوښکو د شپبو سره ځی

رحمت شاه سایل

اوښکې څه داسې چل په سترګو د جانان کښې کوي
لکه واره چې پسټ پښتونې په باران کښې کوي

زړه چې زخمي شي درد کوی ولې چې درد زخمي شي
لکه چې سر غوندکې شمع په طوفان کښې کوي

ما د تېپې غونډۍ په غېږه د ژوندون کښې واخلې
ماته زما قیصه په زار او په قربان کښې کوي

د غوټۍ پسټ تبسم هم د ګلستان برخه وي
دا خلک څنګه ژوند په ذات کښې او په خان کښې کوي

مونږه مدام په هره ګټه کښې تاوان کړے دے
مونږ هغه نه یو څوک چې ګټې په تاوان کښې کوي

د پښتنې مینې د زخم د ګلابه زار شم
چې تل ګلونه په فراق او په هجران کښې کوي

شمه حېران دا دلته دومره خاموشي ولې ده
که وچې هم شي پاڼې شور خو په خزان کښې کوي

چې زړه تړې غواړی، سر تړې غواړی، د خیال اور تړې غواړی
سایل ژوندون د داسې مینې په ارمان کښې کوي

**پروفیسر صفدر خان صفدر**

چې بې انبار کړلې زمونږ په امیدونو خاورې
راځئ چې ومړو هغوی له په مخونو خاورې
د چا چې ننګ د خپل وطن په خاوره نه وي ایزده
دغسې خلک بادوی تل په سرونو خاورې
زما د وینو وږم اوس د جانان وهم شولو
څکه خو مړی اوس هر وختې په لاسونو خاورې
هلته به څه شي زرغونه د محبت ګلونه
چرته چې الوځي مدام د نفرتونو خاورې
اوس به داستا د هجر تاو زما وجود نه سیزی
چې په ما پرېوتلې ستا د قدمونو خاورې
د خپل وطن د خاورې بوټے مې په کښې بیانه موندو
ملګرو چاڼ مې کړې د ډېرو وطنونو خاورې
چا چې په ژوند په نوس زهر وی خوړلی مدام
بیا وی دارو د داسې خلکو د قبرونو خاورې
نن ورته بیا د یار د خولې نه «لپونے» ختلی
څکه صفدر اچوی خولې ته په چونګونو خاورې

**عثمان علي عثمان(بایزو خرکی)مردان**

قیصې تمامې کړی خو نوم د یار نیمګړے پرېږدی
زما قلم زما دا بعضې کار نیمګړے پرېږدی
نور د جانان او د سپرلی په نامه څان نه ترم
ما ازمایلی ما په نیمه لار نیمګړے پرېږدی
ستا په ښکارزنو سترګو خدائے خبر چې څه شوی دی
هغه زاړه کاته یې نشته ښکار نیمګړے پرېږدی
ریباره! تا سر په څنګون ګوته په خله چې وینم
زما د لاس ګوتې د ګلو هار نیمګړے پرېږدی
عثمانه! خدائے دې ورله عقل، سوچ او فکر ورکړی
چې ستا غزل د خپل رباب په تار نیمګړے پرېږدی

# تول جوک

ګرانه او محترم مدیر صیب!
سلامونه! کله چې افغان جهاد تېر شوی و، یو ملګري ماته د پښتو نظمونو او غزلو یو کتاب د مطالعې دپاره راکړو. د کتاب نوم څه داسې ؤ، «وینې بهیږي سېرلي به راشي» جهاد وشو، د افغانستان له روس ووتو. د افغانانو وینه تویې شوه. خو سپرلی رانغلو. جهاد هیڅ مېوه رانه وړه، سپرلی هم رانغلو او د سپرلي په ځائې طالبان راغلل چا چې توله نړۍ کښې افغانان بد نام کړل. دې کښې څه شک نشته که چرې د ۹/۱۱ پېښه نه وې شوې، نن به د افغانستان بادشاه اسامه بن لادن ؤ. او دا امکان لا ختم شوی نه دی، ځکه چې نن هم طالبان د اسلام او مذهب په نوم د خپل پاک هېواد افغانستان سودا کولو ته تیار ناست دي. دا ټولې د درد او غم خبرې دي.
وړاندې ورځو کښې د سرحد د غېرو انتخاباتو کښې د ایم ایم اې ملایان خرڅ شو، چې څوک اذانونه کوي، د تهجد لمونځونه کوي، سوچه رېږې ساتي او سحر او ماښام خلک د الله تعالی د عذاب نه یروي، هغوی خپل ضمیر خرڅ کړو، د خپلو ایماندارو او دیانتدارو سودا یې وکړه. او د پښتونخوا پښتانه او ملایان صاحبان یې وشرمول.
د نن اخبارونو کښې یو بل د غم او خفګان خبر دی. خیبر ایجنسي کښې د څه مودې راسې مفتي منیر شاکر او پیر سیف الرحمان پخپلو کښې د مذهب په نوم یو بل ته ښکر اړم کړې. د ننني خبر مطابق د منیر شاکر اسلامي لشکر د سیف الرحمن په مرستیالو حمله کښې دوه ویشت کسان وژلي دي، بره وزیرستان کښې اور لګېدلی دی. او داسې ښکاري چې د مذهب او اسلام په نوم بربادي د پښتون اولس مقدر جوړ شوی دی.
زه د څه مودې راسې د دواړو مذهبي پاګلانو تر مېنځه د جنګ جګړې خبرونه لولم. کله جرګې مرکې کېږي او کله حکومتي واکداران یې تر مېنځه راځي. زما خپل شک دا دی، چې سرکاري ایجنسي په خیبر ایجنسي اور لګولی دی. سرکاري خلک په دې غرض دې اور ته هوا ورکوي، چې د پښتون وینه تویېږي. د یو بل د لاسه او داسې به ملک مستحکم شي او یو بل سېرلي به راشي
زه له پوښتیم چې د پښتون په خاوره کومه لوبه روانه ده؟ ددې مقصد څه دی؟ او دا ډرامه به څنګه ختمیږي
ګرانه مدیر صیب! چې کله هم زه د سرکار له اړخه داسې بیان ولولم چې هیڅ چا ته قانون لاس کښې د اخستو اجازت نشي ورکولی. ورانکارو ته به سزا ورکولی شي. او پولیټیکل ایجنټ ته هدایت شوی چې سخت اقدامات وکړي. نو ماته زړه وایي چې په کرس کرس اوخاندم خو چې خاندم نو په ژړا شم، ژړا په خندا زوراوره شي. ځکه چې نن پښتون به بدو حالاتو کښې ګیر دی. او چې د دوی په تن بدن چا اور لګولی ؤ، هغه لا مړ نه دی. پښتون ته د مسیحا ضرورت دی. د غیر معمولي قیادت ضرورت دی، وخت لګیا دی. مونږ خرابوي او د پښتون دښمن ښه توانا دی د مذهب او اسلام په نوم به تر څو د پښتون وینه بهیږي؟ تر څو به سپرلي په دې شرط راځي، چې د پښتون وینه به بهیږي. ملایان د جنت په لټون کښې دي، زه وایم چې هسې نه الله تعالی ټول افغانان د ملایانو صاحبانو او طالبانو دلاسه نېغ په نېغه دوزخ ته ور سم کړي. د کولو دپاره ډېرې خبرې دي. خو څه څه به وایو او چاته به یې ووایو. ډېره ډېره مننه
ستاسو رور غني خټک اسلام اباد

---

قدرمن مشره!

سلامونه! «پښتون»، د اپریل میاشتنی مجله زمونږ تر کوره راورسیده. زه په ډیر امید سره هره میاشت «لیکوال» او «پښتون» ته لکه د روژه دارو ساعتونه شمارم. ځکه چې د پښتون مجلې د دوباره شروع کولو زیرے مونږ ډیر مخکښې اورېدلے ؤ. او الحمدالله شروع هم شوه. د اپریل د میاشتې په مجله کښې مې د خپل کلی مولانا عبدالوهاب صیب چې مونږ ورته ډاکټر بابا وئیل د «اخبار ضرورت» د سترګو د وړاندې شو. دغه لیک مونږه د ډاکټر بابا په ذاتی لائبریری کښې لوستے هم ؤ. خو بیا هم د ۱۹۳۹ء لیک د یوې صدی نه د بلې صدی پورې یو مزل او دغه لیک نن ۲۰۰۲ء کښې یو خلې بیا هم په هغه ضرورت محسوسېدل که معجزه نه ده نو الهام دے. چې ډیر مخکښې شوے ؤ. خو پوره نه دے

خدائے بخښلے باچاخان زمونږ کلی ته ډیر خلې راغلے دے. زمونږ مشران اوس هم هغه خبرې کوی. او ستایی، ټول پښتانه به یې په یو وړ دننه را یو ځائے کړل. اورېدلی مو دی. چې بابا جامې په ترخ کښې نیولې وې. چې زمونږ د کلی د طورزو محله په جماعت کښې شپه سبا کړه. دغه شان دګل دادخېلو حجرې کښې یې سحر پښتانه راجمع کړل. او په دغه نیت چې دوی څه د خوراک خاص انتظام اونکړی. د غرمې تر وخته به یې کښېنولی وو. بیا به د ډوډۍ وقفه شوه. نو بابا به ووئیل چې څه تیار وی نو را یې وړئ. نور څه انتظام کولو ته ضرورت نشته.

د پرنګی سامراج خلاف زمونږ په کلی لکه د نورې پښتونخوا عملی جهاد فی سبیل الله هم شوے دے. دغه هر څه ښکاره او سینه په سینه مونږ ته رارسېدلی دی.
ډاکټر بابا عبدالوهاب صیب هم یو زیرک او لوستے انسان ؤ. د هغه په هاغه وخت سره یوه مختصره سفرنامه هم شته چې «زما د حج سفر» په نامه یادیږی.

هغوی به ووئیل که قبر ته د نور څه د وړو اجازت وے. نو ما به «پښتون» رسالې وړې وے. هغه رسالې محفوظ وې او تر ناسو در ورسېدې

زه د هغه ټولو ملګرو مننه ادا کوم. او په خاصه د ډاکټر بابا د زامنو چې دا بهترین مواد یې تر اوسه ساتلی وو پښتانه رښتیا وایی «سل دې ومره یو دې مه مره». ډاکټر بابا نن بیا په یوې نوې صدی کښې د خپل لیک او لوست سره د مخلص کېدو یقین او اواز راکړو. نن مونږ یوه نوې جذبه موندلې ده. او په فخر سره وئیلے شو. چې مونږ د مردان ضلع صرف غریز خلک نه یو. مونږه پرون هم د قلم ضرورت محسوس کړے دے. او دغه جنګ مو کړے دے. او نن هم هغه جنګ لا مونږ جاری ساتلے دے مونږ له پرون باچاخان د لارښوونې دپاره راغلے ؤ. او لکه د ډاکټر بابا په شان یې بلا د هر مېدان شاهسوار پیدا کړی دی. او نن هم زمونږ حجرې ستاسو په شان درنو مشرانو ته سترګې په لار وی. زمونږ حجرې پرون باچاخان په یو فکر او جدوجهد ژوندۍ ساتلې وې. نن ستاسو مشرانو برکت دے. چې نن پکښې بلا خلانده غمی په نظر راځی. کوم چې هم هغه درد لری. کوم چې پرون ډاکټر بابا عبدالوهاب صیب د اخبار په ضرورت محسوس کړے ؤ.

په اخر کښې زه ستاسو مننه ادا کوم، چې د پښتون قام په درې سترو مشرانو او لیکوالو کښې زمونږ د ډاکټر بابا لیک راوستل او هغې له د یوې نوې صدی تاریخ ورکول زمونږ دپاره د فخر خبره ده. الله دې د ډاکټر بابا لیدلی خوبونه ریښتیا کړی، او زمونږ دپاره دې د نوی ژوند د کرامۍ لارې رڼا وګرځوی. امین

سر په داؤ تړلے شم د تش زړه جوار ګر نه یم
مینه مې د ے ژوند د ښائستونو سوداګر نه یم
سوز مې د ے په فن کښې د عاشق، ویر د غلام نه د ے
زه به یم ملنګ ددې کوڅو، خو ګداګر نه یم

ستاسو کشر فرمان بایزو خرکی



د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت لخوا د اجمل خټک
د اتیایمې کلیزې د نمانځنې د سمینار تصویرونه







# PAKHTOON



# باچاخان مرکز پېښور



Publication Cell Baacha Khan Trust